SAMIM ADABI TOLANA
صمیم ادبي ټولنه

# پښتو غونډله پوهه
## (نحو)

لیکوالان
پوهنیار جانداد الکوزی
او پوهنمل محمد آقا شیرزاد

AghaLibrary.com

# پښتو غونډله پوهه
# (نحوه)

ليکوال: پوهنيارجانداد الکوزی د لغمان ښوونکو دروزنې عالي موسسې استاد او پوهنمل محمد آقا شېرزاد د کابل ښوونې او روزنې پوهنتون استاد

1385 لمريزکال

بسم الله الرحمن الرحيم

**د کتاب ځانګړنې**

---


نوم پښتو غونډله پوهه
(نحوه)

ليکوالان پوهنيار جانداد الکوزی او پوهنمل
محمد آقا شيرزاد

خپرندوی                                   صمیم ادبي ټولنه
چاپچارې                                   صمیم خپرندویه ټولنه
کمپیوز او ډیزاین                           رفیع الله (ستانکزی)
کمپیوټر چارې                              رفیع الله (ستانکزی)
چاپ شمیر                                  1000 ټوکه
چاپ کال                                   1386 لمریز کال
لړ                                        5
ګرځنده ټلیفون شمېره: 0700383798 , 0799883813 او 0700308908
برېښنالیک پته: samimadabitolana@gmail.com
rafiullah.stanikzai@gmail.com

د ترلاسه کولو ځایونه:
کابل: چنار کتاب پلورنځی، د کابل ښپه غالې ته مخامخ د ده بوري سړک
پښتونخوا پېښور: دانش کتابتون او یونیورسټي بک.
لوی کندهار: ارګ بازار، سید احمد قانع
لوی ننګرهار: عبدالمجید مومند کتاب پلورنځی او ګودر کتاب پلورنځی

Download From: AghaLibrary.com

لویه پکتیا: الفتاح کتاب
پلورنځی، ګردیز.
خوست: روهي کتابتون، سردار
ولي. سپین جومات ته ېرمه.
کوټه: ایمان کتاب
پلورنځی او صحاف کتاب پلورنځی
میدان وردګ:
قاري امین اللّه
لوګر: رفیع اللّه
ستانګزی0700308908
بغلان:
شمس کتاب پلورنځی
مزار شریف: رسالت
کتاب پلورنځی
کندز: قاري نوراللّه
کتاب پلورنځی
هرات: احمد شاه
ابدالي کتاب پلورنځی

**لړلیک**

سرلیکونه
سریزه
پښتو غونډله پوهه (نحوه)
۱ـ دغونډله پوهې تعریف او پیژندنه
۲ـ د غونډله پوهې اړیکي د تشریحي ژبپوهنې له نورو څانګو سره
۳ـ د غونډله پوهې واحدونه یا برخې او اجزاوې

Download From: AghaLibrary.com

۴ـ عبارت
۵ـ د عبارت خصوصیات اوځان تیاوې
۶ـ د عبارت ډولونه
۷ـ د غونډ او ترکیب ځان تیاوې
۸ـ دتیر بحث پوښتنې
۹ـ غونډله (جمله )
۱۰ـ دغونډلې ځان تیاوې
۱۱ـ د تیر بحث پوښتنې
۱۲ـ په غونډله کې د مورفیمونو ترمینځ اړیکي
۱۳ـ دغونډلو تر مینځ دمورفیمونو اړیکو ډولونه (عطفی ، تابعي، ملتیا او تړني) اړیکي
۱۴ـ دتیر بحث پوښتنې
۱۵ـ دغونډلې برخې او اجزاوې
۱۶ـ دغونډلو او جملو اساسي اجزاوې
لومړی: مبتدا اوډولونه ئې
(په نوم ، ضمیر، معدود او معدودي عبارت او دکلام په نورو برخو سره مبتدا )
۱۷ـ ساده ، ترکیبي او متعدد مبتدا
۱۸ـ په غونډله کې دمبتدا ځای
۱۹ـ د تیر بحث پوښتنې
دوهم - خبر
۲۰ـ اسمي او فعلي خبر
۲۱ـ نومیز اسمي خبر او ډولونه ئې
(نوم ، ستای نوم ،اونومځری دنومیز خبر په توګه
۲۲ـ ساده ،ترکیبي او متعددخبر
۲۳ـ تفضلي خبر
۲۴ـ په غونډله کې دخبر ځای
۲۵ـ په جمله کې له مبتدا سره د خبر سمون
۲۶ـ دتیر بحث پوښتنې
۲۷ـ دغونډلې پیروې برخې

Download From: AghaLibrary.com

۲۸ـ بشپړوونکی او ډولونه ىې
۲۹ـ ټاکونکې او ډولونه ىې
۳۰ـ نحوي قيد او ډولونه ىې
۳۱ـ متعدد قيدونه
۳۲ـ په غونډله کې د نحوي قيد ځاى
۳۳ـ د غونډلې بشپړ اند توکونه
۳۴ـ په ِغونډله کې څپه ،خج او آهنګ
۳۵ـ بيلتون او پيوستون
۳۶ـ د تير بحث پوښتنې
۳۷ـ نومواله او کړواله غونډله
۳۸ـ د ساده اويوستوې غونډلې مانيز ډولونه
لومړى:- بيانې ساده غونډله
دوهمه :ـ انشايي ساده غونډله او ډولونه ىې
(پوښتنې، امر ، خطاب ، تعجب ، تمنايي ، قسميه ، دوعايه ، ټينګاري ، ګماني يا احتمالي غونډله )
۳۹ـ دتير بحث پوښتنې
۴۰ـ دغونډلې جوليز ډولونه
لومړى.:- ساده غونډله او ډولونه ىې
۴۱ـ دتير بحث پوښتنې
دوهم : غبرګه (مرکبه ) غونډله اوډولونه
۴۲ـ دتير بحث پوښتنې
دريم :ـ ه ( آميخته) غونډله
څلورم له (مختلطه) غونډله
۴۳ـ د پورته بحث پوښتنې
۴۴ـ اصطلاحات او متلونه
۴۵ـ دجملو او غونډلو تجزيه او تحليل
۴۶ـ دتير بحث پوښتنې

Download From: AghaLibrary.com

**سریزه:**

که څه هم د پښتو ژبې د غونډله پوهې لپاره له ډیرې وړاندې زمانې نه را پدایخوا زمونږ د ژبې ګرامر لیکونکو او پوهانو ښایسته ډیرکار کړیدی او هرهر چا د خپل توان او پوهې په معیار په دې برخه کې لیکلي اثارددې مینه والو ته وړاندې کړیدي.

د پیرمحمد کاکړ دمعرفه الافغاني څخه نیولې بیا تر ننه پورې په سوونو لیکلي اثار د لوستونکو خدمت ته وړاندې شوي دي خو هغه ګرامري لیکنې چې دخپلوعلمي ارزښتونو له مخې نه هیریدونکي او تلپاتې دي دلته ی‌ې په لنډیز سره د ځینو یادونه کوو.

۱ـ د پښتو ژبې لیار کتاب چې ښاغلي اروابښاد وزیرمحمد ګل خان مومند په ۱۳۱۷ کال کې لیکلی او دپښتوصرف او نحوی‌ې په اړه په زړه پورې څېړنې لري .

۲ـ د پښتو نحوه : کتاب چې ښاغلي محمد اعظم ایازي په ۱۳۲۷ ه ش کال کې لیکلی او دکابل په عمومي مطبعه کې چاپ شویدی . دا اثر دنحوې په باب پور څېړنه لري او په زړه پورې ه ترې اخستل کیدای شې.

۳ـ قواعد پښتو دهمدې محمد اعظم ایازي یو بل لیکلی کتاب دی چې په ۱۳۱۸ ه ش کال کې لیکل شویدی.

۴ـ د پښتو صرف ونحو: دسید خیال بخاري اثر دی چې په ۱۹۸۳ م کال کې په پښتورکې چاپ شوی دی او د صرف ونحوې په باب پوره پوره څېړنې پکې شویدي.

Download From: AghaLibrary.com

۵ـ ژبښودنه : د ارواښاد پوهاند صدیق الله رښتین اثر دی چې په ۱۳۴۱ه ش کال کې د پښتو ټولنې له خوا خپور شوی دی . دا هم د خپل وخت علمي اثر او پوره پوره معلومات لري حتی اوس هم د یو علمي ماخذ په بڼه په درسي مکتبي کتابونو کې ترې کار اخیستل کیږی.

۶ـ پښتو پښویه : په نوم ښاغلي پوهاند دوکتور مجاوراحمد زیار په ۱۳۶۲ کال کې یو داسې کتاب دکابل پوهنتون له خوا په چاپ رسولی چې ددې علمي ارزښت دومره زیات دی چې په روانه پیړۍ کې ساری نه لیدل کېږي او د پښتنو لپاره یوه ستره او ارزښتمنه ذخیره بلل کیږي.

۷ـ پښتو داووم ، اتم او نهم ټولګی لپاره درسي کتابونه دي چې د (۱۳۶۰)څخه تر (۱۳۶۸) ه ش کال پورې دافغانستان دمعارف له خوا په چاپ رسیدلي او د پښتو صرف ونحوې پوره پوره څېړنه ورکې شویده .

۸ـ پښتو نحوه : دآغلې پوهندوې ډاکترزرغونې اثر دی چې د کابل پوهنتون له خوا په چاپ رسیدلی دا کتاب په ۱۳۶۶ ه ش کال کښې لیکل شویدی اود پښتو نحوې په باب پوره اوکره څېړنه لري آو ښه معلومات پکې راټول شویدي .

۹ـ ګرامر پښتوجز دوم: د پوهاند صدیق الله رښتین یو بل اثر دی چې په (۱۳۷۰) کال په کابل کې خپور شوی. دا اثر هم د صرف ونحوې په باب پوره څېړنه لري او دیو ښه مآخذ په ډول ترې کار اخیستل کیدای شي .

۱۰ـ هغه متفرقه څېړنې چې دصرف ونحوې په باب په وږمې مجله او کابل مجله کې خپریدو ته سپارل شوې او نن سبا د علمي مآخذونو په ډول ترې کار اخیستل کیدای شي .

۱۱ـ د پښتو ژبې لنډ ګرامر(صرف ونحو): د ښاغلی څېړونکی سید محی الدین هاشمي لیکنه ده چې په ۱۳۸۳ ه ش کال کې دا کتاب د آریک ګرځنده کتابتونونو دادارې له خوا خپور شوی او د پښتو صرف ونحوې په اړوند پوره څېړنه لري او یو علمي ارزښتمن اثر دی.

Download From: AghaLibrary.com

۱۲ـ ځینې نورې لیکنې د بهرنیو پوهانو له خواو هم شویدي خو دلته یادونه دومره اړینه نه برېښي نو ځکه مو ترې صرف نظر وکړ.

دا وو هغه لیکلي اثار چې د پښتو دغونډله پوهې په اړوند له هغوې څخه پوره کار اخیستل شویدی .

د پښتو غونډله پوهې دا لیکلنی بې له کوم فصل او باب نه څېړل شوی څرنګه چې داد یو درسي پروګرام لپاره لیکل شوی او دښوونې او روزنې پوهنتون پښتو ژبې او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې په دریم سیمستر کې تدریس کېږي نو ځکه ی‌ې په لیکنه کې داړتیا وړ مفاهیم او ټاکلي درسي مفردات په نظر کې نیول شوي دي او کوښښ شوی چې یوازې په هغو موضوعاتو څېړنه وشي چې د پښتو څانګې محصلین ورته ضرورت لري او په یوه ټاکلي سمستر کې دهغې دتدریس امکان وی .

دې ټکي ته په پاملرنه په دې اثر کې لومړی دغونډلې پوهې پیژندنه شوې اوددې علم اړیکي د تشریحي ژبپوهنې دنورو څانګو سره جوتې شوي دي . د عبارت او ترکیب ځانګړتیاوې په ګوته شوي او هم په غونډله کې د مورفیمونو ترمینځ اړیکې څرګندې شوې دي .

دویم د جملې په اساسي برخو اوددې برخو په موقیعتونو او همدارنګه د جملې پیروي برخې څېړل شوي دي .

دریم : د جوړښت ساختمان او مانا له مخې د جملې په ډولونو باندې بحث شوی.

څلورم: داړوندتیا په صورت کې اصطلاحات اومتلونه د اړتیا له مخې څېړل شوې دي او په پای کې د محصلینو د لاښې پوهیدنې لپاره د جملې تجزیې ته ځای ورکړل شوی او دهرې برخې پوښتنې د هغې برخې په پای کې راوړل شوي دي .

موږ په دې باور یو که دپښتو څانګې محصلین او پښتو ژبې مینه وال پورته ذکرشوومطالبو له تدریس نه لازمه ګټه واخلي نو په اړوندې برخې کې به دلازمو وړتیاو درلودونکي شي.

Download From: AghaLibrary.com

په درنښت
پوهنمل محمد آقا (شېرزاد)

## پښتو غونډله پوهه (Syntax)

د غونډله پوهې (نحو) تعریف او پیژندنه :

غونډله پوهه پښتو اونحو عربې کلمه یا اصطلاح ده چې لغوې مانا ئې لار ، طریقه ، روش ، دود او طرز ده . مګر دتشریحي ژبپوهنې یا ګرامري مانا له مخې غونډله پوهه یا نحوه د ګرامر هغه برخه ده چې په جمله کې د کلیمو دمطابقت ، ارتباط ، ترتیب اوترکیب څخه غږیږي .

او یا په بل عبارت نحوه هغه پوهنې ته وایی چې د یوې ژبې د جملو ،عبارتونو، غونډونو (ترکیبونو) جوړښت ، ترتیب ، تنظیم او جوړښتي نظام تر څېړنې لاندې نیسي.

داچې په پښتو ژبه کې غونډله پوهه د عربي ژبې دنحوې او دانګلیسي ژبې له سنټکس سره په یوه ټاکلي ګرامري مفهوم او مانا استعمالیږي نو که دا اصطلاح دیوناني ژبې دسنټیسس داصطلاح سره پرتله کړو نوګوروچې په دواړو کلیمو کې یوه ه رېښه پرته ده یعنې د سنټ(Synt) برخه په دواړوکې شریکه ده چې دترکیب ، یوځای کیدو او ون په مانا راتلای شې.

نو څنګه چې (Synthesis) د برخو داجزاو دترکیب په مانا دی نو ( Syntax) هم دژبني ترکیب په مانا ترجمه یا ژباړل کیدای شي .

په همدې اساس ویلای شو چې په نحوې سیستم کې دنحوې واحدونو او دهغوی د مربوطه اجزاووڅخه بحث کیږي او

Download From: AghaLibrary.com

دهمدغونحوي واحدونو تجزيه ،ترکيب ،ترتيب او څرنګوالی نحو بلل کیږي .

**دغونډله پوهې اړيکې د تشريحي ژبپوهنې يا د ګرامر له نورو څانګوسره :**

غونډله پوهه د خپلې څېړنې په وخت کې دتشريحي ژبپوهنې دنورو څانګو سره سمې اړيکې لري . ځکه چې دژبې مورفولوژيکي جوړښتونه تر ډيره ممکنه ځايه پورې د نحوي نظم جوړښت اوترتيب سره ځان ې او ټاکلې دنده لري.

سربيره پردې هغه مانا لرونکي عناصر چې عبارتونه اوجملې جوړوي په واقيعت کې همدغه مورفيمونه دي چې ديوې ژبې په ګرامري جوړښت کې ستره ونډه اخلي.بله داچې دنحوي واحدونو تجزيه ، ترکيب او ترتيب دګرامر په نورو برخو کې لکه په مورفولوژي، اشتقاق پوهنه او لغت پوهنه کې هم تر څېړنې لاندې نيول کې ي خو هغوی لفظي واحدونه د غونډله پوهې او نحوې په سيستم تر څېړنې لاندې نه نيسي او نه يوا ې لفظي واحدونه د جملې او يا غونډلې کامل او بشپړ مفهوم افاده کولای شي .

همدلته ده چې د ګرامري مختلفو پوهنو ترمينځ ځينې مشابهتونه او ورته والی ليدل کیږي خوهره پوهنه دخپلې تيوري داساساتو له مخې موضوع څېړي نوځکه د نژديوالي سره سره دموضوعاتو بيلوالی هم لري .

يعنې په غونډله پوهه کې يوا ې د جملو ترکيب ، تجزيه ، جوړښت او د جوړښت سيستم مطالعه کیږي او په مورفولوژي او اشتقاق پوهنه کې لفظي جوړښتونه په نظر کې وي.

لکه چې دمخه مو هم وويل غونډله پوهه (Syntax) هغه علم ته وای‌ې چې مونږ ته دجملې او غونډلې د جوړولو قاعدې او د هغې اجزاو ترتيب اودکليموترمينځ رابطه يود بل سره راښيي.

د ژبې په ګرامري مطالعه کې دالفاظو مانا او لفظي جوړښت دواړه په نظرکې نيول کې ي يعنې څنګه چې الفاظ دمفاهيمو دبيان لپاره کارول کیږي نوکه چيرې دلفظ مفهموم په

په ګرامري شرحه کې له نظره وغورځول شې ګرامري شرحه دبې مانا غږونوپه شرحه بدلیږي او که چیرې یوا ې دالفاظو مفهموم شرحه شې اونور بدلونونه اولفظي ځان تیاوې له نظره وغورځول شې نو څنګه چې دمفاهیمو بدلون او تغیر دکلیمو دلفظي او اشتقاقي تغیرونو معلول دی نو پدې پرته دعلت او یا پرته دمعلول څخه څه نتیجه نه تر لاسه کیږي .ددې خبرو په پای کې داسې نتیجه اخیستلای شو :

دنړۍ په ژبو کې هره ژبه په خپل وار که له یوې خوا د ژبپوهنې په نسبت ځینې ګرامري خصوصیات لري ولې له بله پلوه ځان ي او شخصي خصوصیات هم لري چې دهرې ژبې په سټرکچر او جوړښت پورې اړه لري، خوداچې په پښتو ژبه کې دصرف ونحوې د څېړنې موضوعات سره بیل دي نوځکه جلاجلا څېړل کیږي اودڅېړنې موضوعات یی هم سره جلا دې اوهره برخه پ بیلو اصولو اوقواعدو څېړل کیږي .

**دغونډله پوهې واحدونه یا برخې او اجزاوې :**

دغونډله پوهې دواحدونو تر څېړنې دمخه به هغو واحدونو باندې خبرې وکړو کوم چې دهغو په اړوند د ژبپوهانو او ګرامرپیژندونکو تر مینځ د نظرونو اختلاف موجود دی اود پښتو اودري ژبو ګرامر لیکونکو هغه په ډول ډول نومونو یاد کړیدي.دساري په ډول ترکیب، فقرې، تګمیم، اصطلاحات اومتلونه ځینو ګرامر لیکونکو عبارت اوترکیب د یو نحوي واحد په توګه تر څېړنې لاندې نیولي او ځینو دعبارت برخه بیله اویا خوسره په خپلو ګرامرونو کې رواړي نه دي او ځیني داسې څېړنې هم شته چې هغوی دعبارت واحد هم د ترکیب تر عنوان لاندې څېړلی دی .

همدارنګه دفقرې په باب چې کومې څېړنې شوې له هغو ی څخه په ډاګه دامعلومیږي چې دوی مرکبه یا غبرګه جمله تر بحث لاندې نیولې چې بیای یوه برخه اساسي او بله تابع جملې په شان ښودلې اودفقرې نوم یې پرې ایښی دی .

همدغه ډول د (تګمم،اصطلاحاتو، متلونو اودجملو د حذف د برخې ) څېړنه په ډېره ستونزمنه توګه څېړل شوې اوکوم مثالونه اونمونې چې په دې برخه کې وړاندې شوې هغه هم اوږد او تفصیلي بحث غواړي . ځکه چې له یوې خوازمونږ ګرامرونه زیاتره په عنعنوي څېړونو ولاړ دي او له بلې خوا دتقلید په بڼه څېړل شوي دي .

دا ډول موضوعات نه یوا ې په غونډله پوهه یا نحو کې شته بلکې په فونولوژي (اوازپوهه) ،مورفولوژي(صرف یا پوهه) کې هم شته لکه په فونولوژي کې د (غږ اوآواز ) ،او نیم وال (سیمی واول) آوازونه چې ځینې ګرامر پوهان ېې کانسونینټ یا بیواکو اوازونو کې شمیري .

په مورفولوژي کې هم همدا ډول د یادونې وړ بحثونه شته د مثال په توګه د (صوت نوم) اود (قیدونو) موضوع چې داهم د غوروړ دي .

په هرصورت له دې یادونې څخه مو هدف داو چې لومړۍ خو باید زیار وایستل شي چې د ګرامر هره برخه په خپل چوکات کې وڅېړل شې یعنې هغه څه چې په فونولوژي پورې اړه لري د بیل ې په ډول دآواز ،توري او په اواز پورې تړلې ټولې څېړنې په فونولوژې کې راشي او دموضوعاتو لپاره دې حدود وټاکل شي.

هغه څه چې دمورفولوژي په علم پورې اړه لري هغه دې دهمدغه برخې لاندې راشي او په هغوواحدونودې خبرې وشي چې په مورفولوژي پورې اړوندېږي دابه سمه خبره نه وي چې (مرکبې کلیمي یا مرکب مورفیمونه ) په نحوه کې دوهم ځل تر بحث لاندي راشي دا اړینه او سمه خبره ده چې همدا مورفیمونه اوکلمې په مورفولوژي کې هم څېړل کېږي او په غونډله پوهه کې په جملو ،عبارتونو اونورو واحدونو کې هم همدا مورفیمونه اوکلیمي راځي خو په مورفولوژي کې دهمدغو مورفیمونو یو اړخ او په غونډله پوهه کې دهمدې مورفیمونوبل

اړخ په نظر کې وي او په پورته هره برخه کې ددوی دندې اود څېړنې طریقې ، دهغوی تحلیل اود بحث لارې بیلې دي .
دابه نادره وي چې د جملې، عبارت اوترکیب تر عنوان لاندې مونږ فقرې (Clause) همدرانګه متلونه اواصطلاحات هم راوړو. پوهاند دوکتور مجاوراحمد زیار د (پښتوسپنبوۍ) په کتاب کې دا موضوعات سره ښه جلا کړي او بیا یې هغوی ته حدود او چوکاټ ټاکلي او دغونډله پوهې د اساسي برخې څخه یې بیلې بیلې څېړلي دي چې وروسته به یې په خپل ځای اووخت کې یادونه وشي.
له پورتنۍ یادونې وروسته بیرته خپلې ټاکلې موضوع ته راګرځو او په نحوي واحدونو خپلې خبرې پیل کوو .دا چې غونډله پوهې په واحدونوکې عبارت او جمله په لومړي سرکې ځای لري نومونږ هم لومړی (عبارت ) تر څېړنې لاندې نیسو او ورپسې به په غونډله اود هغې په ډولونو او جوړښتونو رڼا اچوو او په پای کې به په متلونو او اصطلاحاتو څېړنه وکړو.

## عبارت (Phrase)

ځینو ګرامر پوهانو عبارت ،غونډله او ترکیب دیو نحوې واحد په توګه تر څېړنې لاندې نیولی خو زما په اند دا واحدونه تر یوعنوان لاندې څېړل یو څه ستونزې را پیداکوي او دمثالونو په وړاندې کولو کې لږه ه وډې مینځ ته راځي. ښه به دا وي چې د عبارت نحوي واحد له پورته نورو نحوي واحدونو څخه جلا وڅېړو .
په پښتو ژبه یا نورو هغه ژبوکې چې له پښتوسره همریښه دي ځینې داسې خپلواک مورفیمونه او کلیمې شته چې داړیکو په لرلو یوله بله سره یوځای کیږي او په توليز ډول یوه ترکیبي بڼه پیدا کوي .
خو ددې خپلواکو مورفیمونو دا یوځای والی او ون د جملو او غونډلو په ډول پوره مانا او مفهوم نه لري او دغونډلې په ډول

بشپړ مطلب او مفهوم لوستونکو یا اوریدونکو ته ورانتقالولای شي. نو دهمدغه اصل او بنسټ له مخې د ژبې پوهان عبارت داسې راپیژني :

ددوه یا زیاتو خپلواکو مورفیمونو داسې یو ځای کیدنه چې پوره مانا ورنه کړي او یو مورفیم یې د بل تابع وګرځي عبارت بلل کیږي .یا په بله وینا ددوه یا زیاتو خپلواکو مورفیمونو داسې یو ځای کیدل چې نحوي رابطه سره ولري خو مورفیمونه یې یو بل ته تابع او بشپړ مفهوم نه ورکوي عبارت بلل کیږي .دعبارت د پیژندنې لپاره لاندې څو مثالونه راوړو :

خړه وریځ ، دسرک غاړه ، پنځه کتابچې ، روغ بدن ، او داسې نور ...

په پورته عبارتونوکې (وریځ ، سرک ، کتابچې، بدن) کلمې نومونه او تابع کوونکي دي او د (خړه ،غاړه ، پنځه ، روغ) کلمې تابع شوي کلمې دي چې د (خړه ، اوروغ) کلمې صفتونه ، د (غاړه )کلمه نوم اود (پنځه )کلمه عدد دی او ټولې خپلواکې کلمې دي.

**د عبارت خصوصیات او ځانګړتیاوې**

د عبارت نحوې واحد لکه د غونډلې پوهې دنورو واحدونو په ډول ځینې مشخصات او ځانګړتیاوې لري چې په لنډیز سره په لاندې ډول سره ښودل کیږي .

۱ـ عبارت د غونډلې دیو جز یا یوي برخې په ډول راځي اود غونډلې په ډول پوره مانا نه افاده کوي که چیري وغواړو چې پوره مانا ترې واخلو نو مجبور یا اړ یو چې له دې عبارت سره دخبر یوه بله برخه ملګرې کړو تر څو پوره مانا د غونډلې په شان پیدا کړي .

د بیل ې په ډول که ووایو چې (زما کور) نو داعبارت شو ځکه چې پوره مانا او مفهوم نه ادا کوي نوکه اوس وغواړو چې له دې بشپړ مفهوم دغونډلې په شان واخلو اړیو چې دخبر برخه لکه ( ودان شو ) ورسره یو ځای کړو او په مجموع کې ووایو (زماکور

ودان شو ) نودا بشپړه جمله شوه اودواړه اساسي برخې یعنې مبتدا او خبر ئې تکمیل شول .

۲ـ په یو عبارت کې دتل لپاره یوه برخه دبلې برخې یا یوه خپلواکه کلمه دبلې خپلواکې کلمې تابع وي چې یو ئې کلمې ته تابع کوونکې اوبلی ته تابع شوې کلمه ویل کیږي نو ځکه ئې مانا او مفهوم کامل نه وي او تقریبا د یوې مرکبې کلمې حیثت غوره کوي .

دبیل ې په ډول (د کابل مړې) عبارت . په دې عبارت کې ګورو چې د (مړې) کلمه د (د) د اضافت په واسطه د (کابل) دکلمې تابع شوې چې (کابل) تابع کوونکې کلمه او (مړې) کلمه تابع شوې کلمه ده .

۳ـ عبارت د کلمې په نسبت لوی او د جملې په نسبت نیم ی او کوچنې وي . اودا ځکه چې له یوې خواله دوه خپلواکو کلمو څخه جوړ وي او له بلې خوا دجملې په شان دخبرو برخه نه لري .لکه د ( زمونږ ټولګی) عبارت چې له یوې خوا دوه خپلواکې کلمې لري او له بلې خوا د جملې په ډول ئې د خبربرخه نشته .

۴ـ عبارت یا ساده بسیط وې یعنې له دوه خپلواکواومستقلو کلمو څخه جوړ وي لکه دا لاندې عبارتونه :

دغاښ برس، دوطن مینه ، نیکمرغه ژوند ، او داسې نور... او یا هم مرکب وي یعنې له دوو څخه زیاتو خپلواکو کلمو یا مورفمونو څخه جوړ وي لکه دا لاندې عبارتونه :

زما د غاښو برس ، زمونږ ګران هیواد ، دوه دلوست کتابونه او داسې نور...

همدا سبب چې د ژبې پوهانو دجوړښت له مخې په دوه برخو ویشلي چې ترتیب ئې په لاندې ګراف کې وینې :

عبارت د جوړښت له مخې

| مرکب | ساده عبارت<br>عبارت |
|---|---|
| د کابل | . کابل ار |

يو بله بيلګه ئې چې د اضافت (د) هم ونه لري داده

| مركب عبارت | ساده عبارت |
| --- | --- |
| ډير ښه سړى | ښه سړى |

د ساده او مركب عبارت د ډېرې زده کړې لپاره لوستونکي کولاى شې چې دوى پخپله له لاندې خپلواکو کلمو څخه ساده او مركب عبارتونه جوړ کړي .

مور،پلار ، وطن ، مينه ، ايمان ، غيرت ، خپلواكي ، ژوند ، كتاب ، قلم ، ګران ، زما ، هيواد ، پلورنځى ، زړه ، سړى ، ټولنه ، ژمى ، ټوكر، نيكمرغه ، زده كړه ،څوك ، بزګر، پښتو ، كور، لاس او داسې نور...

**د عبارت ډولونه**

په پښتو ژبه کې د عبارت ډولونه خورا ډير دي خو مونږ د اړتيا له مخې يوازې د هغو څو مهمو او ضروري عبارتونو يادونه کوو چې زمونږ درسي پروګرام کې ايجابوي او زمونږ دمحصلينولپاره د هغوى زده كړه ضروري او اړينه ده .

**نوميزيانوم لرونكي عبارتونه**: نوميز يا نوم لرونكي عبارتونه هغو عبارتونو ته ويل كېږي چې اساسي او عمده برخې ئې له نومونو څخه جوړه شوې وي . دا عبارتونه كيداى شي په غونډله يا جمله كې دمبتدا يا خبر په برخه کې راځي .

**نوميزعبارتونه دالاندې ډولونه لري :**

**١ـ اضافي عبارت :** اضافي عبارت كيداى شي له ددونومونو څخه جوړ وي اودا چې د اضافت (د) هم ورسره ملګرى وي نوځكه ئې اضافي عبارت بولي .په دې ډول عبارتونوكې يونوم دعنعنوي ګرامري ځېرنې له مخې مضاف اليه او بل نوم مضاف راځي اود (د) د اضافت توري په واسطه

ديوه نسبت وبل ته کېږي .لکه : د کابل ښار ، د بريالي کتاب او داسې نور .
اضافي عبارت بيا د مانا له مخې نور ډولونه لري چې خورا مهم ئې دادي :
الف ـ ملکي اضافي عبارت : په ملکي اضافي عبارت کې مضاف اليه دمضاف مالک وي اويا دمضاف اليه ملکيت د(د) په واسطه په مضاف باندي ثابتوي . دبيلګې په ډول (دتوريالي کور) په دې عبارت کې ګورو چې لومړی د اضافت توری (د)راغلی او بيا مضاف اليه (توريالی) او ورپسې مضاف (کور) واقع شويدی اود (کور) نسبت داضافت د(د) په واسطه(توريالي) ته شوی اود (توريالی) ملکيت ګرځيدلی دی .
که چيرې په ملکي اضافي عبارت کې مضاف اليه متصل ياکمزوري شخصي ضميرونه وي لکه (مې، دې،ئې)نو بيا دا ضميرونه تر خپل مضاف وروسته راځي او (د) داضافت ادات بيا ورسره نه راځي . لکه :( کتاب مې ، کتاب دې، کتاب ئې ) اوداسې نور.
**ب ـ اختصاصي اضافي عبارت** : په اختصاصي اضافي عبارت کې مضاف ،مضاف اليه ته مختص شوی وي .لکه پدې لاندې عبارتونو کې:
دسرک غاړه ، دګلو باغ ، د کور دروازه او داسې نور...
په پورتنيو عبارتونوکې ګورو چې د (سرک ،ګل ، کور) کلمي هم نومونه او مضاف اليه واقع شوي دي اود(غاړه ، باغ ، دروازه ) کلمي هم نومونه او مضاف په ډول راغلي دي . (د) داضافت توری اود( غاړه، باغ ، دروازه ) کلمې يانومونه چې مضاف راغلي ومضاف اليه ته مختص شوي .
**ج ـ بياني اضافي عبارت :** په بياني اضافي عبارت کې مضاف د مضاف اليه له جنس څخه وي يعني يوشی د خپلې مادې وخواته منسوب شوی وي ، يعني په بياني اضافي عبارت کې مضاف اليه او مضاف دواړه له يو جنس څخه وي .لکه په دې لاندې عبارتونو کې :

داوسپنې سيخ، طلايي ګوته ، ورېښمين ټوکر اوداسي نور.

په پورته عبارتونوکې ګورو چې (اوسپنه ، طلا ، ورېښم ) کلمې نومونه دي او مضاف اليه راغلي دي اود (سيخ ، ګوته ، ټوکر ) کلمې هم نومونه دي اود مضاف په ډول راغلي دي ،چې له يوې خوا مضاف اليه او مضاف له يو جنس څخه دي اود بلې خوا دمضاف کلمې د مضاف اليه په وسيله بيان شويدي .

**د۔ تشبيهي اضافي عبارت** : په تشبيهي اضافي عبارت کې مضاف اليه دمضاف سره تشبيه شوی وي .لکه : پدې لاندې عبارتونوکې :

دزړه تخت ، دبڼو غيشی اوداسې نور.

په پورتنی لومړی عبارت کې د (زړه ،بڼو) کلمې مضاف اليه اومشبه واقع شويدي اود (تخت ،غشي ) کلمې مشبه به په دول راغلي دي اودا عبارتونه بې له تشبه له توري څخه يو له بل سره تشبه شوي اودتشبه توري ته پکې کومه اړتيا تشبه خو وجه شبه ددوی په منځ کې شته خو دا بايد له ياده ونه باسو چې کله کله په تشبيهي اضافي عبارت کې د تشبيه توري هم رتلای شي لکه پدې لاندې عبارتونو کې :

د صدف په شان غاښونه ، د نرګس غوندې ستر ې، د لعل په شان شونډې اوداسې نور.

چې په لومړي عبارت کې (په شان ) په دوهم عبارت کې (غوندې ) په دريم عبارت کې هم (په شان ) د شبه توري دي او وجه شبه هم لري.

**هـ ۔ استعاري يا مجازي اضافي عبارت** :

پدې ډول عبارت کې دمضاف اليه او مضاف ترمينځ رښتينی اړوندتوب (حقيقي تعلق) موجود نه وي بلکي مجازي تعلق د زړه ستر ې ، د خيال وزري ، اوداسي نور.

چې په پورته عبارتونوکې (زړه ، خيال ) مستعاراومضاف اليه واقع شويدي او (ستر ې، وزرې) مستعارمنه او مضاف په ډول راغلې دي .

**یادونه** : دنوی ګرامري تیورۍ له مخې د ا ډول عبارتونه یوازي ددوو نومونو څخه جوړشوې عبارتونه بولي اونور مسایل لکه مضاف اومضاف الیه یا په نورو مختلفو نومونو یا اصطلاحاتو نه یادول کیږي .

**۲ـ له نوم او ستاینوم څخه جوړشوی عبارت** : دا ډول عبارت له نوم او ستاینوم څخه جوړشوی وي .که : ښکلی ښار، لوړه ونه ، روښانه فضا ، اوداسې نور. چې زمونږ ژبپوهانو دا عبارت د توصیفي عبارت په نامه یاد کړیدی او په ګرامري لحاظ په دی عبارت کې لومړی صفت او بیا موصوف راځي او صفت دموصوف ځرنګوالی بیانوي .

دلته یوه خبره بله هم دیادونې وړ ده هغه داچې په دې عبارت کې صفت دنارینه ، او ینه ،یو ي او ډیر ي په لحاظ د خپل موصوف تابع وي.لکه:زوړ سړی ، زړه ه ، زاړه سړي ، زړې ې .دا عبارت هم کیدای شې کله ساده وي لکه : ( هوښیار سړی) اوکلمه هم مرکب لکه : (دزمانې هوښیار سړی ) اوداسې نور.

**۳ـ له نوم او عدد یا له نوم او شمیر نوم څخه جوړشوی عبارت** :په دې ډول عبارت کې نوم او شمیر نوم سره یوځای کیږي او په عنعنوي ګرامري اصطلاح له عدد او معدود څخه جوړشوي وي .لکه : (دوه کتابونه ، پنځم کتاب، شل سړي ، څلور ې) اوداسې نور. په پورتنیو عبارتونو کې (دوه ،پنځم ، شل ، څلور) کلمې عددونه دي او (کتابونه، کتاب ، ،سړي، ې) کلمې نومونه دي .

په دې ډول عبارت کې کیدای شي اصلي اعداد راشې لکه (لس روپۍ) او کله هم کیدای شي توصیفي یاترتیبي اعداد را شي لکه ( لسم پوړ، شلمه پیړۍ ) اونور.

**۴ـ له نوم او نومځري څخه جوړشوی عبارت** : پدې ډول عبارت کې نوم او نومځي سره یو ځای کیږي .لکه : (هغه ښار ، داسړی ، دې ې ، دې سړي ، هغه ونه ).

په پورته عبارتونو کې (هغه ، دا ، دی ، دې، هغه ) کلمې نومونه دي .چې پخوايې دا عبارت اشاري باله چې لومړی کلمې ته يې اشاره اودوهمې کلمې ته يې مشاراليه ويل چې لومړی اشاره او ورپسې د مشاراليه کلمې راتلې .

**۵ـ له نوم او فعلي ستاينوم څخه جوړشوی عبارت :** پدې ډول عبارت کې نوم او فعلي ستاينوم سره يوځای کيږي او عبارت جوړوي .لکه : (ليکلی کتاب ، ګنډلی کميس ، ليکلی مقاله ) اوداسې نور. په پورته عبارتونو کې(کتاب ، کميس ، مقاله ) نومونه دي او (ليکلی ، ګنډلی ، ليکلې) کلمې فعلي صفتونه دي . چې سره يو ځای شوی اوعبارتونه يې جوړکړيدي .

**۶ـ له نوم اومصدر څخه جوړ شوی عبارت:** پدې ډول عبارت کې نوم او مصدر سره يو ځای کيږي او بيا عبارت جوړوي.لکه : ډوډۍ پخول ، کتاب ليکل ، ډرامه کتل ، اوداسې نور .

په پورته عبارتونو کې (ډوډۍ، کتاب ، ډرامه ) کلمې نومونه دي اود (پخول ، ليکل ، کتل) کلمې مصدرونه دي .

**يادونه** : زمونږ په ډيرو پښتو ګرامرونو کې دعبارت په نامه څه نشته مونږ چې داموضوع نوی ګرامر ته ورداخلوو نو عبارتونه جلا او ترکيبونه جلا موضوعات ګرځي له سره بايد دواړو ته بريدونه وټاکل شي او اصول ورته وضع شې . بله داچې په پښتو ژبه کې هغه موضوعات چې د فرازيولوژي (Phraseology) په علم پورې اړه لري بايد شخص او ځان ې شي . بريدونه ورته وټاکل شې او بيا درڅيړل شې .

**غونډله او ترکيب ځان تياوې**

دمخه مو دعبارت په هکله بشپړې څرګندونې وکړې اودهغې له ځان تياو سر مو اشنايې پيدا کړه ، دلته به اوس دغونډ اوترکيب په ځان تياواو خصوصياتو وغږيږو تر څو د عبارت اوترکيب ترمنځ توڅو د عبارت اوترپير سره واضح او څرګند شي .

۱ـ دمخه مودعبارت په هکله ويلي وو چې له دوه خپلواکو مورفيمونو څخه جوړشوی وي لکه : زما کور ، زمونږ ګران هيواد او نور،خو ترکيب او غونډ کې کيدای شي ناخپلواک مورفيمونه هم راشي .لکه : کورته ، له پلارسره، له ښاره ، اوداسي نور .

۲ـ په عبارت کې که ساده وي يوه کلمه دبلې تابع ګرځي او که مرکب وي يوه برخه دبلې تابع کيږي،مګر په غونډ اوترکيب کې وينو چه يوه برخه بلې يا يوه کلمه بلې ته تابع شوې نه ده لکه په پورتنې ترکيب کې .

۳ـ دنحوې يا غونډله پوهې د اساساتو له مخې مرکبې کلمې يا امتزاجي ترکيبونه په عبارت کې نه شامليږي مګر زمونږ ګرامر پوهان په ترکيب کې هغه راوړي دي ،لکه: (جلال اباد ، پښتون کوټ) کلمې.

۴ـ په عبارت کې معاون فعلونه په خپلواکو کلمو کې نه حسابيږې ولې زمونږ ګرامر پوهانو هغه په ترکيبونو کې راوړې دي؛ لکه : انسان يم ، او داسې نور .

۵ـ تکراري کلمي يا مورفيمونه عبارت نه بلل کيږي مګر په ترکيب کې راتلای شي چې زمونږ ځينې ګرامر پوهانو راوړي دي : پټ-پټ .يو ..يو ، په قيدي ترکيبونو کې.

۶ـ په عبارت کې نحوي رابطه ضروري ده خو په ترکيب کې داخبر هم له نظره لويدلې لکه د (هلته ـ دلته ، کوم ـ کوم ) په ترکيبونو کې .

۷ـ په عبارت کې هغه کلمي چې د (او ) د عطف د توري پواسطه يو ځای کيږي  ښاملې نه دي مګر په تر کيب کې راتلای شي لکه : الفاظ اوکلمې ، شپه اوورځ .

۸ـ دتاکيدي ترکيب په نامه چې زمونږ ګرامر پوهانو کوم ترکيبونه راوړي هغه هم دعبارت خواص او ځان  تياوې نه لري ؛ لکه : کټ مټ ، ډزډوز، اوداسې نور .

۹ـ اداتې ترکیبونه هم دعبارت ځان   تاوې نه لري چې بیل ې
يې تاسې په لومړي مثال کې ولوستې او یا هم لکه دالاندې
مثالونه :

په خوله، چاى سره ، په کور کې، اوداسې نور . ځکه چې
دامورفیمونه خپلواکې ماناوې نه لري اونه خپلواکې کلیمې دي .

۱۰ـ یوه بله خبره چې دلته يې یادول بالکل ضروري دي
هغه دفعلي ترکیبونوخبره ده .

زمونږ ګرانو او فاضلو ګرامر پوهانو د فعلي ترکیبونو په جوړښت
کې چې کومې بیل ې وړاندې کړي له هغو سره یې داهم
ښودلې چې داترکیبونه دمسند یا خبر پر ځاى کې را ې او په
ځان   ې توګه جملي هم   ل کیداى شي نو بیا ولې دیته
ترکیب واىې ؟ که چیري دوى داترکیب بولي نوبیا په عبارت کې
نه شې راتلاى . او نه جمله بلل کیداى شي .داځکه چې عبارت
بیا دجملي ځان   تیاوي او خصوصیات نه لري

**دتیر بحث پوښتني**

۱ـ غونډله پوهه څه ته وايې او واحدونه يې په لنډیز سره
راوپیژنې ؟

۲ـ عبارت څه ته وايې اودجوړښت له مخې په څوډوله دي ؟

۳ـ د عبارت ځان   تیاوې په لنډیز سره ولیکى؟

۴ـ نومیز عبارت کوم عبارت ته وايې مثالونه يې راوړې؟

۵ـ اضافي عبارت څوډوله دی د بيلګو په واسطه يې څرګند کړی؟
۶ـ د پوهې اوغونډله پوهې تر منځ کومې اړيکې شته واضح يې کړی؟
۷ـ تاسو ته ځينې کلمې ، ترکيبونه او عبارتونه درکړ شوی دي تاسو له هغو څخه يوازي عبارتونه په نښه اوبيايې توضح کړې؟
انګورباغ ، دانګوروباغ، زماکور، ستاکتاب، قلم مې، پنسل يې ، د ښوونځی اداره، دلرګي همسا، د شعر رواني، ديوالي ساعت، دپسرلي باران ، وړين ټوکر، لوړه ونه، هسکه غاړه، دليلی مينه، دزلفومار، دسينداوبه ، دزمري په شان زړه ور، لايق شاګرد، نهم تولګی ، دوه کتابونه، په ښوونځي کې، تر کوره، له ښاره، ښوونځي ته، دا الوتکه، هوايی ډګر، په تيزیسره ، په کراره تګ ، شپه او ورځ ، ناوخته ، بيديدل، تللی و، نه راځي ، راغلی به وي ، ټول ځوانان ، د ښوونې اوروزنې پوهنتون ، زمادرسي خونه، ستره محکمه ، کابل پوهنتون ، پوهنوال ، پوهندوی، ښوونمل ، کاغذي ګل، لور اوزوی، خوږخټکی، خوږهندوانه ، د باغ ګلان ، دسرک غاړه، ښکاري سپی، توررنګ، سپينه خوله، سرې شونډې، نازک خيالونه، د زړه ستر ې، د مال ې پاکټ، د لارې مسافر، کتاب لوستل، رقعه ليکل، ښوونه کول، د دښمنانو تېری، خپلواکي ل، بې وزله سړی، لار جوړول، کټ مټ، تڼاکې، لاسونه، انځرګل، جمال مېنه، پښتونستان واټ، جلال کوټ، ادبي ليکنه، د ښوونکې خبرې، د زده کوونکو فکر، درسي خونه، لوړخيالونه، ژور فکرونه، کتابتون، درملتون، د غاښو ډاکټر، د ډرامې لوبغاړی، توريالی شهيد، وطن پلورونکی، لرغونی هېواد، سهارنۍ وږمه، د سبا ستوری، د لمر رڼا، پنځلسمه سپوږمۍ، شين آسمان، ساړه بادونه، يخه سيلۍ، کميډي ډرامه، ښه پوهه، پوه او ځيرک، مړ نی اولس، ليکوال، ليکونکی، شين خال، سره لمبه، لوی اختر، ځوان نسل او نور.

**غونډله (Sentence)**

غونډله پښتو او جمله عربي کلمه ده، چې په لغت کې مجموعې ته وايي، غونډله په هره ژبه کې د خپلو ځان و ماناوو درلودنکی ده ولې ګرامري ماناوې يې سره ورته يا يو ل کيږي.که وغواړو، چې غونډله په خپل ګرامري چاپيريال کې و ېو نو اړ يو، چې هغې ته يو تعريف ورکړو خودا چې په تعريف او پيژندنه کې د ژبپوهانو ترمنځ د نظر يووالی نه ليدل کيږي، ښه به داوي، چې د غونډلې په هکله د ځو پوهانو نظرونه راواخلو او بيا غونډله تعريف کړو.

کله چې موږ په وينا ليکنه کې خپل فکر په شفاهي يا ليکلی بڼه افاده کوو نو مجبور يو چې غونډلې او جملې جوړې کړو ځکه چې زموږ وينا د جملو په مرسته څرګنديږي او يا د جملو څخه جوړه ده. په دې توګه افکار يوازې په جملو کې او د هغوی په مرسته افاده کيږي.

دا چې غونډله او جمله له پخوا څخه تر ېنې لاندې نيول شوې نو موږ هم خپله خبره له هماغه وخته راپيل کوو.

ارسطو د غونډلې په هکله وايي: ((هره نظريه (مفهوم) د جملې په شکل څرګنديږي مګر ټولې جملې مفاهيم نه څرګندوي په جملو کې ممکن سوال، خبرداری او داسې نور مفاهيم ځای شي، خو پرته له دې څخه ممکنه نه ده، چې يو فکر د شعور د ځينو نورو اشکالو پواسطه هم ورسول شي.)) دی وايي: (( جمله د دماغ فعاليت انځوروي او جمله د احساس د څرګندولو وسيله هم ده)). همدارنګه په پخوانی فلالوژي کې داسې ښودل شويده، چې جمله مفاهيم د الفاظو په مرسته څرګندوي او يا جمله داسې يوترکيب دی، چې پوره مطلب څرګندوي.

په لرغوني يونان کې د نن څخه کابو (۲۰۰۰) کاله د مخه يو يوناني پوه د يونانيوستراکس (Dionysius thrax) د يوناني ژبې

د قاعدې په باب يوه کوچنۍ رساله ليکلې وه، چې په هغې کې يې د جملې يا غونډلې تعريف او پيژندنه په لاندې ډول کړې ده:
((جمله يا غونډله په نظم او نثر کې د کلمو او الفاظو د ټول ې څخه عبارت ده، چې پوره مانا او مفهوم څرګند کړي.))
له دې وروسته بيا غربي ګرامر ليکونکو هم دغه تعريف منلی او کارولی دی ولې له دوی څخه د مخه عربي ګرامر ليکونکو هم دغه تعريف منلی دی خو ډېريو جمله د کلام په نامه بللې او داسې يې تعريف کړې ده: ((جمله هغه کلام ته ويل کيږي، چې اورېدونکي له هغه څخه پوره مطلب ترلاسه کړي.)) ځينو ګرامر پوهانو په نوي عصر کې په ځان ې توګه په (۱۹) پې ۍ کې دا ەڅه کړې ده، چې جمله د يو منطقي قضاوت د فعلي ترکيب په توګه وپيژندل شي.
د منطق له نظره د جملې په هکله يوسلايف ويلي دي: ((هغه قضاوت چې د الفاظو په واسطه څرګند کړای شي جمله ده.))
د نولسمې پې ۍ په پای او د شلمې پې ۍ په پيل کې په لويديځه نړۍ کې د جملې په باب روحياتي نظريې منځ ته راغلې او ګرامر پوهانو په دې برخه کې ډول ډول ې نې وکړې او خپلې نظريې يې وړاندې کړې.
ايراني ژبپوه داکتر پروېز نايل خانلري د غونډلې تعريف د تراکس په ډول کړی دی او يوازې د نظم او نثر الفاظ يې ترې ايستلي دي، دی وايي: ((جمله مجموعه از کلمات است که بر روی هم دارای يک مفهوم تمام و کامل باشد.))
له دې وروسته زموږ ځينو ژبپوهانو غونډله داسې تعريف او راپېژندلې ده:
(( جمله يا غونډله د الفاظو او کلمو يو داسې ترکيب دی، چې يو بشپړ مفهوم افاده کوي.))
يا په بله وينا: ((خبرې او ويناوې د جملو په مرسته کيږي او پرته له جملو خبرې او ويناوې نه تر سره کيږي.))

په دې سربېره په يو شمېر نورو ګرامرونو کې جمله يا کلام داسې راپيژندلې شوی دی: جمله د کلمو د يوځای کېدو څخه جوړيږي او هم د نحوي کوچنی واحد دی.
يا دا چې: د يو مقصد د څرګندولو لپاره مجبور يو چې کلمې سره يوځای کړو نو له دې امله د يو شمېر کلمو او لفظونو له يو ځای کېدو څخه کلام يا جمله منځ ته راځي او د جملې په مرسته خپل مقصدونه يو بل ته څرګندولای شو.
دغه پورتني تعريوفونه چې د پښتو ژبې په يوشمېر ګرامرونوکې شوي له حقيقت څخه لرې نه دي او په خپل وخت کې يې مطلب بشپړ څرګند کړی دی،خو د امريکې مشهور ژبپوهاند بلوم فيليډ د غونډلې جوړښتي او اساسي تعريف دا ډول کړی دی: ((د غونډلې جوړښتي مانا هغه مانا ده، چې د غونډلې د توکونو په مرسته څرګنديږي، بې له دې چې لغوي اړخونه يې په نظر کې ونيول شي.))
د غونډلې جوړښتي مانا يوازې د بلوم فيليډ په ذريعه نه ده ښودل شوې بلکې اکاډميسن شېربه هم دغه ډول موضوعات بيان کړي دي.
په هر صورت د غونډلې د تعريف او پېژندنې د کره کولو لپاره ښايي غونډله دفورم او مانا دواړو له مخې په پام کې ونيول شي ځکه يوازې فورم غونډله نه شي راپيژندلی او مانا هم په ګو ې توګه سره د غونډلې د تعريفونو څخه نه شي وتلای.
که چېرې دا ومنو چې غونډله يو داسې نحوي واحد دی چې د فورم او مانا په شريک او ارتباط سرخ ځان ی ژبنی سيستم جوړ کړی دی نودا به هم ومنو، چې دا نحوي واحد (جمله) يو ژبنی سيستم هم دی.
څرنګه چې ژبه يو جلا سيستم دی او غونډله په دې سيستم کې د نحوي واحد په توګه پېژنو نو بيا ويلای شو، چې غونډله هم يو کوچنی ژبنی سيستم دی.په دې کې هې شک نشته چې غونډله مانا لري او يو مفهوم افاده کوي، نو له

دې کبله ښه به داوي، چې د بلوم فیلیډ نظریه په نظر کې ونیسو. دی وایي: ((د متکلم او خبرې کوونکی د خبرو اورېدونکی دې ته اړ باسي چې شرایط او حالاتو ته ځواب ورکړي، دغو شرایطو او حالاتو او په هغوی پورې اړوند ځواب ته د هغه عبارت مانا وايي.

یا په بل عبارت کله چې یو ژبنی فورم له جملې څخه ووځي نو اورېدونکی هم هغې ته هغسې ځواب ورکوي او یا هماغسې عکس العمل ښیی، چې د ټاکلي مربوط ژبني شکل مانا ل کيږي.))داچې په نحوي جوړښت کې اساسي نحوي واحد غونډله ده، نو په دې ماناسره جمله د وینا هغه واحد دی، چې پوره مطلب رسوي.

د غونډلې د تعریف او پېژندې لپاره په پای کې په لنډه توګه ویل شو، چې :جمله یا غونډله له کلمو یا مورفیمونو څخه جوړه وي، خو په دې جوړښت کې یوازې د مورفیمونو شمېر او اندازه مهمه نه ده، بلکې باید لاندې خصوصیات او ځان تیاوې ولري:

۱- غونډله داسې مورفیمونو څخه جوړه شوې وي، چې له یو له بله سره ارتباط او اړیکې ولري او بشپړ مفهوم افاده کړي.

۲- که چېرې جمله یا غونډله له یوې کلمې څخه جوړه وي خو شرط په کې دا دی، چې دیوې جملې یا غونډلې پوره مفهوم به افاده کوي.

۳- دا غونډله به د یو ځان ي سیستم تابع وي او ځان ي لحن، تون او موسیقیت به لري.

۴- که غونډله وشنل شي خپله مانا بایلي او بیا غونډله نه بلل کيږي.

۵- د لیک د نښو نښانو پواسطه د غونډلې حدود جلا او نومونه يې بشپړه شي.

د غونډلې د پېژندنې لپاره لاندې بېلګو ته ځیر شی:

۱- هر څوک د خپل هېواد سره مینه لري.

۲- کارګر په فابريکه کې کار کوي.
۳- بسپنه د پښتنو يو ښه دود دی.
۴- ناپوه سړی خپل کور په خپله خرابوي.
۵- ځه .
۶- ولوله.
۷- وليکه.

لکه څنګه چې له پورته بېلګو څخه څرګنديږي جمله د مرتبطو کلمو څخه جوړه شوې ده او دا پايله لاس ته راځي.دوه يا تر دوو ډېرې مرتبطې کلمې او يا يوه ځان ي کلمه، چې پوره او بشپړ مفهوم څرګند کړي جمله بلل کيږي.

د تېر بحث پوښتنې:

١- لاندې يو شمېر عبارتونه او جملې درکړشويدي تاسو دغه عبارتونه او جملې سره جلا کړئ او بيا يې د ځان تياوو له مخې و ېٍ ئ.

سره مڼه، دا سره مڼه ده.، د قلم رنګ، ما دقلم رنګ واخيست. د بريالی ورور، د بريالي ورور راغی، زوړ سړی، ما زوړ سړی وليد، تياره خونه، زه په يوه تياره خونه کې ناست يم، ستاسې موټر، ستاسو موټر راغی، خوږه ډوډۍ، ما خوږه ډوډۍ وخوړه. يخې اوبه، په دوبي کې يخې اوبه ل ښه وي، زموږ هېواد، زموږ هېواد ډېر غرونه لري.

٢- تاسوته ځو مورفيمونه او کلمې درکړی شوي دي تاسو ترې عبارتونه او غونډلې جوړې کړئ.

ورځ، هېواد، نيالګي، آزادي، لوستل، پنځه، دوه، ښه، ځواني، زړښت، روان، ښوونکی، ځمکه، پسرلی، زده کړه، پښتون، ګران، تور، شين، لاس، پلورنځی، کتابتون، ښکلی، ټولنه، مينه، ډېر، روغتيا، ناروغ او روغوالی.

**په غونډله (جمله) کې د مورفيمونو ترمنځ اړيکې**

دا خو څرګنده خبره ده، چې په غونډلو او جملو کې مورفيمونو يو د بله سره اړيکې لري او دغه اړيکې ډېرى د ناخپلواکو مورفيمونو پواسطه منځ ته راځي.د بېل ي په ډول لاندې جملې وګورئ:

۱- بدخويونه سړى د خلکو په نظر کې سپک کوي.

۲- د مشرانو په پاملرنه د کشرانو کارونه سميږي.


۳- هوښيارې مېندې خپل اولادونه ښه روزي او ډېر ناز نه ورکوي.

په پورتنۍ لومړنۍ جمله کې (په، کې) په دوهمه جمله کې (په) په دريمه جمله کې (او) ناخپلواک مورفيمونه او په غونډلو کې د خپلواکو مورفيمونو ترمنځ د اړيکو ټينګولو لپاره استعمال شوي دي.

**په غونډله کې د مورفيمونو ترمنځ د اړيکو ډولونه**

په غونډله کې د مورفيمونو ترمنځ اړيکې په دوه ډوله دي، چې د لاندې شکل په واسطه ښودل کيږي.

په غونډله کې د مورفيمونو ترمنځ د اړيکو ډولونه




| | |
|---|---|
| د تړنې اړيکه | د ملتيا اړيکه |
| اضافي اړيکه | د تړنې اړيکه |

**الف: عطفي اړيکې:** په عطفي اړيکو کې د غونډلې د خپلواکو مورفيمونو ترمنځ د (او، و) د ناخپلواکو مورفيمونو پواسطه په مساوې او متوازي ډول اړيکې ټينګيږي؛ لکه :
ځمکه او آسمان، مشر او کشر، ځوان او زوړ، ه او نر، تور او سپين، مور او پلار، او داسې نور.
**ب: تابعي اړيکې:** په دې ډول اړيکو کې تابعيت موجود وي، هغه مورفيم، چې بل د ځان تابع کوي تابع کوونکی مورفيم بلل کيږي او هغه مورفيم چې د بل مورفيم تابع ګرځي تابع شوی مورفيم ورته وايي.
**تابعي اړيکې په ځلورو ډولو تړلې کيږي:**
١- **د سمون اړيکه:** د سمون اړيکه دمبتدا او خبر په منځ کې واقع کيږي او خبر د يو ي او ډېر ي او همدارنګه د نارينه او ينه په لحاظ د خپل مبتدا سره سمون لري.
د سمون د اړيکې د پيژندنې لپاره لاندې جملې وګورئ:
١- زه د خپل وطن سره مينه لرم.
٢- بريالی پرون کندهار ته لاړ.
٣- نجونې له ښوونځی څخه راغلې.
په پورته لومړۍ جمله کې (زه) مبتدا ده او د خپل خبر (مينه لرم) سره سمون لري يانې مبتدا يو ی (مفرد) واقع شوی نو خبر (مينه لرم) هم ورسره مفرد راغلی دی.
په دوهمه جمله کې مبتدا (بريالی) نارينه يو ی راغلی او خبر (لاړم) هم ورسره نارينه يو ی راغلی او د دواړو ترمنځ د سمون اړيکه موجوده ده، په دريمه جمله کې مبتدا (نجونې) ډېر ی ينه راغلې نو جز (راغلې) هم ورسره ډېر ی ينه راغلی دی.
٢- **اضافي اړيکه:** په اضافي اړيکه کې يو مورفيم د بل سره د اضافت د تورو (د-ز-س) پواسطه خپله رابطه ټينګوي او د مضاف مورفيم ته ټاکل شوی او مضاف اليه مورفيم ته ټاکونکی وايي.
د اضافي اړيکې د پېژندنې لپاره لاندې جملې وګورئ:

۱- زما ورور ښوونکی دی.
۲- ستا ورېرونه کار ګران دي.
۳- د ګناه توروالی په صابون نه لرې کيږي.

په پورتنيو جملو کې د اضافت اړيکې (ز، س، د) د تورو پواسطه، چې د (زما، ستا، د ګناه) له مورفيمونو ته مضاف اليه يا ټاکونکی او د (ورور، ورېرونه،توروالی) مورفيمونه يا کلموته مضاف اليه يا ټاکل شوي مورفيمونه وايي.

**۳- د ملتيا اړيکه:** د ملتيا په اړيکه کې تابع شوی مورفيم يا کلمه د تابع کوونکی مورفيم يا کلمې سره څنګ پر څنګ راځي او د دوی ترمنځ د تړنې، سمون او اضافي رابطو او سپينو ته اړتيا نشته او که فرضاً تابع شوې کلمه له جملې څخه لرې کړای شي بيا هم غونډله يا جمله مانا ورکوي او د جملې مانا ته کوم ځان ی بدلون نه ورکوي. د ملتيا د اړيکې د پېژندنې لپاره لاندې جملې وګورئ:

۱- احمد په تلوار راغی.
۲- زه په کراره ځم.
۳- يما ډېر وځنډېد.

په پورته جملو کې (په تلوار، په کراره، ډېر) تابع شوې کلمې دي، چې د جملې د خبر يانې تابع کوونکو (راغی، ځم، وځنډېد) له کلمو يا مورفيمونو سره په څنګ کې راغلي دي.

**۴- د تړنې اړيکې:** په دې ډول رابطه کې د غونډلې يا جملې خبر تابع شوې کلمې مجبوره وي، چې په جمله کې د بشپړونکي يا نحوي قيد په ډول واقع شي.

د تړنې د اړيکې د پېژندنې لپاره لاندې جملې وګورئ:

۱- زلمی کورته لاړ.
۲- بريالی له ښوونځي څخه راغی.
۳- توريالی په موټر کې راځي.

په پورته جملو کې وينو، چې (لاړ) د لومړۍ جملې خبر دی او د (کوم کور) کلمه د (تا) سره يوځای مکاني نحوي قيد دی او په جمله کې په خبر (لاړ) پورې مربوط شوی دی.

په دوهمه جمله کې د (راغی) کلمه جز او تابع کوونکی هم دی او د (ښوونځي) کلمه چې مکاني نحوي قید دی (له، څخه) سره یوځای د (راغی) تابع دی، چې په منځ کې مفعول او بشپړونکی واقع شوی دی.
په دریمه جمله کې (راځي) خبر او تابع کوونکې کلمه ده او (موټر) بشپړوونکې او تابع شوې کلمه ده، چې د (په) سرینه نحوي قید په وسیله (موټر) مفعول او د خبر تابع شوی دی.

د تېر بحث پوښتنې:
لاندې جملې په غور سره ولولی او په هغو کې د پورتنیو رابطو ډولونه په نښه او بیا په دلایلو سره يې و ې ی.
۱- وېره او ډار د ژوندانه په چارو کې ډېرې بدې اغېزې لري.
۲- کېدل له کولو پيداکيږي.
۳- شاعرانوته د ګلونو ننداره ډېر خوند ورکوي.
۴- يو بد سړی نور هم له ځانه سره بدولی شي.
۵- توريالی او بريالی دواړه همزولي دي.

۶- ځناور په غرو او ځنګلونو کې اوسیږي.
۷- غم او ښادي يو له بله خور او ورور دي.
۸- ناوړه کارونه کول ناوړه پایلې لري.
۹- مېروېس نیکه د پښتنو ملي مشر ؤ.
۱۰- ستا ورور مې په ننګرهار کې ولید.
۱۱- دوی ژمی په ننګرهار کې اوسي.
۱۲- د کابل هوا ډېره سړه ده.
۱۳- زموږ هېواد سمسور باغونه لري.
۱۴- د اجمل ورور ناروغه دی.
۱۵- پښتانه قدم په قدم خپلې حماسې تکراروي.
۱۶- په نه ازمویلو لارو مه درومی.
۱۷- ویده و ي له هر نعمت څخه بې برخې وي.
۱۸- هغه يو زوی او يوه لور لري.
۱۹- په کار سره هر څه سمیږي.
۲۰- د ګلاب پلار زیارکښ سړی دی.
۲۱- د ړانده په اشاره تلل ښه نه وي.
۲۲- بډ نا د ژوندانه له اړتیاوو څخه ده.
۲۳- څوک چې د غره په سرناست وي نور ورته واړه ښکاریږي.
۲۴- لمر په ګوته نه پټیږي.
۲۵- څه چې کرې هغه به رېبې.
۲۶- اوسپنه په اوسپنه ماتیږي.
۲۷- باز چې هر څومره خوار شي چون ې نه خوري.
۲۸- پردي خواړه یا پور دي یا پیغور.
۲۹- اوبه په ډانګ نه بېلیږي.
۳۰هر څوک چې زیار باسي بریالی کیږي.

**دغونډلې (جملې) برخې او اجزاوې**

دمانا له پلوه خپلواکې کلمې یامورفیمونه نظر خپل نحوي موقیعت ته کیدای شي د جملې مختلفې برخې شي .په جمله کې یوا ې هغه مورفیمونه یا کلمې د جملې په اجزاوو یا برخوکې راځي چې هغه پوښتنې ته ځواب وویلای شي اودمانا له پلوه خپلواکې وي .لکه : نوم ، ستاینوم، عدد، ضمیراو فعل کلمې.


**د غونډلې اجزاوې په دوه ډوله ویشل کیږي :**

لومړی هغه اجزاوې چې په جمله کې اساسي بڼه لري یعنې (دجملې اساسي برخې ) اودوهمې برخې ته ئې د جملې پیروې برخې وائې.دبیل ې په ډول:

ـ هغوی په موټر کې راغلل .

پورتنې جمله کې ګورو چې له پنځو کلمو څخه جوړه شویده خو درې کلمې په کې خپلواکې او دجملې اجزاوې ل کیږي،چې لومړی جز ئې مبتدا (هغوی) دوهم ئې خبر(لاړل) او دریم خبر ئې بشپړوونکی ( په موټر کې) دی .

د غونډلې او جملې د اجزاوو او برخو د پیژندنې لپاره لاندې شکل وګورئ.




## دغونډلو (جملو) اساسي اجزاوې

د غونډلې اساسي او بنسټيزې برخې مبتدا او خبر دی ځکه چې په ساده او بسیطو جملو کې مبتدا او خبر د جملو اساسي برخې او بنسټ جوړوي . خو پښوا له لدې چې په غونډلو کې مبتدا او خبر وپیژنو لازمه ده چې لومړی دمبتدا او خبر په هکله یو څه معلومات وړاندې کړو .

**لومړی ـ مبتدا :**

مبتدا د غونډلې اساسي او بنسټیزه برخه ده اومعمولآ دیو شخص او دیو شي په باره کې معلومات ورکوي اود (څوک، چا،څه شي او څه شیان ) پوښتنو ته ځواب وايي .یا په بل عبارت د جملې هغه برخه چې دهغې په نسبت څه ویل کېږي یا دڅه بیان کیږي ، یاد جملې هغه برخه چې دهغې په باب خبر ورکول کیږي مبتدا بلل کیږي د غونډلې یا جملې پدې برخه کې دو و نومونه ، د شیانو نومونه، ضمیرونه، عددونه، صفتونه او قیدونه له ټولو ساده اومرکبو بڼو سره راځي .

دمبتدا دپیژندنې لپاره لاندې جملې په غور سره وګورئ:

۱ـ زه په کابل کې ژوند کوم .

۲ـ په سپرلي کې ګلان غوړېږي .
۳ـ هارون ښوونځي ته لاړ.
۴ـ ښکلا ناروغه ده .
په پورته جملوکې (زه، پسرلی، هارون، ښکلا) کلمې دمبتدا په ډول راغلي دي ، چې د (څوک او څه شي ) پوښتنو ته ځواب وای‌ې:

**الف :ـ په نوم سره دمبتدا څرګندونه**

نوم اودهغې دولونه په غونډله او جمله کې د مبتدا دنده ترسره کولای شي .
لکه پدې لاندې جملو کې:
۱ـ کتاب د زده کړې ښه وسیله ده.
۲ـ زړه دمینې او عاطفې ځای دی .
۳ـ بلخ دتمدن ځانګو ده .
په پورته جملو کې (کتاب، زړه، بلخ) کلمې نومونه دي چې په جملو کې دمبتدا په ډول راغلي دي .

**ب : په ضمیر یا نومځري سره دمبتدا افاده :**

نومځری او ضمیرپه جمله اوغونډله کې دمبتدا په ډول راتلای شي .لکه پدې لاندې جملوکې:
۱ـ هغه هنر مند دی.
۲ـ زه زده کوونکی یم .
۳ـ ته خپل کار کوه .
په پورته جملوکې (هغه، زه، ته ) کلمې ضمیرونه دي چې دمبتدا په ډول راغلي دي .

**ج: په مصدراو مصدري عبارت باندې دمبتدا افاده:**

په مصدر او مصدري عبارتونو باندې هم مبتدا راتلای شي .لکه پدې لاندې جملوکې :
۱ـ لیدل کتل موسره وشول .
۲ـ په هر څه پوهیدل اوهرڅه نه ویل هوښیاري غواړي .
۳ـ وهل او ټکول دماشوم په روحیه ناوړه اغیزه لري .

په پورته جملو کې(لیدل کتل، په هرڅه پوهیدل، وهل او ټکول) مصدر یا مصدري عبارتونه دي چې دمبتدا پر ځای راغلي دي .

**د: دکلام یا جملې په نورو برخو باندې دمبتدا افاده :**

دکلام نورې برخې لکه صفت، عدد، فعلي صفت، او عبارتونه هم دمبتدا دنده تر سره کولای شي .لکه پدې لاندې جملوکې:

۱ـ زاړه د تیر عمر ارمان کوي .
۲ـ دوه او دوه څلورکیږي .
۳ـ لیکونکی ګرم نه دی.
۴ـ پنځه واړه سره وروڼه دي .
۵ـ زما د کورنۍ غړي ټول راغلل .

په پورته جملوکې (زاړه،دوه،لیکونکی،پنځه واړه،زما دکورنۍ غړي) په ترتیب سره ستاینوم، عدد، فعلي ستاینوم، اوعبارتونو په ډول په مبتدا کې راغلي دي .

**ساده، ترکیبي او متعدد مبتدا**

**الف ـ ساده مبتدا :** ساده مبتدا وهغې مبتدا ته وای‌ې چې دیوې سده مستقلې یا خپلواکې مانا لرونکي کلمې څخه جوړه وي .لکه پدې لاندې جملو کې :

۱ـ مصطفی نن کنفرانس ورکوي .
۲ـ مونږ سوکاله ژوند غواړو .
۳ـ زړه دعاطفې مرکز دی .

په پورته جملوکې (مصطفی، مونږ، زړه) ساده خپلواکې کلمې یا مورفیمونه دي چې له یوې اساسي رک ې څخه جوړ او دمبتدا په ډول راغلي دي .

**ب ـ تر کیبي مبتدا:** هغه مبتدا ته وای‌ې چې له دوه یا له زیاتو مورفیمونو اوکلمو څخه جوړه وي.

لکه پدې لاندې جملو کې :

۱ـ د تولیداتو په زیاتوالي کې کارګران ستره ونډه لري .
۲ـ د پاکو اوبو      ل وجود ته      ه رسوي .
۳ـ ښه زده کوونکی خپل درس په ټاکلي وخت زده کوي .

په پورته جملوکې (دتوليداتوپه زياتوالي کې، د پاکو اوبو ل، ښه زده کوونکی) ترکيبي کلمې دمبتدا په ډول راغلي ځکه ترکيبي مبتدا ورته وای‌ې .

**ج ـ متعدده مبتدا:** که په يوه جمله يا ِغونډله کې دوه يا څو مبتداوې د يو خبر په مقابل کې راغلي وي او ټولې يو خبر ته ځواب ووای‌ې متعدده مبتدا بلل کی‌ږي .

په متعدده مبتدا کې څو مبتداوې که ساده وي يا مرکبي راتلای شي خو پدې شرط چې ديو خبر په مقابل کې راغلي وي .لکه پدې لاندې جملو کې:

١ـ مصطفی او هارون په يوه دفتر کې کارکوي .

٢ـ زه او ته بايد نن ښه درس ولولو .

٣ـ دننګرهار او کندهار هوا په ژمي کې ښه وي .

په پورته جملوکې ( مصطفی او هارون، زه او ته، ننګرهاراو کندهار) متعددې مبتداوې دي چې د ( کوي ، ولو ولو، ښه وي ) د خبر په مقابل کې راغلي دي .

**په جمله يا غونډله کې دمبتدا ځای**

مبتدا په پښتو جملو کې زياتره د جملې په پيل کې راځي خو کله کله د جملې په مينځ او پای کې هم راتلای شي .دمبتدا د ځای د پيژندنې لپاره لاندې جملې وګورئ:

١ـ کابل د افغانستان پايتخت دی .

٢ـ سخت دی دنيم و طبيبانو ناز تر مرګه

مرګ ته غاړه کښی‌ږده د دارومه کوه بيماره

٣ـ هی‌څ کار نه شي بې زحمته په دنيا کې

څو چې اوسې په دنيا زحمت به ګالې.

په پورته لومړۍ جمله کې ( کابل) مبتدا ده چې دجملې په سرکې راغلي ، په دوهمه جمله کې (نيم وطبيبانو) مبتدا ده چې دجملې په مينځ کې راغلی او په دريمه جمله کې ( په دنيا کې) مبتدا ده چې دجملې په پای کی راغلې ده .

**دتیر بحث پوښتنې:**

په لاندې جملو کې مبتدا، دمبتدا ډولونه، دمبتدا ځای اوداچې مبتدا ىې دڅه ډول کلمې پواسطه شروع شوې پيدا اوونوموئ.

۱ـ خوشحال دتورې او قلم قهرمان دی.

۲ـ حميد يو نازک خيال شاعر دی.

۳ـ خپل عمل دلارې مل دی.

۴ـ ناپوهي رنځ دی .

۵ـ معنوي لويوالی په علم سره حاصلیږي .

۶ـ وخت لکه سره زر دي .

۷ـ زمونږ میړانه لکه سره زر دي.

۸ـ درې او پنځه اته کیږي .

۹ـ واړه نيالګي به لوی‌ې ونې شي .

۱۰ـ د سپين ږيرو خبرې ب‌ې ې نه وي .

۱۱ـ غفلت مه کوئ.

۱۲ـ ځوانان د کارکولو ښه توان لري .

۱۳ـ څوک دچا څه پروا لري ؟

۱۴ـ خپل وخت هسې مه تيروئ.

۱۵ـ هغوی ډير پرمخ تللي دي .

۱۶ـ زما ورور بزګر دی .

۱۷ـ هر څوک چې اوزګار شي يا غل شي يا بيمار شي .

۱۸ـ ژړل او خندل يو له بل سره اړيکي لري .

۱۹ـ اوريدل او کتل سره ډير توپير لري .

۲۰ـ ټولول او بازل هم هوښياري غواړي .

۲۱ـ پاک او سه بې باک اوسه .
۲۲ـ ما کتاب واخیست .
۲۳ـ د اومو میو و خوړل بدن ته زیان رسوي .
۲۴ـ د کتابتون کتابونه باید ښه وساتل شي .
۲۵ـ د بامیان او غزني هوا په ژمي کې ډیره سړه وي .
۲۶ـ د وطن ساتنه پښتانه د خپلو مړو په زور کوي.
۲۷ـ ژاړي په غمونو کې خواخوږي له هر چاسره
سل پتنګان سوزي دیوې
شمع ژړا سره .

دوهم - **خبر:**

خبر هم دغونډلې یوه بنسټیزه برخه ده اودمبتدا حرکت ځرګندوي . خبر په حقیقت کې د مبتدا پوښتنې ته ځواب وايي او خبره پوره کوي .

خبر په جمله کې د (څه کوي؟،څه وشول؟، څه کیږي ؟، څه ډول دي؟، څه شی دی؟، څوک دي؟) او داسې نورو پښتنوته ځواب وایې. د خبر د پیژندنې لپاره لاندې جملي وګورئ:

۱ـ هغه له کابله راغی.

۲ـ رحمان بابا یو صوفی شاعر ؤ.

۳ـ مونږ هغه ونه لید .

۴ـ توریالی له شا، نه وهل کیږي .

په پورته جملو کې (راغی، شاعر ؤ،ونه لید ، وهل کیږي)کلمې دخبر په ډول راغلي دي.

**اسمي او فعلي خبر**

نومیز یا اسمي خبر: نومیز او اسمي خبرونه تل دنوم له ډلې (نوم، ستاینوم، نومځری، عدد او مرستیال فعلونو) سره راځي.دنومیز خبر د پیژندلو لپاره لاندې جملي په غور سره وګورئ:

۱ـ دهغه ورور ښوونکی دی .

۲ـ رخصتي خلاصه شوه .

۳ـ افغانستان غرنی هیواد دی .

۴ـ هغه یوه پوه میر من ده .

په پورته جملو کې (ښونکی دی،خلاصه شوه ،هیواد دی،میرمن ده ) کلمې دنومیز خبر په ډول راغلي دي .

**الف ـ نوم دنومیز خبر په توګه** : کله چې نوم د نومیز خبر په توګه راځي هلته یوا ې نوم ذکر کیږي.لکه پدې لاندې جملو کې :

۱ـ زمری بزګر دی.

۲ـ جمال مالیار دی

۳ـ دورغوي تڼاکه مرغلره ده .

په پورته جملو کې (بزګـر دی، مالیاردی، مرغلر ه ده ) کلمې نومونه دي اودنومیز خبر په ډول راغلي دي.

**ب ـ ستاى نوم دنومیز خبر په توګـه :**

ستاى نوم زیاتر د مرستیال فعلونو سره دنومیز خبر په توګـه راځي . لکه پدى لاندې جملو کې :

١ـ داحمد کالي زاړه دي

٢ـ هغه مڼه پخه ده.

٣ـ زمالیک ښکلی دی.

په پورته جملو کې (زاړه دي، پخه ده، ښکلی دی) کلمې ستاینومونه دي او (دی ، ده ،دي)مرستیال فعلونه دي چې دواړه په تر کیب سره نومیز خبرونه جوړوي.

**ج ـ نومځري دنومیز خبر په توګـه**

نومځري هم کیداى شې دنومیز خبر په توګـه راشي . ددې خبر د پیژندنې لپاره لاندې جملې وګـورې :

١ـ دا لیک دچا دی؟

٢ـ دا په لوړ اواز خبرې څوک کوي؟

٣ـ هغه سړى څوک دی؟

په پورته جملو کې (چا، څوک، څوک)کلمې د پوښتنې نومځري دي چې ځنې دمرستیال فعلونو سره یو ځاى شوى اونومیز خبرونه ئې جوړ کړیدي.

## ساده ترکیبي اومتعددخبر

الف ساده خبر:ـ دا ډول خبر د خبرو دنومیزو برخو او فعلونو څخه دفعلي روستاړو په زیاتولو سره جوړیږي .لکه پدې لاندې جملو کې :

١ـ ژمی راغی .

٢ـ کار ګـران کار کوي.

٣ـ زه ښونکی یم .

په پورته جملوکې ( راغی،کوي، یم )د ساده خبر په ډول راغلي . او (یم ) کومکي فعل اود(راغی ، کوي) د فعلي روستاړو (ي – ی) سره ې یو ځای ساده خبر جوړ کړیدی.
ب ـ ترکیبي خبر: ترکیبي خبر د فعلونو اود کلام د ځینو نورو برخو څخه په ترکیبي ډول جوړیږي.دترکیبي خبر د پیژندلو لپاره لاندې جملې وګورې:
۱ـ هغه په پوهنځی کې شامل شو .
۲ـ مشاعره پیل شوه.
۳ـ زما ورور دوهم نمبر بریالی شو .
په پورته جملو کې ( شامل شو، پیلوشوه، بریالی شو ) کلمې د ترکیبي خب په ډول راغلې دي.
ج ـ متعدد خبر: هر کله چې دوه یا ډیر (فعلي یانومیز) خبرونه په یوه مبتدا پورې اړه پیداکړي یا یوې مبتدا لپاره راشي متعدد خبر بلل کیږي.دمتعددخبر دپیژندلو لپاره لاندې جملې وګورې :
۱ـ اجمل له ښونځی څخه راغی ، ډوډی ې وخوړه او له ورور سره بازار ته ولاړ
۲ـ زده کوونکی ښووونځی ته لاړ او ازموینه ې ورکړه .
۳ـ دوی دریواړه ورته ودریدل اوله هغه ې پوښتنه وکړه.
په پورته جملو کې ( راغی ، وخوړه، لاړ) خبرونه دیو ې مبتدا په مقابل د خبر په ډول راغلي او (لاړ، وکړه) خبرونه هم دیوې مبتدا په ځواب کې راغلي او همدارنګه(ودریدل ، وکړه) خبرونه د یوې مبتدا په مقابل کې راغلي نومتعدد خبر بلل کیږي .
تفصیلي خبر: هغه خبر چې نومیزه یا اسمي برخه ې ټاکونکی ولري تفصیلي خبر بلل کیږي .
دتفصیلي خبر د پیژندني لپاره لاندې جملې په غور سره ولولې:
۱ـ نازو یوه ښکلې پیغله ده .
۲ـ زمونږ لپاره دادخو ځای دی.
۳ـ د رخصتې ورځ داستراحت ورځ وي.

په پورته جملو کې ( ښکلې پيغله ده، د خو    ځای دی، داستراحت ورځ وي ) تفصيلي خبرونه دي، چې ( ښکلې د پيغلې لپاره ، خوښي د ځای لپاره او استراحت د ورځ لپاره د ټاکوونکی په ډول راغلې ده .

**په غونډله يا جمله کې د خبر ځای**

خبر په پښتو ژبه کې عموماً دجملې په پای کې راځي خو کله کله خصوصاً په شعرونو (نظمونو) کې د جملو په سر اومينځ کې هم راتلای شي.دخبر د ځای د پيژندنې لپاره لاندې جملې وګورئ:

۱ـ دبيانې جملې په پای کې ټکې ای‌ښودل کیږي .

۲ـ په سپرلي کې هوا ډيره ښه وي.

۳ـ دملالۍ مور په ښوونځی کې درس ورکوي.

په پورته جملو کې ( ټکی ای‌ښودل کیږي ،ډيره ښه وي،درس ورکوي)کلمې اوترکيبونه دخبر په ډول د جملو په پای کې راغلي دي .همدا ډول د جملو په مینځ او پيل کې هم خبر راتلای شي .لکه په لاندې بيلګو کې:

۱ـ په ساده  ي کې ځومر ښه ل ي په زړه جانانه

راته په وی‌ښه کې ويده ل ي په زړه جانانه

۲ـ چيرې لاړې له ما ليرې ای زما د رنځ طبيبه

چې ته نه یې خو زه نه يم اوزما دزړه حبيبه

په پورته لومړۍ جمله کې (ښه ل ي)خبر او دجملې په مینځ کې راغلی دی

او په دوهمه جمله کې (چيرې لاړې) خبر د جملې په سر کې راغلی دی

**په جمله کې دمبتدا سره د خبر سمون**

په پښتو ژبه کې عموما مبتدا د خپل خبر سره سمون لري يعنې که مبتدا مفرد وي خبر هم مفرد وي او که مبتدا جمع وي خبر هم جمع راځي .همداډول مبتدا او خبر دنارينه او ينه په لحاظ هم سره سمون لري .که مبتدا دجنس نوم وي خبر یې د جمع په شکل راځي او که مبتدا د جمع نوم وي

خبرئې مفرد واقع کیږي .په جمله کې د مبتدا اوخبر دسمون لپاره لاندې جملو ته ځیر شې :
۱ـ زه نن ډیر خوشحاله یم .
۲ـ زمری او زلمی دواړه کورته ولاړل
۳ـ تیل ټول توئې شول
۴ـ رمه راغله
په پورته لومړۍ جمله کې (زه ) مبتدا او (خوشحاله یم ) خبر دی چې دواړه مفرد واقع شویدیاو خبر له مبتدا سره سمون لري.په دوهمه جمله کې(زمری اوزلمی) دوه تنه دي او دجمع په ډول راغلي دي او خبر ئې(ولاړل) هم دجمعې په ډول راغلی دی چې یو له بله سره سمون لري.په دریمه جمله کې مبتدا (تیل) دجنس نوم دی اوخبرئې (توئې شول)
د جمع په ډول راغلی دی او په څلورمه جمله کې مبتد ا(رمه) د جمع نوم دی اوخبر ئې ( راغله) مفرد واقع شوی یعنې پدې کې مبتدا او خبر سره سمون نه لري اودا په استثنایي ډول قبول شویدي .

د **تیر بحث پوښتنې:**

په لاندې جملوکې خبر ،اسمي خبر، دنوم ،صفت او ضمیر ، پواسطه جوړشوي خبرونه پیداکړئ او هم د ساده ،ترکیبي اومتعدد خبر ډولونه او په جملو کې دخبر ځایونه په نښه کړئ اودمبتدااو خبر د سمون ډولونه راوپیژنئ؟
۱ـ مونږ له هغه سره وکتل
۲ـ د بد سړی ګاونډیتوب یو لوی عذاب دی
۳ـ د ګل ستر ي په اوښکو ډکې دي
۴ـ په هغه کلی کې څوکسه او سیږي.
۵ـ خوله له بدو خبرو ژوغورئ.
۶ـ دا پیټی مې په شاه کړه

۷ـ او به په ډانګ نه بیلیږي
۸ـ هغه کار کوي
۹ـ له شش ټوپکه دوه تنه ویریږي
۱۰ـ غنم په ژمي کرل کیږي
۱۱ـ دځمکې مخ په تا ښایسته دی
۱۲ـ ګوره چې مغروره نه شې
۱۳ـ دې با غ تر اوسه مالیار پیدا نه کړ
۱۴ـ لکه نرګس هر چا ته په ښه سترګه ګوره
۱۵ـ راشه زما د باغچې ګل شه
۱۶ـ د هغې وښتان اوږده دي
۱۷ـ داحمد د ګوتې غمی سور دی
۱۸ـ له ناست زمري ګرځنده ګیدړ ښه دی
۱۹ـ د ظالم عمر لنډ وي
۲۰ـ صبر که تریخ دی میوه یې خوږه ده.
۲۱ـ په خوله خوږ په زړه کوږ
۲۲ـ له بې کاره ټول بیزاره
۲۳ـ دوی دلته څ کوي؟
۲۴ـ زرغونه انا یوه پوهه میرمین وه
۲۵ـ وطن په زیار ودانیږي
۲۶ـ د جر ې خبرې پیل شوې
۲۷ـ هر څوک خپل شی ښاغلی ي
۲۸ـ په زور کلي نه کیږي
۲۹ـ د هوسیو ښکار اسانه کار نه دی
۳۰ـ خوشحال خان (۲۵۰) اثار لري
۳۱ـ هغوی دوطن په مینه مست دي
۳۲ـ دلته به ډیر زورور په ګونډو شي
۳۳ـ دا ژوند خودعمل دی،د حرکت دی، د قوت دی
۳۴ـ دمنیې پتنګان له لمبو نه ویریږي
۳۵ـ لنډ غر له اوبو نه ډاریږي

**دغونډلې پیروې برخې:**

په غونډلوکې د اساسي برخوسربیره پیرو برخې هم راځي چې دا برخې دغونډلو خبر بشپړوي .دغونډلو په پیروو برخو کې بشپړوونکې (مفعول ) ، ټاکونکې (مشخص کوونکی ) اونحوې قید راتلای شي .

**الف ـ بشپړوونکی** : بشپړوونکی د جملې دپیرو برخو څخه دی او په جملو کې همیشه دمفعول په ډول راځي .

١ـ مستقیم (بې واسطی) بشپړوونکې ، ٢ـ غیر مستقیم (په واسطی سره )بشپړوونکی.

١ـ مستقیم بشپړوونکی: مستقیم بشپړوونکی یا بې واسطې مفعول د (څوک ، څه شی او څه)پوښتنوته ځواب وای‌ې په مستقیم بشپړوونکی باندې فعل په جمله کې بې له کومې واسطې (سرینو او پسینو) څخه مستقیما واقع کی‌ږي او جمله پوره کوي .لکه پدې لاندې جملو کې:

١ـ ننګیالی لوبې کوي

٢ـ توریالی ورځپاڼه لولي

٣ـ علم نړۍ رڼا کوي

په پورته لومړی جمله کې (لوبې) په دوهمه جمله کې (وځپاڼه ) او په دریمه جمله کې (نړۍ) مستقیم بشپړوونکي دي.

**٢ـ غیرمستقیم بشپړوونکی:** غیر مستقیم بشپړوونکې په جمله کې د سرینو او پسینو په راوړولو جوړی‌ږي .د غیر

مستقیم بشپړوونکي د پیژندنې لپاره لاندې جملې په غور سره ولولی:

۱ـ دمشرانو لارښودنه دکشرانو په     ه ده

۲ـ ټول باغ له ګلونو ډک دی

۳ـ په حماسي لنډیو سره انسان هیجاني کیږي

په پورته جملو کې (کشرانو ، ګلونو، انسان) کلمې د غیر مستقیم بشپړوونکې په ډول راتلای شي.لکه په دې لاندې جملوکې:

۱ـ مصطفی هارون  ته وویل

۲ـ بریالی خپلو ورونږو ته پاملرنه کوی

۳ـ د پښتو لوست مې ښه زده کړ

په پورته جملوکې هارون، خپلو ورونږو،پښتو) کلمې نومونه دي چې دغیرمستقیم بشپړوونکی په ډول راغلي دي .

**نومځری یا ضمیر د غیر مستقیم بشپړوونکي په توګه :**

ضمیرونه هم د غیر مستقیم بشپړوونکي په ډول راتلای شي .لکه په لاندې جملو کې:

۱ـ زلمي هغه ته وویل .

۲ـ مصطفی له دوې سره خبرې کوي

۳ـ په تا باندې دزمانې ډیرې سړې تودې تیرې شویدي .

په پورته جملو کې (هغه ، دوې ، تا ) کلمې ضمیرونه دي چې دغیرمستقیم بشپړونکي په ډول راغلي دي .

**۳ـ متــعدد بشـــپړوونــکي**

کله چې دوه یا زیات بشپړوونکي په یوه جمله کې راشي او هماغه یو سوال ته ځواب وواې متعدد بشپړوونکي بلل کېږي .دمتعدد بشپړوونکي دپیژندنې لپاره لاندې جملې په غور سره ولولې .

۱ـ دانسان عزت او اعتبار په علم او ښه خوی کې ساتل کیږي .

۲ـ د لمر تودوخه  دغلو اومیوو په خوند او ښکلا اغیزه کوي .

۳ـ دنن‌ګ اوناموس دپاره له خپل سراوماله تیریدل یولوی صفت دی.

په پورته جملو کې (علم اوښه خوی،دغلو اومیوو په خوند او ښکلا له خپل سر اوماله ) عبارتونه د متعدد بشپړوونکي په ډول راغلي دي

**ب ـ ټاکونکی**

ټاکونکی هم د جملې له پیروو اجزاو څخه دی چې د و او شیانو څرن‌ګوالی ټاکې . ټاکونکې په جمله کې یوا ې نه را ې بلکې د مبتدا ، خبر او د جملې د پیروو برخو سره یوځای راځي اود (څه رن‌ګه ، څه ډول ، کوم ، څو ) پوښتنو ځواب وای‌ې .

د ټاکونکی د پیژندنې لپاره لاندې جملو ته ځیر شې

۱ـ زیار کښه بزګران ډیر کار کوي .

۲ـ مشر ورور ی‌ې د پښتو ژبې تدریس کاوه

۳ـ دی ښکلی او وطنپال ځوان وو

په پورته جملو کې (زیارکښه ، مشر، ښکلی ، وطنپال) کلمې د ټاکونکي په ډول راغلې دي.

**د ټاکونکي ډولونه**

ټاکونکي په دوه ډوله دي : ۱ـ اضافي ټاکونکي ۲ـ غیر اضافي ټاکونکي

**۱ـ اضافي ټاکونکي:**د ټاکل شوی کلمې څخه دمخه راځي اودټاکل شوې تابع ګرځي لکه په لاندې جملو کې :

۱ـ هارون د افغانستان دکلتور په باره کې کتاب لیکلی دی .

۲ـ د باغ ګلان ی‌ې راوړل

۳ـ هغې به تل په ویال تندي خبرې کولې

په پورته لومړۍ جمله کې (دافغانستان )کلمه د (کلتور)د کلمې ټاکونک‌ې ده په دوهمه جمله کې د(باغ) کلمه ټاکوونک‌ې ده اود(باغ) کلمه ټاکل شویده او په دریمه جمله

کې د(ویال)کلمه د (تندي) دکلمې ټاکونکې ده چې خپلې ټاکل شوې کلمې تابع ګرځي.

**اضافي ټاکونکي ډولونه**

۱ـ توصیفي اضافي ټاکونکي : هغه اضافي ټاکونکي چې د صفتونو په وسیله افاده کیږي توصیفي اضافي ټاکونکي بلل کیږي .

د توصیفي اضافي ټاکونکي د پیژندلو لپاره لاندې جملې وګورې:

۱ـ دهغه دمیړانې اوزړورتیا کیسې لوستونکي احساساتي کوي

۲ـ ټول خلک دهغوی دبدو عملونو څخه په تنګ شوي

۳ـ ښوونکی دزیار کښو زده کوونکو سره مینه لري .

په پورته جملوکې (دمیړانې اوزړورتیا ، بدو عملونو ، زیارکښو ) کلمې چې د خپلو موصوفو څرنګوالی بیانوي د توصیفي اضافي ټاکونکو په ډله راغلي دي.

**۲ـ اضافي نسبتي ټاکونکی:** هغه اضافي چې په نسبتي صفت سره افاده شي اضافي نسبتي ټاکونکی بلل کیږي .د اضافي نسبتي ټاکونکی د پیژندلو لپاره لاندې جملې په غور ولولې.

۱ـ ددمینې په اور کباب شوم.

۲ـ د زلمیتوب زمان د کار اوفعالیت زمانه ده.

۳ـ دمیړني ولس دودونه دهر چا خوښیږي.

په پورته جملوکې (دمینې ، زلمیتوب ، میړني ) کلمې نسبتي ټاکونکي دي .

**۳ـ ملکي اضافي ټاکونکی:** ملکي اضافي ټاکونکی هغه ټاکونکی دی چې یو ملکیت افاده کوي او یا دیو ملکیت څرګندونه کوي او دنوم او ضمیر په وسیله په جمله کې راځي .

لکه په دې لاندې جملوکې :
۱ـ د خاټول کتابونه ورک شول
۲ـ د مصطفی قلم پرون پیدا شو
۳ـ د هارون خبرې مې ډیرې خوښې کړی

په پورتنیو جملو کې ( د خاټول، د مصطفی ، دهارون ) کلمې دملکي اضافي ټاکونکي په ډول راغلي دي .ملکي اضافي ټاکونکی دنوم ، نومځري او متصل یا نا خپلواک نومځرو پوسیله جوړیدا شي .لکه پدې لاندې جملوکې :
۱ـ دملالۍ حماسي لنډۍ ډیرې مشهورې دي .
۲ـ زما کور په پکتیا کې دی
۳ـ کتاب مې ورک شو

په پورته جملو کې (دملالۍ کلمه نوم ، زما کلمه ضمیر او مې کلمه متصل ضمیر) په ډول راغلي او اضافي ټاکونکی هم بلل کیږي .

**۲ـ غیراضافي ټاکونکی**

څرنګه چې له نوم څخه ی‌ې معلومیږي پدې ډول اضافي ټاکونکي کې د اضافت توري نه راځي او ټاکونکي بې داضافت له توري د خپل ټاکل شوي تابع کیږي.پدې ډول اضافت کې ټاکونکی د ټاکل شوي څخه وروسته راځي اوغیر اضافي ټاکونکي ترې دمخه وي غیر اضافي ټاکونکي په دري ډوله دي :
۱ـ توصیفي غیراضافي ټاکونکی.
۲ـ عددي غیر اضافي ټاکونکی
۳ـ اشاري غیر اضافي ټاکونکی لکه په لاندې جملوکې :
۱ـ علامه عبدالحی حبیبي دتاریخ ښه استاد ؤ
۲ـ په ټولګي کې پنځه تنه ناست دي
۳ـ هغه هلک کورته ځي .

په پورته لومړۍ جمله کې د(ښه ) کلمه صفت او ټاکونکې ده او دخپل ټاکل شوي ( استاد ) څخه دمخه راغلې.په دوهمه جمله کې ( پنځه ) کلمه عدد او ټاکونکې ده او دخپل ټاکل

شوي (تنه ) څخه دمخه راغلې ده .په دريمه جمله کې ( هغه ) کلمه اشاري ضمير او ټاکونکې ده چې د خپل ټاکل شوي (هلک) څخه دمخه راغلې ده .

**متعدد ټاکونکی**

که چيرې دوه يا زيات ټاکونکي د يو ټاکل شوي څرګندونه وکړي متعدد ټاکونکی بلل کېږي.لکه پدې لاندې جملوکې:

۱ـ په دې کلي کې زلمي ډير لوړ ، قوي اوغښتلي سړي دي .

۲ـ دغه پيغله ډيره ښکلې ، لايقه او هوښياره معلومیږي.

۳ـ په هغه دفتر کې پنځه تنه مامورين دي چې په وظيفه مين ، په کار پواوتکړه دي .

په پورته لومړۍ جمله کې (لوړ، قوي اوغښتلي ) کلمې دسړي ټاکونکي .په دوهمه جمله کې (ښکلې، لايقه او هوښياره ) کلمې د پيغلې ټاکونکي او په دريمه جمله کې (په وظيفه مين ، په کار پو اوتکړه ) کلمې د مامورينو لپاره د ټاکونکي په توګه راغلې دي.

**ج ـ نحوي قيد**

که څه هم په ځانګړي ډول د قيد په اړوند په مورفولوژي کې خبرې شويدي اودا موضوع په مورفولوژي پورې اړه هم لري خو دلته يادونه ځکه اړينه ده چې ديوې غونډلې په جوړښت کې دقيد دنده ځانګړې شي او دجملو تحليل او تجزيه کې ستونزې راپيدا نه شي .د قيد په اړوند به همدومره ووايو چې قيد د جملې با غونډلې له پيروو برخو څخه دی چې د زمان اومکان څرنګوالی او يا دفعل سبب اومقصد څرګندوي لکه په دې لاندې جملوکې :

۱ـ هغوی په کراره کراره تلل

۲ـ ستا خبرې مې لږې لږې اوريدې.

۳ـ هغه پرون کابل ته لاړ.

په پورته لومړۍ جمله کې په ( کراره کراره ) ،په دوهمه کې (لږې لږې) او په دريمه جمله کې (پرون ) کلمې د قيد په

ډول راغلي دي .چې لومړی قید دفعل ځرنګوالی او حالت ښايي او دوهم د فعل اندازه معلوموي اودریم قید د فعل زمانه ځرګندوي .

**د نحوي قیدډولونه**

نحوي قید دالاندې ډولونه لري :

۱ـ د حالت او ځرنګوالي قید.

۲ـ دمقدار، اندازې اودرجې قید .

۳ـ دزمان قید .

۴ـ دمکان قید .

۵ـ دمقصد اوسبب قید .

**۱ـ د حالت او ځرنګوالي قید :** چې دیو فعل حالت او ځرنګوالی ښيي .

لکه پدې لاندې جملوکې :

۱ـ ښکلا په خندا رغله

۲ـ مصطفی په ژړا له کوره ووت

۳ـ هارون په بیړه کورته لاړ

په پورته جملوکې (خندا، ژړا ، بیړه)کلمې د خپلو افعالو لپاره د حالت او ځرنګوالي دقید په ډول راغلي دي .

**۲ـ د مقدار ، اندازې ، او درجې قید :** چې د فعل مقدار ، اندازه ، او درجه ښايي.

لکه پدې لاندې جملوکې :

۱ـ زه دوه ځله کابل ته تللی یم

۲ـ هغه خپلې ښادۍ ته ډیر خوشحاله وو

۳ـ د حمید مومند په دیوان کې عشقي شعرونه زیات دي .

په پورته جملوکې ( دوه ځلې ، ډیره ، زیات ) کلمې نحوي قیدونه دي.

**۳ـ دزمان قید :** چې دجملې د خبر دپیښیدو وخت ځرګندوي .لکه پدې لاندې جملو کې :

۱ـ په سپرلي کې هوا ډیره ښه وي .

۲ـ هغه پرون کور ته راغی

۳ـ زه هره ورځ ښوونځي ته ځم .
په پورته جملو کې (سپرلي ، پرون ، هره ورځ) کلمې دزمان قيدونه دي .
**۴ـ دمکان قيد:** دمکان نحوي قيد په جمله کې د فعل دواقع کيدو ځای ښيي.
لکه پدې لاندې جملو کې :
۱ـ زه پرون له کوره راغلم .
۲ـ مصطفی په کابل کې اوسي .
۳ـ ښکلا په چمن کې ګرځيده .
په پورته جملوکې ( له کوره ، کابل ، چمن ) کلمې دمکان نحوي قيدونه دي
**دمقصد اوسبب قيد :** چې په جمله کې د خبر دواقع کيدو سبب او مقصد ښيي .
لکه په لاندې جملوکې:
۱ـ ننګرهار کې دلويو کورونو د جوړيدو په خاطر يو شمير زاړه کورونه وران شول .
۲ـ هغه دناروغۍ له کبله په روغتون کې بستر شو .
۳ـ دوی د ښه کار له امله جايزه واخيسته .
په پورته جملو کې (دنويو کورونو د جوړيدو په خاطر، د ناروغۍ له کبله ، د ښه کار له امله) عبارتونه په جملوکې د خبر د واقع کيدو سبب او مقصد ښيي .
**متعدد قيدونه**
که چيرې دوه يا زيات قيدونه ديو خبر تابع وي او عين سوال ته ځواب ورکړي متعدد قيدونه ورته ويل کيږي .لکه پدې لاندې جملوکې :
۱ـ د ګل پاچا الفت شعرونه ډير سليس ،روان ، خواږه او له ابتکاره ډک دي .
۲ـ ښکلا ډيره ورخطا ، سرګردانه او خفه معلوميدله .
په پورته لومړۍ جمله کې (سليس، روان، خواږه) کلمې او په دوهمه جمله (وارخطا، سرګردانه ) کلمې متعدد قيدونه دي .

**په جمله يا غونډله کې د نحوي قيد ځای**

نحوي قيدونه د جملې په سر ، مينځ او کله هم د جملې په اخرکې راتلای شي .

لکه پدې لاندې جملو کې :

۱ـ په کراره کراره ےې خپله لار لنډوله .

۲ـ ښکلا ما ته په ژړا ژړا کې وويل.

۳ـ تعليمي کال په ختميدو دی.

۴ـ نه جوړيږي دا زمونږ او ستاسو کلی

مونږ ساده يو ته مکار ےې ځه پاڅيږه

په پورته جملو کې (کراره کراره) د جملې په سرکې ،(ژړا ژړا) د جملې په مينځ او د (ختميدو) کلمه د نحوي قيد په ډول د جملې په پای کې او په څلورمه جمله کې (کلې) کلمه پدې شعر کې د نحوي قيد په ډول هم دجملې په پای کې راغلي دي .

**د غونډلې بشپړ اند توکونه**

په ِغونډله کې د اساسي او پيرو برخو سربيره ځنې نوراوحدونه چې بشپړاند توکونه نوميږي هم شته چې په هغوکې خج ، سيلاب، آهنګ ، بيلتون ، او پيوستون شامل دي چې دا توکونه دليک نښو سربيره د غونډلې په مانيز جوړښت او د ويلو په ډول ځرګنده اغيزه کوي .

همدا لامل دی چې مونږ يې دلته يادونه اړينه بولو او لېترلږبايد زمونږ محصلين ورسره اشنا اوسي.

که څه هم داموضوع د څيړنې د اصولو له مخې په غږ پوهې پورې اړه لري او يا خو دفونيمونودالفونونو په خصوصياتو پوري تړلې موضوع ده .

په فونولوژي کې يوه موضوع د پره سوديکه ترعنوان لاندې راغلې ده چې دا په روسي ژبه کې پره سوديکه يا پره سوديه ، په انګليسي ژبه کې (prosody) ، په فرانسوي ژبه کې

(prosodie) ، په هسپانوي ژبه کې (prosodia) بلل شوې او معمولآ د فونيم پيژندنې په اثارو کې تر څېړنې لاندې را ې .چې دغو پديدو ته سوپرا سېګمنټ(Supra Segment) هم ويل کېږي .دا چې د غونډلې د ويلو يا وينا پروخت دغه پديدې په جملو اود جملو پر مانيز او تلفظي ډول ستر اغيزه ښيندي او د غونډلې مانيز جوړښت بدلوي نو ځکه يادونه ېې په غونډله پوهه کې هم و شوه ترڅو دا موضوع روښانه او دغونډلې په ويلو او له هغې څخه د معنا اخستنې پروخت له نظره ونه غورځول شي .

زمونږ په زياترو ژبپوهنيزو اثارو کې دغو پديدو ته فونيمونه ويل شوي دي چې په همدې سبب ېې دافونيمونه په دوه ګروپونو ويشلي دي مقطعه فونيمونه او عروضي فونيمونه .دغسې پديدو ته لکه خج او آهنګ ته عروضي فونيمونه ويل شويدي خو پټه دې پاتې نه شي چې دلته سيلاب له ياده ايستل شوی دی ځکه چې دا هم يوه پره سو ديکه پديده ده .حال داچې سيلاب، خج او آهنګ په هيځ ډول فونيمونه نه دي پدې کې شک نشته چې سيلاب ، خج او آهنګ د بيلو بيلو ژبو د جوړښت له پلوه کله فونټيکي او کله کله هم فونولوجېکي خصوصيتونه لري.

په پښتو ژبه او دنړۍ په زياترو هغو ژبو کې چې غير سيلابيک جوړښت هم لري سيلاب فونولوجيکي خصوصيت نه لري په دغسې ژبو کې سيلاب ا و د سيلاب بيلونه دمانا سره اړوندي نه لري ځکه نو سيلاب يو فونولوجيکي واحد نه دی . مګر په هغو ژبو کې چې سيلابيک جوړښت لري د سيلاب بريد او سرحد تل د مورفيم دسرحد سره مطابقت لري نو کيدای شي چې په دغسې ژبو کې سيلاب د سيلاب دفونيم دافادې د شکل په حيث وڅېړل شي .

همدارنګه دخج په اړه هم ويلای شو چې که څه هم خج په ځينو پښتو کلمو کې معنوي بيلوالی راوستلای شي خو په هيڅ صورت فونيم نه دی . خج بې له فونيمونو اصلآ موجوديت

نه لري ، خج د ژبو د غږيز جوړښت په اړه د کلمو په خاصو او ځان  و موقيعتونو کې د فونيمونو يو خصوصيت دی چې همدې خصوصيت پر اساس ديو فونيم لوفونونه سره بيلیږي خج لرونکی الوفون او بې خجه الوفون .
خج اصلآ بې له فونيم په جلا او مستقل ډول نه کوم اواز دی او نه هم تلفظ کيدای شي.
خج ديو فونيم  دالوفونونو دبيلولو او ټاکلو ځان  تياوو څخه يو خصوصيت دی . مونږ په پښتو ژبه کې د يو فونيم خج لرونکي الوفونونه اوبې خجه الوفونونه لرو ، خج لرونکي او بې خجه سيلاب لرو .چې يو ی‌ې د بل په پرتله  زيات او بل ی‌ې د بل په پرتله  په لږ فشار سره ويل کیږي .
همدارنګه آهنګ هم د غږيز جوړښت يو خصوصيت دی .
آهنګ د وينا د وييزې ب ې يو حتمي خصوصيت دی اوبې له آهنګه وينا ممکنه نه ده . پدې کې هم شک نشته چې اهنګ د جملو د مانا سره اړيکه لري اود آهنګ په بدليدو سره د نحوي ترکيبونو او جملو مانا بدلیږي . خو دلته هم څرګنده ده چې اهنګ په خپله کومه مستقله او جلا ژبنۍ نښه يا علامه نه ده او نه هم کوم ژبنی واحد دی بلکې دنحوي واحدونو دنورو خصوصيتونو په څنګ کې يو خصوصيت دی .په هر صورت دا چې خج ، سيلاب ،آهنګ د جملو په جوړښتي اومعنوي نظام اغيزه لري نو مجبور يو چې په لنډيز سره پرې رڼا واچوو .
**لغوي خج :** لغوي خج هغه اوازونه سره يو ځای کوي چې د کلمې يامورفيم بڼه جوړوي . که چيرې يوه کلمه تر يوه زيات سيلابونه ولري نو خج لرونکی سيلاب نور سيلابونه تر خپل تسلط لاندې راولي او ټول سره تړي . که چيره يو کلمه دوه سيلابي وي نو خج ی‌ې دوه بريدونه لري خج لرونکي او بې خجه . که چيري يو کلمه تر دوو زيات سيلابونه ولري نو په هغه صورت کې مهم خج لرونکی سيلاب توحيدي وظيفه اجرا کوي چې دا بيا د کلمو د اوازونو په تنظيم کې مهم رول لري .

خج د تل لپاره د مو قیعت له نظره دیو بل سره فرق لري په ځینو ژبوکې ځای ټاکلی وي او ځینوکې ی ې ځای متحرک وي .خج په ځینو کلموکې په لومړی سیلاب ، په ځینوکې په منځني سیلاب او په ځینو نورو کلمو کې په وروستي سیلاب راځي .لکه په لاندې کلموکې :
اوسپنه، لوړوالی او پرون په کلمو کې چې په لومړې کلمه کې په لومړي سیلاب په دوهمه کلمه کې په منځني سیلاب او دریمه کې په وروستي سیلاب کې خج راغلی .
اوس نو که چیرې په کلمو کې د خج ځای بدل شي نو کلمې ړنګېږي یا له منځه ځي .
دا چې خج د کلمو په جوړښتي نظام اغیزه لري دغه ډول د جملو په جوړښت او دهغوی په معنوي نظام هم بې اغیزه نه دی او کولای شي چې د خج په راوړلو یا ځای بدلولو جمله خپله مانا بدله یا له لاسه ورکړي .
غونډلیز خج هم هماغه پیاوړی خج دی چې د نوروتوکونویا واحدونو په ترڅ کې پریوه سیلاب راشي او هماغه خجن توک تر نورو زیات موخن (مطلوب) وښيي اونورتوکونه یا سیلابونه یا هیڅ خجن نه وي او یا دهماغه خجن یا پیاوړي خج تر اغیزې لاندې کمزوري ویل کېږ ي .چې په دې اساس درې ډوله غونډلیز خجونه سره توپیروو ، پیاوړی، لږپیاوړی، او کمزوری.لکه داولمیر استاد پدې سندره کې : چې ښاغلي پوهان زیار په خپل کتاب پښتو پښویه کې راوړې:
« ستا د سترګو بلا واخلم ، بیادې ستر ې ولې سرې دي »چې (ولې) پیاوړی، پر(واخلم) لږپیاوړی او پر (سترګو) کمزوری خج اوریدل کېږ ي یا لکه پدې لاندې جملو کې :
ته کورته ې ، ته کورته ې ، ته کورته ې.
اوس که دلومړې جملې په لومړنۍ (ته ) په ضمیر پیاوړی خج راشي دا جمله تعجبي یا هیښني ګرځي او دلیک نښو په مراعات کولو باید دا جمله پدې ډول ولیکو: (ته کورته ې!)په دوهمه جمله کې که د(کور) پرکلمه کمزوری خج راشي نو

جمله خبري يا بيانۍ شکل غوره کوي اوداسې ليکل کيږي : (ته کورته ې)همدارنګه که په دريمه جمله کې د ( ې) پر کلمه لږ پياوړی خج راشي نو جمله د پوښتنې بڼه غوره کوي اوداسې ليکل کيږي : (ته کورته ې؟)

يو بله خبره چې دلته بې يادونه اړينه ده هغه داده چې دجملې دتلفظ او ادا کولو په وخت کې د فشار دځای بدلول مستقيمآ د جملې مانا بدلوي نو ښه به داوي چې ديوې جملې دلوستلو په وخت ددې خبرې خيال وساتل شي او چيرې چې فشار اچول ضروري وي په هماغه ځای کې مراعات شي .د بيل ې په ډول دا لاندې جمله وګورئ:


دا زما ورور دی .

اوس که چيرې د جملې په لومړی سيلاب فشار راوړو نو پدې صورت کې د جملې ويونکی دخپل ورور له کار اوعمل څخه راضي او خوښ معلوميږي .همدارنګه که چېرې جمله په کمزوري فشار ادا شي يوه بيانيه جمله ترې جوړه او پورته دواړه مانيز اړخونه بايلي .

**څپه يا سيلاب :** سيلاب ډير کوچنی ويز واحد دی د وينا يا جملې دادا کولو په وخت کې جمله په وړو وړو ټوټو بيلوي او دا وړې ټوټې په خپلو کې سره اړيکې لري . دا سيلابونه د مختلفو ژبو دجوړښت له مخې متفاوت خصوصيتونه لري . په هغو ژبو کې چې سيلابيک جوړښت لري . سيلابونه ې دمانا سره اړيکه لري خو هغه ژبې چې سيلابيک جوړښت نه لري سيلابونه ې هم له مانا سره اړيکه نه لري لکه پښتو ژبه چې که يو ه کلمه يا جمله ې په سيلابونو وويشو نو په مانا د جملو کې کوم اغيز نه راوړي او که ې په فونيمونو وويشو نو بيا د سيلاب له سرحد څخه تيريږو او فونيمونو ته ور داخليږو ،نوځکه ويلای شو چې په پښتو ژبه کې يوه څو سيلابيزه کلمه هر څومره ورو يا په غير طبيعي ډول تلفظ کړو پدې نه بريالي کيږو چې هغه سربيره په طبعي ټوټو پرنورو وييزو ټوټو تجزيه کړو.

بله داچې په یوه ژبه کې سیلابونه د تل لپاره په کلموکې دواولو یا خپلواکو اوازونو په موجودیت پورې اړه لري او واول اواز دسیلاب حتمې غړی دی .په ژبه او وینا کې دتل لپاره هرسیلاب درې وییزې مرحلې لري .شروع ، جګوالی و ټیټوالی چې دا دریواړه وییزې مرحلې یوه په بلې پسې متصلې یا تړلې ویل کېږ ي او دوینا له پلوه نه تجزیه کیدونکی خصوصیت لري .

دسیلابونو دخصوصیاتو له مخې د پښتو ژبې د سیلابونو سرحدونه د وینا په جریان کې د وییزو غړو د فشار پر اساس په متناوب ډول جګیږي او ټیټیږي .هره ټیټه نقطه چې په هغې پسې بل جګوالی شروع کیږي د سیلابونو سرحدونه دي .لکه پدې لاندې شکل کې :



**آهنګ (Intonation)**

د هغو وسايلو يا شيانو مجموعي ته چې وينا تنظيموي آهنګ ويل کېږ ي .آهنګ دوينا وييزې ب ې حتمې خصوصيت دی اوبې له آهنګه وينا ممکنه نه ده هغه وسيلې چې داهنګ د اجزاوو په حيث دوينا په وييز نظم کې برخه اخلي دادي :

۱ـ ميلودي ــ داساسي تون د آواز حرکت (ټيټدل او لوړيدل ) دي .

۲ـ وقفه ــ د جملې پرکومې برخې دآواز توقف دی .

۳ـ خج ــ چې دجملې کومه برخه نسبت نورو برخوته په زيات فشار سره ويل کيږي .

۴ـ ټيمپ ــ يعنې د جملې کومه برخ نسبت بلې يا نورو برخوته په زيات سرعت سره ويل کيږي .

۵ـ ټيمبرــ يعنې د جملې موسقيت .

د آهنګ دغه پورتنې اجزا د مفاهيمې په پروسه کې په ه په يوه وحدت کې عمل کوي . آهنګ په وييز سستم کې مهم ځای لري اومختلفې دندې سرته رسوي . د بيل ې په توګه : وينا په نحوې واحدونو بيلوي ، جملې تنظيموي او سره بيلوي يې آهنګ د افکارو ، احساساتو اود اشخاصو د ارادې پر څرګندولو کې فعاله برخه اخلي . د وينا داوريدو په وخت مونږ يوا ې د آهنګ په مرسته پدې پوهيدای شو چې جمله استفهامي ، امري ، ندايې، تهديدي ، تعجبي، احساساتي يا دخو يا غم مفهوم او مانا افاده کوي .

د آهنګ په بدليدو سره پرته له دې چې د جملې په ترکيبي اجزاوو کې کوم بدلون راشي د جملې مانا بدليدای شي .

آهنګ يوه فونېټيکي پره سوديکي پديده ده اود نحوې سره دهمدې پورتنيو خصوصياتو له مخې مستقيمې اړيکې لري او بايد

دنحوي واحدونو ديو خصوصيت په حيث وڅېړل شي . آهنګ پخپله کومه مستقله ژبنۍ نښه يا علامه نه ده بلکې د ژبنۍ ن ې (نحوي واحد) يو خصوصيت دی .
همداسبب دی چې مونږ د غونډلو په مانيز نظام کې آهنګ تر څېړنې لاندې وينوه اودهغې په اړوند مو لږه رڼا واچوله .د پښتوژبې ګرامر پوهانو د غونډلو آهنګ په دريوو ډولو ويشلی دی :
خبري آهنګ ، پوښتنې آهنګ، هيښني آهنګ او بلني آهنګ
**۱ـ خبري غونډلې آهنګ :** ددې راز غونډلې اهنګ هوارپيلیږي او بيا غورځيدلی پروت پای ته رسیږي .لکه: دازمونږ وطن دی .يا لکه : زمری راغی.
**۲ـ دپوښتنې غونډلې آهنګ :** ددې راز غونډلې آهنګ ټیټ پيل مومي او بيا نيغ شوی پروت پای ته رسیږي .لکه : دازمونږ وطن دی؟يا لکه : زمری راغی؟
**۳ـ هيښني او بلنې اهنګ:** ددې ډول غونډلې اهنګ ټیټ پيلیږي بيا پورته ځي آو په پای کې ريب پای ته رسيږي .لکه :
دازمونږ وطن دی!
يا لکه: زمری راغی !
**يادونه** :ـ د جملو نور ډولونه زمونږ دګرامر پوهانوپه حواله دهمدې دريمې جملې دآهنګ په ډول راځي .
**بيلتون او پيوستون**
دبيلتون او پيوستون ه مطلب دادی چې دنحوي واحدونود پای مورفيمونه ياکلمي سره پيوستې يانا پيوسنې وويل شي او يا داچې د جملو د برخو ترمنځ وقفه په خپل ځای کې مراعات شي يعنې که وقفې ته په جمله کې اړتيا پيښه شي په هماغه ځای کې وقفه راشي اوکه چيرې ددې اړتيا وليدل شي دجملې برخې پيوسته او تړلې اداشي نو هلته به پيوستون راځي او وقفه به پکې نه راوړل کیږي اودا ځکه چې پخپله وقفه

د جملې مانا ته تغیر او بدلون ورکوي او یا ئې مطلوبه مانا له منځه وړي .
نولازمه ده چې جمله پخپله متوازن اوطبعي طریقه ولوستلی یاوویلی شي . د مطلب د ښه وضاحت او ځرګندتیا په خاطر لاندې جملې وګورئ:
راځه مه ودرېږه ــ پاڅه مه کېښنه
اوس که ووایو چې ( راځه مه ــ ودرېږه ـ پاڅه مه ــ کښېنه ) او که ووایو چې
( راځه ـ مه ودرېږه ـ پاڅه ـ مه کښېنه) په پورته جملو کې د بیلتون او پیوستون یاود قفې د ځای په بدلولو د جملو مانا بدله شوه .
یا د اجمله : ما ماما ته یو کتاب راوړ.
په پورته جمله کې دلومړي (ما) او (ماما)ترمنځ بیلتون موجود دی .او که چیرې دا بیلتون د (ماما ) اوورستي(ما) ترمنیځ راوړو نو باید جمله دا ډول ولولو (ماما ـ ما۔ ته یو کتاب راوړ) یعنې په لومړې جمله کې وقفه د(ما اوماما) ترمنځ راوړو او په دوهمه جمله کې وقفه د (ماما اوما ) ترمنځ راوړو نو دجملې مطلوبه مانا ورسره سمه بدلیږي .
یا داچې :
هغه سر له سبا نه غواړي چې خپل کار پیل کړي .
ددې جملې مانا داده چې هغه له سبا له خیره خپل کار پیل کوي .
خو که چیري دا وقفه (له سبا نه) وروسته او له (غواړي ) دمخه راشي مګر چیرې دا جمله داسې وویل شي چې وقفه (له سبا ) وروسته او(نه غوړي)دمخه راشي نودجملې مانا به بدله شي او منفي بڼه به غوره کړي .

**دتير بحث پوښتنې**

په لاندې جملو کې دغونډلو پیروې برخې او بشپړ اند توکونه پیدا او بیا ېې په دلایلو سره ځرنګوالی ځرګند کړې.

۱ـ هغه کتاب لولي .
۲ـ په پوهه هر څه سمیږي .
۳ـ زه نه غواړم بیکاره پاتې شم .
۴ـ ما هغه ته ویلی ؤ.
۵ـ هر څوک خپل کار ته متوجه دی.
۶ـ په سپکو ،سپورو خبرو هر څوک خفه کیږي .
۷ـ دوی له هغوسره خبرې وکړي .
۸ـ توریالي ډیرې نا خوالې وزغملې .
۹ـ انسان تابع داحسان دی.
۱۰ـ د وطن عزت په سر ساتل کیږي .
۱۱ـ پروطن مینان وطن ابادولی شي .
۱۲ـ دزړه په وینو ېې اولادونه وروزل .
۱۳ـ میړانه اوزړورتیا دانسان ښه صفتونه دي .
۱۴ـ په ښوونکي لایق زده کوونکی ګران وي .
۱۵ـ افغانیت او اسلامیت سره تړلي دي .
۱۶ـ اولسیتوب ښه اخلاق غواړي .
۱۷ـ د توریالیو کارنامې مې خوښېږي .
۱۸ـ زماکور په کابل کې دی .
۱۹ـ کوږ بار تر منزله نه رسیږي.
۲۰ـ ترکاڼي د بیزو کار نه دی.
۲۱ـ عبدالشکور رشاد دپښتو ژبې اوادب پیاوړی استاد ؤ.

۲۲ـ پدې کوټه کې درې تنه اوسیږي .
۲۳ـ دوی کورته لاړل.
۲۴ـ ملالۍ په زړورتیا او میړانه کې ډیر شهرت لري.
۲۵ـ دغه نجلۍ لایقه اوهوښیاره ده .
۲۶ـ دوی په منډه له کوره ووتل.
۲۷ـ هارون پرون کابل ته لاړ.
۲۸ـ سپینه په ژړا راغله .
۲۹ـ لایقه په بیړه کورته لاړه .
۳۰ـ هغوی درې وارې ننگرهار ته لاړل .
۳۱ـ د رحمان بابا دیوان صوفیانه شعرونه ډیر لري .
۳۲ـ زه هره ورځ دندې ته ځم .
۳۳ـ هغه په پارک کې گرځیده .
۳۴ـ شاکر له ناروغۍ ستر شو
۳۵ـ هغوی د ښه کار له امله تقدیر شول .
۳۶ـ دبینوا شعرونه ډیر خواږه او له ابتکاره ډک دي.
۳۷ـ ځانگه خوشحاله او خوښه ښکاریده .
۳۸ـ نه مړیږي دغه وږي د کلونو
کانې کله او به کیږي په باران

په لاندې کلموکې خجونه ،سیلابونه ، په نښه کړئ؟
۳۹ـ ملگرتیا ، زړورتوب، لړمون، ښکاري ، لاروی، گرم.
په لاندې جملوکې دوقفو ځایونه وټاکې:
۴۰ـ ځوانان دا وطن ابادول او جوړول غواړي ـ د خلکو د امید ستر ې ستاسو په لور دي ــ تاسو دکار قدرت لرې اوهر څه مو په وس پوره دي .

لاندې دآهنګ له مخې ونوموې؟
۴۱ـ دازمامینه ده .
۴۲ـ دا مینه به زه ساتم .
۴۳ـ په مینه له سره تیر شې
۴۴ـ خپله مینه په مینه وساتې
۴۵ـ پردی کټ تر نیمو شپو وي .
۴۶ـ تر پروت زمري ګرځنده ګیدړ ښه دی .
۴۷ـ دا پیټی مړې په شا کړه .
۴۸ـ زه دې چې غوښتم دادی راغلم .
۴۹ـ ګوره چې په خپل جمال اوکمال مغروره نه شې.
۵۰ـ لکه غو هر سهار خلکو ته خانده

**نوموالە (اسمي) او کړواله (فعلي) غونډله**

**۱ـ نوموالە غونډله :** که چیرې په یوه غونډله کې مبتدا او خبر دواړه نومونه یا دنوم له دلې څخه وي او ورسره نیم ي افعال راغلي وي نوموالە غونډله بلل کیږي .

لکه پدې لاندې غونډلوکې :

۱ـ خدای (ج) یودی.
۲ـ هغه ناروغه دی.
۳ـ زه ښوونکی یم .

په پورته لومړۍ جمله کې ( خدای«ج»)نوم ، (یو) عدد او (دی) نیم ی فعل دی .

په دوهمه جمله کې (هغه)ضمير،(ناروغه) صفت او (دی) نيم  ی فعل دی .په دريمه جمله کې (زه) ضمير،(ښوونکی) نوم او (يم) نيم  ی فعل دی .

داچې په درې واړو جملوکې مبتدا او خبر نومونه يا دنوم له ډلې څخه دي نو ځکه ورته نومواله غونډلي ويل کيږي .

**٢ـ کړواله غونډله:** که چيرې په يوه غونډله کې مبتدا دنوم له ډلې څخه وي. او په خبر کې پوره فعل واقع شي نودې جملې ته کړواله عونډله وای‌ې .لکه پدې لاندې غونډلو کې :

١ـ زه ځم .

٢ـ هغه راغلی.

٣ـ دوی به لاړشي.

داچې په پورته دريواړو جملوکې مبتدا د نوم له ډلې (ک  وري) څخه راغلی او خبرونه ی‌ې له پوره افعالو څخه جوړ دي نو ځکه ورته کړواله غونډلې ويل شويدي .

**د ساده يا يوستوي (مفردې) غونډلې مانيز ډولونه**

څرنګه چې د غونډلې مانيز ډولونه د غونډلو د آهنګ او فشار سره نيغ په نيغه اړيکې لري اوپه پښتو ژبه کې پدې موضوع تراوسه کوم علمي ، لابراتواري او پوره څيړنه نه ده شوي نو ځکه دغونډلو دمانيز ډولونو ښودنه يوه څه ستونزې لري او همدا لامل دی چې ګرامر پوهانو تر اوسه پورې پدې برخه کې کومه ټاکلې نوم ای‌ښودنه نه ده کړې او که کړې هم وي دنظر اتفاق پرې نه لري .

ځينې  ګرامر پوهانو څلور ډوله ، ځينو نورو په لس ډوله او چا هم له شلو ډولونو پسې خبر اړولې اوهر څه ی‌ې چې زړه غوښتې هس‌ې ی‌ې نومولي دي، ښه خبره خو داده چې پدې برخه کې علمي او لابراتواري څيړنې وشي او که بيا دا کار نه کيږي نودې دنورو ژبو هغو علمي اومعتبرو ماخذونو ته مراجعه

وشي او بيا دې دهغوې نوم ایښودنه د خپلې ژبې په غونډله پیزو ځان تیاوو تطبیق او تر څېړنې لاندې ونیسي .

زه همدااوس ددې مطلب دڅرګندتیا لپاره کابو (۲۳) ګرامرونه په مخ کې لرم خویو دبل سره پدې باب هم نظره ندې او نه دخپلې مدعا اوغوښتنې د څرګندتیا ثبوت لپاره څه علمي دلایل لري . پوهاند دکتور مجاور احمد زیار د پښتو پښوې په کتاب کې د جملې مانیز ډولونه په لاندې ډول ښودلي دي .

غونډلې د کړدود له مخې په خبري یابیاني او ناخبري یا انشایي او التزامي ویشل کیږي.

دغونډلې مانیزډولونه

خبري یا بیاني ناخبري یا انشاې اوالتزامي

که څه هم زمونږد پښتو ژبې ګرامرپوهانو په خپلو ګرامرونوکې د خبري اوناخبري جملې خبره کړیده خو ښه به داوی چې د(خبري) پر ځای ی‍ې (بیانیه) او (ناخبري ) پرځای (انشایه) جمله راوړې وای ځکه چې د خبر کلمه په جمله کې یو بیل او جلا بحث دی. ددې لپاره چې دخبري او ناخبري کلمې استعمال کړو دهغوپر ځای مونږ دلته بیانیه او انشایه جمله راوړو تر څو ی‍ې دجملې دخبر سر توپیر وشي .

**لومړۍ بیاني ساده غونډله:** بیاني غونډله هغه غونډلې ته ویل کیږي چې دیوڅیز د حال او کیفیت څرګندونه کوي .یا په بله وینا چې یوفکرد خبرپه توګه بیانوي ، یا داچې هغه جمله چې پکې درښتیا او دروغو احتمال کیدای شي. دبیانې جملې په پای کې ټکی ایښودل کیږي .

د بیاني غونډلې د پیژندنې لپاره لاندې جملې په غور وګورئ.

۱ـ دمیرویس نیکه ټلو کارونه د ویاړنې وړ دي .

۲ـ احمدشاه ابدالي د خپلې خاوري ښه ساتنه کړیده .

۳ـ ټول افغانان غازي وزیر محمد اکبر خان ښه پیژني .

بیانیه غونډله کیدای شي مثبت اړخ ولري .لکه :
ملالۍ د پښتو شمله او چته کړه .
همدا ډول کیدای شي منفي اړخ ولري .
لکه: دلته رڼا نشته .
دبیانې جملې منفي ب ې د ښودلو لپاره دنفې (نه) نا خپلواک مورفیم دخبر په برخه کې راځي
او غونډلو ته منفي بڼه ورکوي.دبیاني یا اخباري جملې په هکله چې پوهاند دکتور محمد حسین یمین په خپل کتاب ( تیوری های نحوی) کې څه ویلي دي له هغې څخه دا څرګندیږي چې ګوماني ، تمنایي ، شرطي او تاکیدي جملي هم دبیاني جملي په ډولونو کې راځي .او ښاغلی څیړونکي سید محی الدین هاشمي هم په خپل کتاب ( د پښتو ژبې لنډ ګرامر) کې هم خبري جمله د یو واقیعت د تایید ، تصدیق او تاکید لپاره منلې ده .
خو پوهاند دکتور مجاور احمد زیار په خپل کتاب( پښتو پښویه )کې دیوستوې یا ساده جملې نور مانیز ډولونه په انشاې غونډله کې شامل بولي .
**دوهم : انشایي یا التزامي ساده غونډله:** انشایي غونډله هغه غونډلې یا جملې ته وایې چې په هغې د رښتیا او دروغو څه احتمال نه پیدا کیږي
انشایي جمله دا لاندې ډولونه لري :
۱ـ د پوښتنې ساده غونډله : پدې ډول غونډلو کې دویونکي مطلب پوښتنه وي اودا پوښتنه د ځواب غوښتونکې وي او په پای کې یې د پوښتنې نښه (؟) اښودل کیږي.
لکه دالاندې جملې:
۱ـ ته چیرته ې؟ ۲ـ ته کله راغلې ؟ ۳ـ چاته وایې؟ ۴ـ ته څه غواړې؟
د پوښتنې ساده جمله دوه ډوله جوړیږي :
الف : د پوښتنې کلمو یا مورفیمونو په راوړلو سره:

لکه : څوک ، څه ، چا، چیرته ، څه ډول ، څرنګه ، ولې ، څله ، کوم ، څنګه ، او داسې نور.
دبیل ې په ډول :
څوک راغی؟ څه غواړې؟ چاته وایې؟ چیرته ې؟څه ډول راغلې ؟ اوداسې نور .
ب: په آواز د فشار په واسطه :
پدې ډول پوښتنیزو جملو کې منطقې فشار په یوه کلمه یا دجملې په یوه برخه راځي اود جملې هغه برخه چې فشار پري را ې دروند، قوي اولوړ تلفظ کیږي .لکه دالاندې جملې:
۱ـ هارون په کورکې شته ؟
۲ـ ښکلا ډوډۍ خوړلې ده ؟
۳ـ هغه لیک لیکلی دی ؟
**۲ـ دامر ساده غونډله :** هغه غونډله چې دویونکی فکر اوهدف دامر،حکم ، هیلې اوغوښتنې په ډول بیان کړي ساده امري جمله بلل کیږي .
دا ډول جملې په عادي ډول تلفظ کیږي اود خبربرخه ېې دامر په صیغه (کلمه) افاده کیږي.
لکه پدې لاندې جملو کې:
۱ـ د ښوونکي خبرو ته غوږ ونیسه !
۲ـ دوخت څخه ه واخله !
۳ـ په غلطه لار مه ځه!
**۳ـ خطابي ساده غونډله:** په هغو غونډلو کې چې دویونکي فکر او هدف په لوړو احساساتو او هیجان سره څرګند شوي وي .
دخطابي یا ندایي جملې په اخیرکې دندا(!) نښه ایښودل کیږي .
شعارونه او خطابې ټول په خطابي جملو سره لیکل کیږي .
او کله کله کیدای شي چې د ندا لپاره ادات یا نا خپلواک مورفیم هم ورسره شي .
لکه پدې لاندې جملوکې :

۱ـ ای خدایه خیر کړې!
۲ـ ګرانو وطنوالو سره یو شئ!
۳ـ خپل هیواد ودان کړئ!
**۴ـ تعجبي ساده غونډله :** تعجبې ساده جمله د تعجب او حیرانتیا د حالت څرګندونه کوي . د تعجبي جملو سره هم کیدای شي د پوښتنې جملې په شان ضمیرونه راشي خو پدې ډلو جملوکې پوښتنه د ځواب غوښتونکې نه وي.لکه دا لاندې جملې :
۱ـ څه ښکلې منظره ده !
۲ـ څومره ښه هواده !
۳ـ څومره ښه هلک دی!
**۵ـ تمنايي غونډله:** چې دیو شي هیله او ارمان پکې څرګند شوي وي .
اود تمنا اوارمان مورفیمونه ورسره راغلي وي .لکه پدې لاندې جمله کې:
۱ـ کاشکې هغه مو لیدلای وای!
۲ـ ارمان چې مصطفی دلته وای !

**۶ـ قسمیه ساده غونډله :** چې د قسم اولوړې کولو په وخت کې استعمالیږي.لکه دالاندې جملې :
۱ـ قسم دی که دې پریږدم !
۲ـ په خدای چې سبا درځم !
**۷ـ دوعایه ساده غونډله :** چې دخیر ، ې دغوښتنې او څرګندولو لپاره ویل کیږي .
لکه دالاندې جملې :
۱ـ ځه الله دې مرستندوی شه !
۲ـ غازیانو تن مو مل شه !
**۸ـ ټینګاري غونډله :** د تاکید او ټینګار په غرض ویل کیږي .لکه دا لاندې جملې :
۱ـ ته به خامخا هارون وینې!

۲ـ هغه دې حتمي راشي !

**۹ـ ګماني،شکي او احتمالي غونډله :** چې دګمان ،شک او احتمال په ډول راځي او مطلب ئې ثابت نه وي.

لکه دا لاندې جملي:

۱ـ ښايې هغه راغلى وي .

۲ـ ګوندې هغه راشي .

۳ـ هغه به لاړ شي كه نه.

**دتير بحث پوښتنې**

۱ـ دنوموالې او کړ والې غونډلې ترمينځ تو پير دمثالونو په واسطه څرګند ئ؟

په لاندې غونډلو کې بياني، امري ، پوښتني، خطابي، تعجبي، احتمالي يا ګماني، تمنايي ، قسميه ،ټنګاري جملې په نښه کړئ؟

۱ـ زمام ورور په پوهنتون کې محصل دى

۲ـ زه نه غواړم بې سواده پاتې شم .

۳ـ زمونږ وطن تراوسه نه دى ودان شوى.

۴ـ له تا څخه چا پوښتنه كړې.

۵ـ ته به كله راشې.

۶ـ كا كا په كوركې شته .

۷ـ هغه دې خپل درس ولولي.

۸ـ بې ځايه خبرې مه كوه .

۹ـ ګرانوهيواد والو اتحاد وکړئ.

۱۰ـ دا څه ښه ننداره ده.

۱۱ـ زما ی‌ې په تا څه.
۱۲ـ زه د چا پروا نه لرم .
۱۳ـ کاشکې هغه ژوندی وایی.
۱۴ـ ارمان چې زما ورور نشته .
۱۵ـ په خدای چې کتاب دې راوړم .
۱۶ـ ستاسو دې خدای مل شي .
۱۷ـ زه به هرو مرو درځم.
۱۸ـ ګوندې هغه په کانکور کې بریالی شي .
۱۹ـ ښایي هغوی رانه شي .
۲۰ـ زه له هغه کومه توقع نه لرم .

**د غونډلې (جملې) جولیز ډولونه**

د جولې یا د شکل او څومروالي له مخې غونډله په لاندې ډولونو ویشل کیږي

۱ـ ساده یا یوستوې (مفرده) غونډله .
۲ـ غبرګه (مرکبه) غونډله.
۳ـ ه (آمیخته ) غونډله .
۴ـ له (مختلطه) غونډله.

**لومړی ـ ساده یایوستوې (مفرده) غونډله :**

ساده یا یوستوې غونډله هغه غونډلې ته ویل کیږي چې یو مبتدا اوخبر ولري .لکه دا لاندې غونډلې:
۱ـ هارون لاړ.
۲ـ ګلان په سپرلي کې غوړیږي .
۳ـ درياضي ، پښتو ، هندسې، او کیمیا ازموینه خلاصه شوه .
۴ـ زده کوونکي په کتابتون کې ورځپا ې ، مجلې ، قاموسونه او کتابونه ګوري.

په پښتوژبه کې ساده یا یو ستوې غونډلې په لنډو، اوږدویا منکشفو او څو جز لرونکو غونډلو وېښل کیږي چې وروسته به هره یوه په ترتیب سره وڅیړل شي .

**الف ـ ساده یا یستوې لنډه غونډله :** هغه ساده غونډلې ته ویل کیږي چې یوا ې د غونډلې اساسي اجزاوې (مبتدا اوخبر) ولري اونورې پیروې برخې ونه لري .لکه دا لاندې غونډلې :
١ـ سپرلی راغی، ٢ـ ګل وغوړید، ٣ـ مصطفی لاړ.
په پورته ساده لنډه غونډله کې یوا ې دغونډلې اساسي اجزوې(مبتدا او خبر ) راغلي دي اونورې پیروې برخې نه لري .په لومړۍ جمله یا غونډله کې (سپرلی) مبتدا او (راغی)خبر دی .
په دویمه غونډله کې (ګل)مبتدا او (وغوړید) خبر دی .همدارنګه په ځلورمه غونډله کې (مصطفی ) مبتدا او (لاړ) خبر دی .
**ب ـ ساده اوږده یامنکشفه غونډله :** هغه غونډلې ته ویل کې ي چې داساسي یا بنسټیزو برخو(مبتدا او خبر ) سر بیره د غونډلې پیروې برخې هم ولري .لکه دا لاندې غونډلې:
١ـ بزګرد خپلو ځارویو ښه پالنه کوي .
٢ـ هغه زما په لیدو ډیر خوښ شو .
٣ـ زمونږ هیواد په خپله غیږه کې ښه نومیالي روزلي دي .
په پورته لومړۍ غونډله کې (بزګر) مبتدا (د خپلو ځارویو) پیروې برخې او (پالنه کوي) خبر دی .په دوهمه غونډله کې (هغه) مبتدا (زماپه لیدو) پیروې برخې او (خوښ شو) خبر دی .
په دریمه غونډله کې (زمونږ هیواد) مبتدا (په خپله غیږکې ښه نومیالي ) پیروې برخې او (روزلي دي) خبر دی .
**ج ـ ځوجزلرونکې ساده غونډلې:** ځوجزلرونکې یا د متعددو اجزاوو لرونکې ساده غونډلې هغو غونډلو ته ویل کې ي چې یو جز داجزاوو یا برخو ځخه یې ( مبتدا یا خبر) په متعدد ډول راغلی وي .لکه دا لاندې غونډلې :
١ـ د فوټبال ،هاکي، والیبال او باسکټبال لوبې زیات مینه وال لري .
٢ـ ښوونکی په ه کې کتاب، تباشیر،قلم او تخته پاک اخلي .
په پورته لومړۍ غونډله کې فوټبال، هاکي، والیبال او باسکټبال کلمې د(لوبې) د کلمې مشخص کوونکې اود

جملې له متعددو اجزاو څخه ل کیږي . او داچې (لوبې) کلمه د جملې مبتدا او د (څه شي ) پوښتنې ته ځواب وایې نودمتعددو اجزاوو نورې کلمې هره یوه د( لوبې) دکلمې په شان د څه شې پوښتنې ته ځواب ورکوي.په دویمه غونډله کې کتاب، تباشیر، قلم اوتخته پاک د (اخلي) د کلمې بشپړوونکي او دغونډلې خبر بلل کیږي اود متعدد خبر هره کلمه د(ځه ــــ کوي ؟) پوښتنې ته ځواب ورکوي.لکه : څه کوي؟ کتاب اخلي ، تباشیراخلي. اونور

نو ویلای شو چې په دوهمه جمله کې د جملې یا غونډلې خبر په متعدد ډول راغلی دی.

**حذف شوې یا نابشپړه ساده غونډله**

په ساده یا یوستوو غونډلو کې حذف شوې یا نابشپړه غونډله هم شاملیدای شي . پدې ډول غونډله کې ځینې برخې نه وي راغلې یا حذف شوې وي اودا ډول غونډلې زیاتره په دیالوګ کې پکار وړل کیږي .لکه دالاندې غونډلې :

ماله هغې څخه پوښتنه وکړه:

نوم دڅه شې دی ؟

ښکلاڅوکلنه یې؟

شل کلنه .

چې ددې غونډلې بشپړه بڼه داسې را ې، ماله هغې څخه پوښتنه وکړه ، ستانوم څه شې دی؟زما نوم ښکلا ده . ته څوکلنه یې ؟ زه لس کلنه یم .

**د تیر بحث پوښتنې**

په لاندې غونډلو کې ساده لنډې ،ساده اوږدې یامنکشفې او متعددو اجزاوو لرونکې غونډلې په نښه كړئ.

۱ـ هغه راغې .

۲ـ هغه له بازار څخه سودا واخیسته .

۳ـ هارون لاړ.

۴ـ واوره اوریږي .

۵ـ پښتو یوه زړه اریایې ژبه ده .

۶ـ مونږ دخپلوقهرمانانو په کړو وړو ویاړو .

۷ـ سړه هوا،باد،باران او واورې د ژمي دموسم ن ې دي .

۸ـ ښوونکي، زده کوونکي اود ښوونځي نور منسوبین د ښوونځي په پاکولو لګیا دي .

۹ـ مخ د یار شمس وقمر درې واړه یودي .

۱۰ـ دساده یا یوستوو (مفردو) غونډلو پنځه پنځه مثالونه په خپلو کتابچو کې ولیکې؟

**دويم ـ غبرګه (مرکبه) غونډله :**

د غبر ې يا مرکبې غونډلې په هکله هم زمونږ د ګرامر پوهانو ترمنځ دنظر يووالى نه ليدل کيږي . همدا خبر مونږ دې ته اړ باسي چې ددوى هغه تعريفونه چې د غبرګ غونډلې په هکله ى‌ې کړې دي راوخلو اوله هغې وروسته بيا هغه فيصله چې وره او مؤثره وي وليکو.

ښاغلې پوهاند دوکتور مجاور احمد زيار د خپل کتاب (پښتو پښويه) په (۲۲۳) مخ کې د غبر ې غونډلې تر عنوان لاندې ليکلي دي :«غبرګه غونډله هغه ده چې ديو اکښي (مبتدا) او يو اکښونى (خبر) پرځاى دوه دوه اک ې او اکښونيولري. يا په بله وينا که ديوې پوهونې او مطلب د بشپړتيا يا دوو اړوندو مطلبو د ښرګندونې لپاره سره دوې غونډلې په کوم اړيک وييکي غبر ې اوملګرې شي او يوه غبرګغونډله مينځ ته راړي.داړيکوييکو دډولونو له مخې سره ډول ډول غبرګغونډلې توپيرولاى شو .

د غبرګغونډلې په دواړو بيلو بيلو غونډلوکې يوه اره ياخپلواکه او بله ښرمه (فرعي) يا بيواکه غونډله بلل کيږي .آره يا خپلواکه پدې مانا چې آر مطلب او موخه پکې ښرګنديږي او ځانته په خپلو پښو دريداى شي . ښرمه يابيواکه پدې مانا چې آرمطلب اوموخه پکې نه ښرګنديږي او ځانته په خپلو پښو دريداى نه شي ».

آغلې پوهندوې ډاکټر زرغونه زيور رښتين د خپل کتاب (پښتونحوه) په (۲۰۲) مخ کې ليکلي: «مرکبه (غبرګه ) جمله : ددوو يا زياتو ساده جملو څخه جوړه او يه جمله دبلې سره لفظي اومعنوي رابطه لري اوهره يوه جمله ځان ي خصوصيات هم لري.»

ښاغلي محمدالله «لطیف» په خپل کتاب «دستورزبان درى» په (۷۵) مخ کې لیکلي : « جمله مرکب جمله یرا نامند،که از دو یا بیش از دو جمله ساده ساخته شده باشد .»

همدارنګه پرویز نایل خانلري په خپل کتاب «دستور زبان فارسي» په (۱۳۷) مخ کې لیکي : «جمله مرکب جمله اى است که دوفعل یا بیشتر داشته باشد هر جمله مرکب ازدووجمله ناقص بیشتر ترکیب یافته است . این جمله هاى ناقص معنى یکدىګر را تمام مى کنند.»

ښاغلى سیدخیال بخاري په خپل کتاب «د پښتو صرف ونحو» کې په (۲۶۳) مخ کې دمرکبې جملې تر عنوان لاندې لېکلي:«ځنې جملې داسې وي چې دوه برخې لري اوهره یوه برخه ىې په خپل ځاى یوه جمله وي . دادواړه یوبل سره تړلي وي او یوخاص تعلق لري داسي جملو ته مرکبې جملې واىې .داجملې دارتباط د تورو پواسطه سره یو ځاى شوې وي .»

ښاغلى محمد اعظم ایازي په خپل کتاب (د پښتو نحو) په (۵۶) مخ کې د جمله مرکب تر عنوان لاندې لیکې :« مرکبه جمله وهغې جملې ته واىې چې دوه یازیاتو مستقلو جملو څخه جوړه شوې وي اودیوه ارتباطي حرف پواسطه ىې رابطه پیداکړې وي او د هماغه حرف په نامه سره یادىږي .»

ښاغلي څېړونکي سیدمحى الدین هاشمي په خپل کتاب «صرف ونحوه» کې چې په ۱۳۸۳ ه ش کال کې لیکلى دى د (مرکبې یا غبر ې جملې)تر عنوان لاندې لیکي :« مرکبه یا غبرګه جمله هغه جمله ده چې له دوه یازیاتو ساده جملو څخه جوړه او یوه جمله ىې له بلې سره لفظې اومعنوي اړیکې ولري . خو هره جمله ىې خپلې ځان نې لري .»

که څه هم دمخه مو دغبرګغونډلې په هکله دیو شمیر پوهانو نظرونه راواخستل خو په دوې کې ځنې پدې ټینګار کوي چې غبرګغونډله له دوه ساده غونډلو څخه جوړه شوي او ځنې نورىې بیا دا واىې چې غبرګغونډله له دوو او یا له دووڅخه زیاتو ساده غونډلو څخه جوړیداى شي،خو ترکومه چې

ګرامري څېړنې ښايي داسې څرګندېږي : کومه ډله ګرامر پوهان چې غبرګغونډله کې له دوو څخه زیاتې ساده غونډلې منلای شي هغوی مختلطه یا لې غونډله په خپلو لیکلو اثارو کې نه یادوي او یوا ې په ساده او غبرګغونډلو اکتفا کوي،
مګر دلته یوه خبره دیادونې وړ ده اوهغه داچې که چیر مونږ غبرګغونډلې له دووڅخه زیاتو سادوو غونډلو څخه جوړې کړو نوله یوې خوا به ددې غونډلې په جوړښت کې وډي راشي او له بلې خوا به ورته حدود او چوکاټ نه شو ټاکلای او هم به دمرکبي او مختلطې جملې مفهوم او ترکیب سره وډ شي .
ددې لپاره چې ددې وډیو مخه ونیول شي اوغبرګغونډلې لپاره هم چوکاټ او قاعدې جوړې شي ښه به داوي چې غبرګغونډله له لې (مختلطه ) جمله لومړی سره جلا او بیاتر څېړنې لاندې ونیسو .
غبرګغونډله له لې غونډلې څخه جلا جولیز جوړښت لري او دهمدې جوړښت له مخې یې شکل او قاعدې سره بیلیږي او معنوي جوړښتونه یې هم دځانته اصولو تابع دي.
غبرګغونډله هغې مرکبې غونډلې ته ویل کیږي چې ددوو ساده یا یوستوو غونډلو څخه جوړه شوې وي او دیو مبتدا اویو خبر پرځای دوه مبتداوې اودوه خبره لري. یا په بله وینا که دیوې پوهنې اومطلب د بشپړتیا یا دوو اړوندو مطلبو د څرګندونې لپاره سره دوې غونډلې په کوم اړیکوییکې (ارتباطي ادات ) غبر ې او ملګرې شي یوه غبرګغونډله مینځ ته راوړي .
لکه دا لاندې غبرګغونډلې:
۱ـ خوشحال خان د پښتنو ترمنځ د اتفاق غوښتونکی ؤ او ټول پښتانه یې سره یو ل .
۲ـ هغه ناروغه دی خو تراوسه ډاکټر ته نه دی ورغلی.
پورتنۍ لومړی غبرګغونډله له دوو ساده غونډلو جوړه شوې ، دوه مبتداوې او دوه خبره لري اود (او) د عطف وربط پواسطه سره تړل شویدي .دوهمه غبرګغونډله هم له دوو ساده یا یوستوو غونډلو څخه جوړه او دوه مبتداوې اودوه خبره لري . او

د( خو) د عطف وربط یا مورفیم پواسطه دواړه ساده غونډلې سره ملګرې شوې دي .

**د غبرګغونډلې ډولونه داړیکوییکو له مخې**

د پښتو ژبې ځینو ګرامر پوهانو غبرګغونډلې په لومړې مرحله کې په دوه برخو ویشلې دي :

١ـ پیوسته مرکبې غونډلې .

٢ـ تابع مرکبې غونډلې

چې بیا وروسته د پورته هر ډول مرکبې غونډلې لپاره ې ډولونه ټاکلي دي ددوی په نظر ددې دوه ډولو غونډلو ترمنځ یوڅه لفظي او معنوي توپیرنشته البته پدې ډول:

**١ـ پیوسته غبرګغونډله:** هغې غبرګغونډلې ته ویل کېږي چې له دوو ساده وو ، متوازنو او خپلواکو غونډلو څخه جوړې شوې وي . اود(او) د عطف وربط پواسطه سره تړل شوی . لکه دا لاندې غونډلې :

١ـ زما زوی اووه کلن دی اولور مې لس کلنه ده .

٢ـ خلک کار کوي او ته چرتونه وهې،

پورتنې دواړه غبرګ غونډلې له دوو ساده غونډلو جوړې او هره برخه ې مبتدا او خبر لري او دغونډلې داوړه برخې یوه څه خپلواکي لري یعنې که سره جلا شي خپله خپلواکي ساتلی شي .په پیوستو غبرګغونډلو کې دعطف وربط مورفیمونه (اړیکوییکي) په درې ډولونو واقع کیږي:

١ـ پرلپسې عطف ربط (او)

٢ـ خلافي عطف ربط (اما،خو،ولې،لیکن)او داسې نور.

٣ـ د جدای‌ې یا جلاوالې عطف وربط( یایا، هم هم ، څه څه ، که که ،یا ،نه نه .)

**۱ـ پیوسته غبرګغونډله د پرله پسې عطف وربط پواسطه سر ه :**

پیوسته غبرګغونډله د پرله پسې عطف وربط (او) پواسطه جوړیږي او پدې ډول غونډلوکې واقعې او پی ی په یوه وخت کې پرله پسې واقع کې ي .لکه دا لاندې غونډلې :

۱ـ لږ وایه او ډیر اوره .

۲ـ یو مړ کیده او بل ئې لور غو ښتله .

۳ـ د بیهوښه پر مخ ئې اوبه وراچولې او ستر ي ئې ر ې کړي .

**تابع مرکبه غونډله**

پخوا مو په پیوستو مرکبو غونډلو کې ولیدل چې له دوو ساده وو او متوازنو غونډلو څخه جوړې شوې وې او یوه ئې بلې ته نه تابع کیدله خو په مرکبو تابع جملو کې یوه ساده جمله دبلې ساده جملې تابع کیږي او یا په بله وینا د ساده جملو ترمنځ د تابعیت مورفیمونه راوړل کیږي.

پدې ډول جملو کې یوه اساسي یا عمده خپلواکه او غونډله بلل کیږي او بله تابع (ناخپلواکه ) یاد تړنې جمله وي چې دعمده جملې تابع وي .

په مرکبو تابع غونډلو کې ساده غونډلې د(که ، چې، کله چې، ځکه چې، ترڅوچې، له دې کبله، ددې لپاره چې، څرنګه چې،) او دا ډول نورو عطف وربطونو یامورفیمونو پواسطه یوه دبل تابع ګرځي .

په تابع مرکبه غونډله کې کیدای شي عمده او تابع غونډله دمرکبې غونډلې په سر ، مینځ او پای کې راشي .

د تابع مرکبو جملو د پیژندلو لپاره لاندې غونډلې په غور سره وګورئ:

۱ـ داسې کتاب اخلم چې ستا خوښ وي .

۲ـ د چا ور مه وهه په نوک ترڅودې ور ونه وهل شي په سوک .

۳ـ زه چې له سفره راغلم مور مې له ډیرې خو په جاموکې نه ځاییدله .

په پورته لومړۍ غونډله کې لومړی ساده غونډله عمده او اساسي اودوهمه ساده غونډله د (چې) د عطف وربط پواسطه تابع غونډله ګرځیدلې ده .
په دوهمه غونډله کې لومړی ساده غونډله عمده او اساسي اودوهمه ساده غونډله تابع غونډله ده چې د(ترڅو) دمورفیمونو یا عطف وربطونو پواسطه دلومړۍ ساده غونډلې تابع ګرځیدلې ده.په دریمه مرکبه تابع غونډله کې لومړۍ ساده غونډله تابع او دوهمه ساده غونډله عمده ده چې د(چې ) پواسطه لومړی ددوهمې ساده عمده غونډلې تابع شویده.

**عمده اوتابع غونډلې**

دا چې دمخه مود عمده او تابع غونډلو یادونه وکړه دلته لازمه بولم چې پدغه عمده اوتابع غونډلو یو څه رڼا واچوم .

**عمده او اساسي غونډله:** په هغو غونډلو کې چې اساسي فکر افاده کیږي عمده غونډله بلل کیږي او داچې عمده غوندله تابع د ځان تابع کوي نو تابع کوونکې هم بلل کیږي

**پیرو او تابع غوندله :** تابع او پیرو غونډله و هغې غونډلې ته ویل کیږي چې ټوله عمده غونډله یاد هغې یوه برخه د ځینو اړخونو له مخې څرګندوي .

او دا غونډله دتابعت دعطف وربطونو یا مورفیمونو پواسطه د عمده غونډلې تابع کیږي نوتابع شوې غونډله هم بلل کېږي .

اوس ددې لپاره چې په یوه مرکبه غونډله کې اساسي اوعمده غونډله او همدارنګه ددې غونډلې پیرو او تابع برخه وپیژنې نولاندې غونډلې په غور سره وګورئ:

۱ـ هارون روغتون ته لاړ چې ډاکټر ی ې معاینه کړي.

۲ـ له دې کبله چې هوښیار او ښه سړی دی دهر چا خوښیږي .

۳ـ دی زیار باسي تر څو اول نمبر شي .

په پورتنې لومړۍ مرکبه تابع غونډله کې (هارون رغتون ته لاړ) عمده غونډله بلل کیږي چې دمرکبې غونډلې په سر

کې راغلې ده اود (چې ) دعطف وربط یا اړیکوییکی پواسطه تابع غونډله (ډاکټر ی‌ې معاینه کړي ) دځان تابع ګرځولې ده .په دوهمه تابع غونډله کې (دهر چا خوښی‌ږي ) عمده ساده غونډله ده چې دې (له دې کبله) اړیکوییکو په وسیله ی‌ې (هوښیار او ښه سړی دی) غونډله د ځان تابع ګرځولې ده او همدا تابع غونډله هم ده ،
په دریمه تابع مرکبه غونډله کې (دی زیار باسي) عمده غونډله ده چې د مرکبې غونډلې په سر کې راغلې ده او د (ترڅو) د عطف وربط پواسطه ی‌ې (ترڅو اول نمبر بریالی شي ) تابع جمله یې دځان تابع ګرځولې ده .
**یاودونه:** که څه هم داډله ګرامر پوهانو نورې ټولې غونډلې د تابع مرکبو غونډلو تر عنوان لاندې راوړې دي او دتابع مرکبې غونډلې تابع ساده غونډله ی‌ې یا د تابع په نامه نومولې اویا ی‌ې هم دمعترضه په نوم یاده کړې ده .
حال داچې معترضه جمله ځان ته اصول او قواعد لري که دا برخه دجملې ویستل شي په اصلي جمله کوم اغیز نه کوي .
**۲ـپیوسته غبرګغونډلې دخلافي عطف وربط (اړیکوییکو) پواسطه سره :**
خلافي عطف وربط لکه څنګه چې له نوم څخه څرګندی‌ږي هغه ساده غونډلې سره نښلوي چې مفهوم یې یو دبل سره تو پیر ولري یا یوه دبلې په مقابل کې ودری‌ږي .لکه دالاندې غونډلې :
۱ـ ته جسماً دلته ی‌ې خو فکر دی بل چیرې دی .
۲ـ دی په خوله یو څه وای‌ې لیکن په زړه ی‌ې بل څه وي.
**۳ـ پیوستې غبرګغونډلې دجدای‌ې یا جلاوالي عطف وربط پواسطه سره :**
په دې ډول غونډلو کې ساده غونډلې د جلاوالې دعطف وربط پواسطه سره یو ځای کی‌ږي او پیوستې مرکبې جملې جوړوي .لکه دا لاندې غونډلې:
۱ـ څه توره تیره وه څه انا ورسته وه .

۲ـ یا زه نه پوهیږم یا ی ې ته غلط وایې.
یادونه: کله کله کیدای شي دوه سا ده غونډلې بې له کوم اړیکوییکی د کامې (،) پواسطه غبرګغونډله جوړه کړي او یا ی ې تر مینځ هیڅ اړیکوییکي نه وي .لکه دالاندې غونډلې:
۱ـ واوره ورو ورو وریده ، هوا هم کراره کرارسړیده .
۲ـ باد میوې راتویولې ، کوچني زر زر ټولولې .
که څه هم پدې ډول غونډلو کې (او) رتلای شي خو حذف شوی دی .د ښاغلي او فاضل استاد پوهاند دکتور مجاور احمد زیار په وینا تابع غبرګغونډلې داړېکوییکو د ډولونو له مخې ډول ډول نومولی شو ، خوڅرنګه چې د پیوستې مرکبې غونډلې اوتابع مرکبې غونډلې څه برخې مو دمخه ولوستلې دپاتې ډولونو ی ې په لاندې ډول یادونه کوو:
۳ـ **اړوتې یا شرطي غبرګغونډله :** اړوتې یا شرطي غبرګغونډله هغې غونډلې ته ویل کیږي چې له دوو ساده غونډلو څخه جوړه وي او زیاتر ه لومړنې غونډله ی ې بې واکه (تابع) او دوهمه ی ې خپلواکه (عمده) وي . او دشرط د عطف وربط یا مورفیم پواسطه سره تړلې شوې وي . لکه دالاندې غونډلې:
۱ـ که ته راشي زه به درشم .
۲ـ که شمال نه وي ونه ، نه خوریږي .
۳ـ که علم زده کړې نو به عزت حاصل کړې.
په پورتنیو شرطي غونډلو کې د مرکبو غونډلو لومړۍ برخې بې واکه او دوهمې برخې خپلواکه دي او(که ) پکې د شرط عطف وربط یا وییکي یا مورفیم دی
۴ـ **توسني یا علتي غبرګغونډله :** هغه غبرګغونډلې ته ویل کېږ ي چې دواړه یوستوې غونډلې ی ې دعلت یا توسن وییکو یامورفیمونو پواسطه سره پیوست او یا تړلې شوي وي .لکه دالاندې غونډلې :
۱ـ زه راغلم ځه چې تا بللی وم.
۲ـ خواري کوه چې بریالی شي .

په پورته لومړی غبرګه جمله کې لومړی ساده جمله معلول اودوهمه ساده جمله یې علت بلل کیږي او په دوهمه غبرګه جمله کې لومړی ساده جمله علت اودوهمه ساده جمله معلول بلل کیږي او ( ځکه چې ، چې) پکې دعلت مورفیمونه یا عطف وربطونه دي .

۵ـ **ځرګندنی یا بیاني غبرګغونډله :** چې دویمه غونډله یې دلومړی غونډلې د ځرګندتیا لپاره راغلې وي او د پوښتنې ځواب وواکې .ددغسې ځرګندتیا د ځرنګوالي له مخې دالاندې کوچني ډولونه دیادونې وړ دي:

۱ـ **موخنه یامرامي ځرګندنی غونډله :** چې په عمده یا خپلواکه غونډله کې راغلی مطلب په دوهمه ځیرمه غونډله کې ځرګند شي . لکه :

۱ـ مصطفی ایران ته لاړ ـ چې ځانته کار پیداکړي .

۲ـ زه راغلی یم چې تاووینم .

۲ـ **مهالي ځرګندنی غبرګغونډله:** چې لومړی تابع او بې واکه غونډله ددوهمې عمده اوخپلواکې غونډلې د ځرګند کړي کار او پی ې وخت اومهال ښیې. لکه :

۱ـ چه ته راغلې ـ زه به لاړشم .

۲ـ کله چې ته راغلې ـ زه به لاړشم .

۳ـ زه به هله درشم ـ کله چې تاوغوښتم .

په پورته لومړی او دوهمه غبرګغونډله کې لومړی برخه یا لومړی ساده غونډلې بې واکه او په دریمه غونډله کې دوهمه ساده غونډله بې واکه او لومړی یې خپلواکه ده .

۳ـ **توني یا د ځای ځرګندنې غبرګغونډله:** هغه غونډلې ته ویل کیږي چې بیواکه یا تابع ساده غونډله یې د خپلواکې یا عمده غونډلې لپاره ځای وټاکي .لکه :

۱ـ چې له کومې راغلی یې ـ پرهماغه ځه.

۲ـ چیرې چې اوسې ـ په خوی به دهغو سې.

په پورته دواړو غبرګغونډلو کې لومړۍ ساده تابع غونډلې دي چې دغبرګغونډلې ددوهمې برخې دخپلواکو غونډلو لپاره کې د ځای ځرګندونه کړېده .
**۴ـ و یزه ځرګندنۍ غبرګغونډله :** هغه غبرګغونډلې ته ویل کیږي چې په دواړو ساده غونډلو کې فاعل یا مفعول یو شخص یا و ی وي . لکه :
۱ـ ځوک چې خوب کوي ـ نر کټي به زیږوي
۲ـ ې هغو خوارو ته جنت و وـ ځوک چې له موره دوزخیان پیدا وي .
په پورته داوړو غبرګغونډلو کې فاعل او مفعول (کړند او کړي) دواړه و ي دي چې لومړۍ غبرګغونډله کې لومړۍ ساده جمله تابع او بې واکه او په دوهمه غبرګغونډله کې دوهمه ساده غونډله بې واکه او لومړۍ خپلواکه او عمده جمله ده .
**۵ـ ځیزواله ځرګندنۍ غبرګغونډله:** هغه غبرګغونډلې ته وایې چې داوړه ساده غونډلو کې فاعلین یا مفعولین یو ځیز وي :لکه.
۱ـ ځه چې کرې ـ هغه به ریبې.
۲ـ ځه چې وي ـ هغه به وي .
چې په پورتنیو دواړو غبرګغونډلو کې لومړنۍ بې واکه او دوهمې ې خپلواکې دي . چې په لومړۍ کې فاعل او په دوهمه غبرګغونډله کې فعل راغلی او فاعل نه لري
**۶ـ کړولې یا قیدي ځرګندنۍ غبرګغونډله :** هغه غونډلې ته ویل کې ي چې دواړه ساده غونډلې ې قیدونه ولري .لکه :
۱ـ کله چې شپه پخیده ـ ورو ورو دباندې وتلم .
چې لومړۍ ساده غونډله خپلواکه او دوهمه بې واکه او داوړه قیدونه لري .
**۷ـ پرتلیزه ځرګندنۍ غبرګغونډله :** هغه غونډلې ته ویل کیږي چې ددواړو ساده غونډلو مبتداوې سره پرتله شوې وي :لکه.

۱ـ ځنګه چې غر وي ـ هسې کربوړي .
۲ـ ځنګه چې دی‌ګ وي ـ هسې ټیپر .

په پورته دواړو غونډلو کې مبتداې پرتله شوې دي چې لومړۍ غونډلې تابع او دوهمې خپلواکې دي .

۸ـ **متضاده ځرګندنۍ غبرګغونډله :** هغه غبرګغونډلې ته ویل کیږي چې ددواړو ساده جملو مبتداوې متضادې یامتقابلې وي .لکه:

۱ـ سره لدې چې ناروغ وم ـ بیاهم پوهنځي ته لاړم.
۲ـ هغه چې ژوندی وي ـ مرګ هم لري .

۹ـ **سرغاړې (منصرفه) ځرګندنۍ غبرګغونډله :** هغه غبرګغونډلې ته ویل کیږي چې لومړۍ بېواکه یا تابع جمله بې دلومړۍ خپلواکې یاعمده جملې ځخه سر وغړوي اونور ځه زیات ځرګند کړي .لکه :

۱ـ ځومره چې هارون ګرم دی ـ له هغې زیات مصطفی ګرم دی .
۲ـ چا چې خوړلې وه ـ هغوو بیا هم وخوړله.

۱۰ـ **بشپړانده ځرګندنۍ غبرګغونډله :** هغه غبرګغونډلې ته وای‌ې چې دویمه بیواکه غونډله ی‌ې دلومړۍ خپلواکې غونډلې دمفهوم په بیشپړولوکې مرسته وکړي .لکه:

۱ـ دانسان استعدادونه پراخي کړي ـ چې په پوهه ژوند په واک ازادي کړي .
۲ـ پریتیمانو رحم پکار دی ـ ځکه چې دوی د رحم او شفقت وړ دي.
۳ـ خوشحال نه یوا ې دقلم قهرمان دی ـ چې دتورې قهرمان هم دی

**معترضه غونډله**

دا چې ځینو ګرامرپوهانو معترضه جمله هم په مرکبو یا غبرګغونډلو کې راوړې ده نو لدې امله مونږ هم دلته دهغې یادونه اړینه وبلله .

**معترضه غونډله:** هغې غونډلې ته ويل کيږي چې د څه وضاحت او څرګندتيا لپاره يا کله کله ددوعايه په ډول د بلې غونډلې به منځ کې راوړل کيږي .که چيري دا غونډله له هغه بلې عمده غونډلې وايستل شي بيا هم عمده برخه هغه خپله مانا څرګندولای شي . معترضه غونډله د تل لپاره په قوسونو کې نيول کيږي .لکه پدې لاندې غونډلو کې :
١ـ توريالی کاکا ( خدای دی خوشحاله لري ) ډير ښه سړی دی .
٢ـ هارون ( چې د مال ې دکان لري ) ډير ايمان داره سړی دی .
اوس ګورو چې پدې پورتنيو دواړو غونډلوکې :
١ـ توريالی کاکا ډير ښه سړی دی .دا يوه ساده اصلي يا اساسي غونډله ده او ( خدای دی خوشحاله لري ) دامعترضه برخه ده که نه وی نو غونډله خپله مانا افاده کولای شي .
همدارنګه :
٢ـ هارون ډير ايمانداره سړی دی . دا اساسي ساده جمله ده که معترضه يا تابع برخه (چې دمال ې دکان لري) ترې لرې شي بياهم اساسي برخه خپله مانا ساتلای شي .
کله کله داسي هم کيدای شي چې ديوې معترضه غونډلې په مينځ کې بله معترضه غونډله راشي نو پدې صورت کې دا غونډله داسي ليکل کيږي :
هغه [ چې د زړښت له کبله يې څه نه ليدل(خدای دی وبښي) ] له موټر سره د ټکر له امله مړ شو.

**دتيربحث پوښتنې**

۱ـ غبرګه يا مرکبه غونډله کومې غونډلې ته وايې؟

۲ـ دغبر ې او مرکبې غونډلې لفظي جوړښت څنګه دی؟

۳ـ دمانا او اړيکوييکو له مخې غبر ې غونډلې څو ډوله دي؟

په لاندې غبرګغونډلو کې هره يوه د خپلو ځان تياوو له مخې ونوموئ؟

۴ـ رحمان بابا په خپلو اشعارو کې نه دچا مدحه کوي او نه ى ې هجوه وايي.

۵ـ له غرونو لويدلی ښه دی نه له زړونو لويدلی.

۶ـ بريالی کورته ولاړ،مور او پلار ى ې وليدل او بيا بيرته خپلې دندې ته ستون شو .

۷ـ څه ژرنده پڅه ده څه غنم لانده دي.

۸ـ کله چې يوه ډله ولاړه شوه بله ډله په ډوډۍ کی‌ښناسته .

۹ـ دی ناروغ دی مګر ماته تر اوسه چا څه نه دي ويلي .

۱۰ـ ای خدايه ! له مونږ. څخه دا بې درده زړونه واخله .

۱۱ـ څه دی بې عقل وو او څه ى ې د شيطان ومنله .

۱۲ـ يا سبا ته ته دلته راشه يا دې ورور راولیږه .

۱۳ـ نه مې د چا مال خوړلی نه مې څوک وژلی دی .

۱۴ـ تورې به لالا وهي مړۍ به عبدالله وهې .

۱۵ـ هغه کتاب چې زه ى ې درته ښايم مطا لعه کوه.

۱۶ـ دوی ددې لپاره چې دنويو شيانو ننداره وکړي نندارتون ته لاړل.

۱۷ـ که زه راغلم خوښ به دې شم .

۱۸ـ دا چې تا بللی وم راغلم .

۱۹ـ زيار باسه چې بريالی شی.

۲۰ـ هغه ښار ته لاړ چې مزدوري ځان ته پيدا کړي.

۲۱ـ کله چې تا وغوښتم در به شم .

۲۲ـ چیرې چې بلل شوی ی‌ې هلته ځه .
۲۳ـ څه ی‌ې چې غوښتل هغه ور ورسیدل .
۲۴ـ چې لړي دې لړه ی‌ې .
۲۵ـ کار هغه کوه چې نورو ته پک‌ې خیر وي .
۲۶ـ ځنګه چې بوټی(ونه) وي هسې میوه .
۲۷ـ سره له دې چې معروف وي بیا هم راځي .
۲۸ـ چا چې مواد اخیستي ؤ بیا ی‌ې هم واخیستل .
۲۹ـ زه سبا (که خیروي) شینوارو ته ځم .
۳۰ـ دزمانې دا عادت دی چې زاړه شیان له کاره باسي .
۳۱ـ ترڅو چې ژوند دی پدې ک‌ې برکت له حرکت څخه دی .
۳۲ـ ښکاره ده چې ایمل خان او شیر خان د تورې قهرمانان ؤ.
۳۳ـ لازمه ده چې هر محصل خپل درسونه ښه زده کړي.
۳۴ـ ډاکټرانو به داویل چه وقایه تر تداوئ وره ده .
۳۵ـ هغه غوښتل چې نحوه ښه زده کړي .

**دریم : ه (امیخته) غونډله**

د ې (امیخته) غونډلې په هکله هم زمونږ د ګرامر پوهانو تر منځ دنظر یوالي نه لیدل کیږي .څوک ی‌ې یو ډول او څوک بل ډول را پیژني . ښاغلی پوهاند دکتور مجاور احمد زیار په خپل درسي کتاب (پښتو پښویه ) ک‌ې تر ې غونډلې دمخه

يو عنوان د ( ه غونډله ) په نامه راوړ ی دی او په دی کې ویلي دي :
« ه غونډله هغه غونډلې ته وایی چې په هغه کې له دوو نه زیاتې غونډلې پرله پیسې راغلې وي او څرګندونې ی‌ې سره یو له بله کوم ډول اړیکې او اړوندي ولري .پدې غونډله کې زیاتره یوه خپلواکه او نورې بیواکه وي .»
همدا فاضل استاد د همدې کتاب په (۲۳۰) مخ کې د پورته مطلب په ادامه لیکي :
«په نئ (محاوره وي) پښتو کې ې غونډلې زیاتره له دوه غبرګ‌غونډلو څخه جوړې وي چې په دې ډول دواړو یوځای شوو غبرګ‌غونډلو کې د آر او څرمه غونډلو شمیر یو پر یو وي .»لکه پدې لنډیو کې :
ښه دی چې ستر ې دی وړې دي ــ که چیرې غټه وی خوړلی به دې ومه
یاره مرې دکوټ زه د تیرا یم ــ ربه کوټ وران کړې چې جوړه تیراه له ځونه
چې همدا نظر محمدالله لطف د خپل کتاب (دستورزبان دری) په (۱۳۶) مخ کې لیکلي او ویلې دي : «جمله مرکب امیخته (مختلط) ان جمله راګویند که از جمله مرکب پیوست و جمله مرکب تابع ترکیب شده باشد . در جمله مرکب امیخته دو جمله ساده مستقل و یا یکی از انها بخود جمله معترضه یا تابع میګردند .باید دانست که جمله مختلط ګروه مستقیل نه بوده بلکی نوعی ازجمله مرکب میباشد .»
د پورتنیو دواړو ګرامر پوهانو تر مینځ داختلاف مهم ټکی داو چې ښاغلي محمدالله لطف مختلط او ه (امیخته) غونډله له یوې خوا په مرکبو غونډلو کې شامله بولي او له بلې خوا په امیخته مرکبه غونډله کې یوه برخه معترضه یا تابع بولي او دې ې جملې ته په کوم جلا بڼه قانع نه دی.
نورڅه علمي او بنسټیز اختلاف ددوی تر منځ د ې غونډلې په اړوند نه لیدل کیږي .

اوس خبر دلته ده چې مونږ باید د فاضل استاد زیار صیب دا خبره ومنو چې ه او له غبرګغونډله دوه بیل او جلا فورمونه دِي .

باید دغونډلو په جولیز جوړښت کې دا توپیر ومنل شي او هره برخه تربیل عنوان لاندې وڅېړل شي نو که مونږ اوس دا کار په همدې ډول سرته ورسوو نو اړ یو چې دمخه دغونډلو جولیز جوړښت او ویش ته تغیر ورکو او دا برخه په څلورو ډولونو وویشو او که چیرې دا کار وشي یا مونږ وکړو ښایي یا ممکن دکوم پوهاند تر اعتراض لاندې راشو .

په هر صورت دا چې یو ضرورت دی او مونږ هم دیته اړه لرو چې دا خبر سپینه کړو نو ځکه ه او له غونډله ترجلا عنوانو لاندې څېړو .

اوس د ې غونډلې د ځرګندتیا لپاره په هغو لنډیو رڼا واچو چې د مخه دمثال یا بیل ې په ډول راوړل شوې دي او وروسته به ېې څو نور مثالونه هم وړاندې کړو .

د ې (آمیخته ) غونډلې شکل

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| پیوسته | + | تابع غبر غوند له | | ه غوند له |

یا داسې:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| تابع غبر غوند له | + | پیوسته غبر غوند له | = | ه غوند له |

**لنډۍ:**

ښه دی چې ستر ې دی وړې دي ــ که چیرې غ ې وای خوړلی به دې ومه

په لومړۍ لنډۍ کې لومړۍ مسره یوه غبرګغونډله یا مرکبه جمله ده چې عمده یا آره غونډله ېې دمخه راغلې ده او

تابع یاځیرمه غونډله وړپسې ده ،په دوهمه مسره کې یوه بله غبرګغونډله یامرکبه جمله راغلې چې تابع یا ځیرمه غونډله کې دمخه راغلې او عمده یا خپلواکه وړپسې راغله ده .او داچې په لومړۍ مسره کې دویمه تابع ځیرمه غونډله د(چې ) د ځرګندنې عطف وربط یا اړیکوییکی پیل شوې نو ټوله لومړۍ مسره یوه ځرګندنې غبرګغونډله بلل کیږي .او داچې دویمه مسره کې لومړۍ ځیرمه په آړ یا شرطي اړیکوییکو پیل شوې نو ټوله دوهمه مسره یوه شرطي یا اړوتې غبرګغونډله ده .
ځرنګه چې دواړه مسرې یاغبرګغونډلې په توسني اړیکوییکو (عطف وربط) ځرګندیږي نویوه ه (آمیخته) غونډله جوړوي .ددې ډول غونډلو نورې بیل ې:
۱ـ هغه وخت چې زه راغلم پلار مې ویده ؤ خو مور مې ویښه وه ځکه چې ماته ستر ې په لار وه .
۲ـ ما دخپل پلار ځخه دنجارۍ کسب زده کړ، خو هغه کار زما له ذوق سره برابر نه ؤ ځکه چې ماد تعلیم سره مینه درلوده او غوښتل مې ښوونځی ولولم .
۳ـ هارون غوښتل چې خلکو سره مینه وکړي خو دمرستې توان ې نه درلوده او ورور کې چې توان درلوده له چاسره مرسته نه کوله .

**ځلورم: لې یا مختلطه غونډله**

لې او مختلطه غونډله هغه ده چې دیوې یوستوې غونډلې په مینځ کې یوه یا زیاتې ځیرمه یا نا خپلواکې غونډلې ورننوتې وي چې دغه راز ځیرمه غونډلو ته منځپې ې (معترضه) غونډلې ویل کې ي .

ددې غونډلو جوړښت داسې دی چې د آرې یا خپلواکې تر مبتدا یا دهغې تر کومې بلې برخې وروسته دهماغه مبتدا په راتباط یوه یا زیاتې غونډلې په ناخپلواک او ځیرمه ډول راشي او دآرې او خپلواکې غونډلې پاتې برخه تر ټولو پای ته راوځي.

که څه هم دا ډول غونډلې په   نې پښتو کې نه کارول کیږي او نه دومره ادبې وي زیاتره په غبرګغونډلو اړول کیږي .ددې غونډلو بیل ې په   نې او لیکنې پښتو کې په لاندې ډول دي:

١ـ زه چې کورته ځم ـ رخصت اخلم .

٢ـ ځلمی چې پرون راغلی ؤ ـ ما ونه لید.

٣ـ ما هغه چې دا وروستی ځل کورته راغلی ؤ ونه لید.

٤ـ خوشحال خټک پخواتر دې چې ګوالیار کې بندي شي ـ له اورنګزیب سره په داسې میړانه ، چې ساری یې نه درلود ـ جنګ وکړ.

دا یوه دوه اړخیزه   لې غونډله ده چې په دې توګه د لومړی آرې یا خپلواکې غونډلې (خوشحال خټک له اورنګزیب سره په میړانه جنګ وکړ) په مینځ کې دوه مینځپې  ې غونډلې   راغلي دي چې لومړی یې ( په ګوالیار کې بندي شي ) مبتدا څرګندوي . چې (خوشحال خټک ) په ګوالیار کې بندي کیدل څرګندوي . او دویمه یې (ساری یې نه درلود) د خبر ( جنګ وکړ) یو کړول یا قید(په میړانه)څرګندوي .

پدې غونډله کې ګورو چې دمبتدا او خبر تر مینځ دوه نورې منځپې  ي یا معترضه جملې راغلي دي . او دمبتدا او خبر ترمینځ یې فاصله زیاته کړیده.که اوس دا غونډله داسې ووایو چې :(دخوشحال خټک ـ پخوا تردې چې په ګوالیار کې بندي شي له اورنګزیب سره یې ـ پداسې میړانه جنګ وکړ چې (ساری یې نه درلود )نو   به دافا صله د مبتدا او خبر په اساسي غونډله کې لږه را لنډه شي او هم به یې مبتدا اوخبر ترمینځ نږدیوالی راشي .

**د پورته بحث پوښتنې**

۱ـ   ه غونډله کومې غونډلې ته وایې د مثال په واسطه یې ځرګندکړئ؟
۲ـ   له غونډله کومې غونډلې ته وایې دمثال پواسطه ځرګنده کړئ؟
په لاندې غونډلو کې   ه او   لې غونډلې په نښه او ونوموئ
۱ـ نن مصطفی څه نا څه خفه ښکاریده څه یې په فکر ګرځیدل او هغه داوو چې یو کار پیدا کړي او څه پیسې لاس ته راوړي.
۲ـ زه یې چې غواړم نه شم کولای چې درس  ولولم او هغه چې کولی شي نه یې لولي.
۳ـ هارون ماشومانو ته شعرونه وایې خوداسې فکر ونه کړي چې شعرونه یې طفلانه دي اولویانو ته خوند نه ورکوي.
۴ـ پروسږه کال ډیر واوره وریده او هغه سبب شوه چې دځمکو حاصل زیات شي اوخلک پرې هوسا شي .
۵ـ ما واوریدل چې دهغوی کور له پیښور ځخه راغلی او اوس په ننګرهار کې اوسي او خپل کارو بار کوي .
۶ـ د کابل له ښاریانو ځخه  دامنیت په خاطر هیله کیږي چې د شپې ګرځیدنې بندیز په نظر  کې ولري .
۷ـ زه سبا که دخدای (ج) رضا وه، څه واقعه پیښه نه شوه او لاره هم خلاصه وه کابل ته ځم.

**اصطلاحات (فرازیالوژیکي واحدونه)**

په پښتو ژبه کې ځیني ټاکلي ترکیبونه شته چې دا ترکیبونه بې له کوم تصرف کولو کارول کیږي او د ژبپوهنې په اصطلاح دغه ډول ترکیبونو ته فرازیالوژیکي ترکیبونه یا آیډیوم (Idioms) وایې، چې په پښتو ژبه کې ورته فاضل استاد دکتور

مجاوراحمد زيار د   نې يا اصطلاح لفظونه استعمال او کارولي دي .
دا   نې او اصطلاحات هغه واحدونه دي چې تعبير ی ې دهر ملت او اولس دخپل ژوندانه د چاپيريال په خصوصياتو (عنعنو ،دودونه ، اخلاقو، روحياتو) پورې اړه لري .دا   نې نه يوازې په خبرو اترو کې کارول کيږي بلکې په ليکلي اثرونوکې هم ترې کار اخستل او په ليکنه کې لويه برخه لري . دابرخه که له يوې خوا لغوي ذخيره زياتوي له بلې خوا ادبي خوند او رن‌ګ هم لري .
په ژبه کې دغه ډول ترکيبونه ځانته جلا او بيل بيل خصوصيات او ځان   تياوې لري او په همدې اساس دا اصطلاحات دنحوې ترکيبونو څخه بيلیږي او فرازيولوژيکي ترکيبونو او اصطلاحاتو په نامه يادیږي .
داچې نحوي ترکيبونه دمخه څېړل شوي نو اوس به ګورو چې دغه ژبني اصطلاحات (Idioms) برسيره پردې چې دسيمانټکس له پلوه څېړل کیږي نو په نحوي لحاظ ی ې څه ډول جوړښتونه بللي او په ژبه کې ی ې ارزښتونه څن‌ګه ارزيابي کولای شو ؟
دا چې داډول ترکيبونه د ژبې خاص او ځان   ي عناصر دي او دډيرې اوږدې زمانې را پديخوا مينځ ته راغلي او په هره ژبه کې ثابت حيثيت لري نوی ې جلا کول او تجزيه يو څه ګران کار دی.
دا اصطلاحات او   نې سمدلاسه په خبروکې نه جوړ   ي بلکې زياتره په جوړه شوي ډول د ويونکو په حافظه کې ساتل کیږي او دضرورت په وخت کې د مطلب د روښانولو لپاره ور څخه کار اخيستل کیږي .
له دې ترکيبونو او   نو څخه زياتره وخت په مجازي اوکنايي مانا کاراخستل کیږي .
خودمخه تردې چې دداډول ترکيبونو بيل ې او مثالونه وړاندې کړود متل او اصطلاح په اساسي توپير يو څه رڼا واچوم .

نن سبا زمونږ د ژبې زياترو ليکوالو اصطلاحات او متلونه سره يو کړي دي او اصطلاحاتو هم دمتلونو ځاى نيولى دى او په زياترو ليکلي کتابونوکې په همدې ډول ځىږل شوي دي.
مګر که چيرې د خپلې ژبې په تاريخ يوه ځه وړاندې نظر واچوؤ او غور پرې وکړو نو دابه راته ځرګنده شي چې پخوا متلونه د اصطلاحاتو په ځير نه ؤ.بلکې دمتل په دواړو برخوکې به يوه ځه هم غږي موجوده وه .لکه :
ژرنده که د پلار ده ـ هم په وار ده
چې وې غواړې په خوله ـ نو وبه ىې خورې په ځه
ځه چې کرې ـ هغه به ريبې
خو نن سبا اصطلاحات هم په متلونو شوي دي او دمتلونو ځاى ىې نيولى دى .لکه :
ترکاڼي د بيزو کار نه دى
کوږ بار تر منزله نه رسىږي . يا داسې نور
دا ډول لفظي جوړښتونه پخوا اصطلاحات بلل کيدل ،ځکه چې په دې ډول لفظي جوړښتونو کې لومړۍ دوه برخي نه شته او دوهم دا چې هم غږي پدوى کې هىځ ارزښت نه لري چې په همدې اساس دا هم اصطلاحات بلل کىږي .چې دډير استعمال له مخه اوس دمتلونو په چوکاټ کې راغلي او معنوي ارزښتونه ىې هم دومره زيات شوي چې دمتلونو ځاى ىې نيولى او دنورو متلونو په شان په ژبه کې کارول کىږي، خو کوم اصطلاحات چې دلته مونږ تر بحث لاندې نيولي داهم دهغه نورو اصطلاحاتو په شان ارزښت لري او ويونکى ىې په همدې غرض ترې کار اخلي .
البته زما داخبره ښايي سل په سلو کې او س رښتيا نه او سي ځکه پدې اصطلاحاتو کې تر اوسه ټولې دمتل ځاى ته ندي وررسيدلي.او دهمدغې اصطلاح په شکل په کار وړل کىږي.
چې زمونږ موخه اوهدف همدغه ډول اصطلاحات دي چې بيل ې ىې دادي :

لور په لوټه اچول یا لور په لوټه تیره کول .
اوښ په بډه منډل ـ اوښ په بډه وهل.
چې پورته دواړې اصطلاحګانې خپله مانا په مستقیمه توګه نه څرګندوي بلکې په دوهم مجازي مانا سره کارول کیږي .چې لومړی ئې د چل فریب او غولولو په مانا استعمالیږي او دوهمه اصطلاح ئې په واقعتونو دسترګو پټولو مانا لري اوهغه څوک چې نور غولوي او یا په ښکاره واقعیت ستر ې پټوي نوخلک دادوه اصطلاحګانې ورته ددلیل اوملامتولو لپاره په خپلو خبرو کې ورته وای ې .
**دفرازیالوژیکي اصطلاحاتو (Idioms) ځان تیاوې**
فرازیولوژیکي اصطلاحات دا لاندې ځان تیاوي او خصوصیات لري :
۱ـ اصطلاحات ثابت ترکیبونه دي اوهره ځان ې اصطلاح یو مفهوم څرګندوي .
۲ـ له کومو الفاظو چې دا اصطلاحات جوړیږي هغه الفاظ او کلمې په دې ترکیب کې خپله مانا نه ورکوي یعنې که چیرې په خپله اصلي مانا دا کلمې مانا شي او یاې تجزیه وشي نو به دا اصطلاح خپله مانا بایلي اوهم به خپل مفهوم دلاسه ورکړي .
۳ـ زمونږ دمخکنی خبرې په تایید پدې برخه کې ځینې متلونه ،اصطلاحات اوحتی دځینو پوهانو خبرې هم راتلای شي .
۴ـ داډول اصطلاحات ټکی په ټکی ژباړل کیدای نه شي ځکه چې دلته الفاظ او کلمې په مجموع کې په خپلې اصلي مانا نه استعمالیږي .
۵ـ دیوې ژبې اصطلاحات د بلې ژبې سره توپیر لري ځکه چې د ژبو دویونکوکلچر او ژوند دود یو له بله توپیر سره لري .
۶ـ په ژبه کې داډول ترکیبونه او اصطلاحات له نورو ترکیبونو څخه په اسانی سره بیلدای شي ځکه چې ددې ترکیبونو خصوصیات له نورو ترکیبونو سره توپیر لري .

۷ـ ددې ډول اصطلاحاتو ګرامري خصوصیات هم د ژبې دنورو لغاتو او ترکیبونو په شان ځیړل کیدای شي .
۸ـ دا ډول اصطلاحات کله کله دمکملو یا پوره او بشپړو جملوپه شان هم کارول کیدای شي .
فرازیولوژیکي اصطلاحاتو یوڅه نورې بیلګې دادي :
ـ په چپ اړخ پاڅیدل.
ـ دلستوې مار.
ـ دبوسو لاندې اوبه تیرول.
ـ زړه لویدل .
ـ زړه سړول.
ـ ابۍ مړه شوه تبه ئې وشلیده .
ـ سپین سترګي کول.
ـ توراو سپین کیدل.
ـ مخ توریدل.
ـ له خوشحالۍ نه په جاموکې نه ځاییدل .
ـ نوک اوروۍ.
ـ لاس وینځل.
ـ زړه ماتیدل .
ـ پ ۍ له سره لویدل ،
ـ او به خړول.
ـ په سترګو کې خاورې اچول .
اوداسې نور.
**دتیر بحث پوښتنې**
۱ـ دمتل او اصطلاح توپیر دمثالو په واسطه څرګند کړئ؟
۲ـ فرازیولوژیکي اصطلاحات کوم خصوصیات اوخان تیاوې لري ؟
۳ـ اصطلاحات دڅه غرض لپاره استعمالیږي ؟
په لاندینو مثالونوکې متلونه او ا صطلاحات سره بیل کړئ:
۱ـ چې غواړې پرې واوړې.
۲ـ پوره ورک دې کړل دوه کوره .
۳ـ لاس په زنې کیښناستل .

۴ـ لړ خوره تل خوره .
۵ـ نوی لاس لرل.
۶ـ غاښونه چیچل .
۷ـ لاسونه مروړل.
۸ـ خاورې په خوله کیدل .
۹ـ آسمان په غونډارو ویشتل .
۱۰ـ دکبر کاسه نسکوره ده .
۱۱ـ سر تندی وهل .
۱۲ـ اوبه په ډانګ بیلول .
۱۳ـ خپله ژبه هم کلا ده هم بلا.
۱۴ـ مه کوه په چا ، چې وبه شي په تا .
۱۵ـ ترځان غ ې خبرې کول .

**د پښتو غونډلو شننه او تجزیه**

کله که مونږ وغواړو چې یوه پښتو غونډله په بنستیز ډول یعنې د لفظي اومعنوي جوړښت له مخې وشنو یا تجزیه کړو نو اړینه ده چې لومړی دلوې غونډلې دجوړښت مورفیمونه او کلمې تر غور لاندې ونیسو کله چې دا برخه پوره څرګنده او واضح شوه وروسته له هغې به دغونډلې نحوي جوړښتونه وګورو او غونډله به دخپلو نحوي ځان تیاوو له مخې تر څیړنې لاندې راولو.تر څو ښاغلي محصلین وکولای شي دغونډلو شننه او تجزیه په بشپړډول ترسره کړي او لارې چارې په ښه ډول زده کړي .

دغونډلو کومه شننه او تجزیه چې مونږ دلته کارولې هغه په همدې اصولو ولاړه ده یعنې مونږ کو کړی چې لومړی د غونډلو مورفیمونه او کلمې په ښه او ونوموو او بیاې نحوي ځان تیاوي .

د بیلګو په ډول لاندې غونډلې به غور سره وګورئ:

١ـ زه ځم | ٢ـ هارون کتاب لولي
ضمیر فعل | نوم نوم فعل
شخصي یو ى | فاعل مفعول یو ى
متلکم فاعل لازمي معلوم | یو ى نارینه
یو ى نارینه متعدي معلوم
یو ى حال زمانه | ځان ى نوم
ټولنوم نوم حال زمانه
مبتدا فعلي خبر | مبتدا پیروبرخه فعلي خبر
ساده ساده ساده .
ساده

ټوله غونډله ساده یا مفرده واله او بیانیه ده ټوله غونډله ساده یا مفرده تفصیلي کړواله او بیانیه ده .

دمخه مو ساده یا مفرده کړواله او ساده تفصیلي کړواله بیاني غونډلې تجزیه او وشنلې دلته به ځو جزلرونکې ساده نوموالە او کړواله غونډله تر غور لاندې ونیسو .

٣ـ مڼې ،انګوراو نوري خوږې میوې په کندهار کې ډیرې دي .

مڼې : ټول نوم ــ ینه
انګور: ټول نوم ــ نارینه
او : عطف وربط ــ پیوستونکی
نورې: نومځرى ــ ناټیک ــ ډیر ى
خوږې: ستاى نوم ــ آرستاینوم
میوې :ټول نوم ــ ینه
په : عطف وربط ــ نا خپلواک مورفیم
کندهار: ځان ى نوم ــ نارینه ــ مفردنوم
کې : عطف وربط ــ .
ډیرې : ستاى نوم ــ عددي ستاینوم

دي : نیم ی فعل ـ .
په پورته جمله کې (م ې ، انګور،نورې) | خوړې میوې | په
کندهار کې ډیرې دي
مورفیمونه څو جز لرونکې مبتدا ده ټاکونکی دی
مکانې قید نومیز خبر دی

ټوله غونډله ساده یا مفرد ، نوموالہ او بیانیه ده .
۴ـ
زه :نومځری ـ متکلم ـ ځان ی ـ فاعل
ته: نومځری ـ مخاطب ـ ځان ی ـ فاعل
او: عطف وربط ـ پیوستوونکی
هغه: نومځری ـ غایب ـ ځان ی ـ فاعل
درې: شمرنوم ـ جمع ـ آرشمیر
واړه: نومځری ـ مبهم
یو: شمیرنوم ـ آرشمیر
ځای: نوم ـ مکانې
ډوډۍ: نوم ـ ټول یا عام نوم ـ بشپړوونکی
خورو: فعل ـ متعدی ـ ډیر ی
په پورته غونډله کې (زه ،ته ،هغه) درې واړه
یوځای ډوډۍ خورو
څوجز لرونکی مبتدا او فاعلي حالت لري ټاکونکی دی
قیدمکاندی فعلي خبردی
پیروی برخه پیروی برخه
ټوله غونډله ساده یا مفرده کړواله او بیانیه ده .
داچې دمخه مو دساده یا بسیطو او مفردو غونډلو شننه او تجزیه ولیده او څه نا څه پرې وپوهیدو نو اوس به غبرګه اومرکبه غونډله تر غور لاندې ونیسو .خو دلته به لومړی پیوسته بیا تابع او ورپسې هغه غبرګه غونډله وڅیړو چې اړیکوییکي یا عطف وربط نه لري او یا د (،) په واسطه او یا دمعنوي اړیکو له مخې کې ساده غونډلې سره تړل کیږي .

۵ـ ښوونکي کتابونه راوړل او زده کوونکو ته ئې ورکړل .
ښوونکي:ټول نوم ــ نارينه ــ مغيره ــ يو ی ــ فاعل مبتدا
کتابونه: ټول نوم ــ نارينه ــ ډير ی ــ ټاکونکی
راوړل: فعل ــ متعدي ــ ډير ی ــ معلوم فعل ــ خبر
او : اړيکوييکي ــ پيوستوونکی
زده کوونکو: ټول نوم ــ مغيره ــ ډير ی ــ بشپړوونکی مبتدا
ته: عطف وربط ــ ناخپلواک مورفيم
ئې: نومځری ــ نا خپلواک ــ اضافي ــ ډبر ي
ورکړل: فعل ــ مطلقه ــ تبره زمانه ــ ډير ي خبر

ټوله نوموړې غونډله يوستوې کړواله بيانيه ده ( او ) اړيکوييکي دي او ټوله دوهمه يوستوې غونډله کړواله بيانيه ده . او په پورته غبرګه جمله کې ليدل کيږي چې له دوه يوستوو اومفردو غونډلو څخه جوړه ده او دواړه غونډلې د (او) دپيوستونکي عطف وربط (اړيکوييکو) پواسطه سره تړل شوي دي ددې غبرګغونډلې لومړې يوستوې غونډله يو مبتدا او يو خبر لري اودوهمه يوستوې غونډله ئې هم يو مبتدا او يو خبر لري .چې که دواړه يوستوې غونډلې سره يوځای کړو يوه غبرګه يا مرکبه غونډله جوړوي چې دوه مبتداوې او دوه خبره به ولري نو ځکه ورته غبرګغونډله يا مرکبه غونډله وايو .

**غبرګه تابع غونډله**

په پيوستو مرکبو غونډلو کې مو وليدل چې يوه يوستوې غونډله بلې ته نه تابع کيدله مګر په غبرګه تابع غونډله کې يوه يوستوې غونډله دبلې يوستوې غونډلې تابع وي او ددواړ يوستوو غونډلو ترمنځ د تابعيت اړيکوييکي راځي .پدې غونډلو کې يوه آره يا خپلواکه او عمده وي او بلې ئې بېواکه ياتړنې غونډله وي .لکه دا لاندې غبرګغونډله :

۶ـ هغه کابل ته لاړ چې خپل ورور ووينې .
هغه: نومځری ــ اشاري ــ غايب نارينه ــ يو ی ــ فاعل ــ ساده مبتدا

کابل: ټول نوم ــ ځان ی ــ نارينه ــ يو ی ــ ټاکونکی ــ پیروبرخه
ته : عطف وربط
لاړ: فعل ــ يو ی ــ معلوم ــ لازمي ــ مطلقه ــ ساده خبر
چې: اړيکوييکي ــ تابعت لپاره
خپل: نومځری ــ اشتراکي ــ . ــ ساده مبتدا
ورور: نوم ــ ټول نوم ــ يو ی ــ بشپړوونکی ــ پیرو برخه
وويني: فعل ــ مطقه ــ يو ی ــ ساده خبر

په پورته غبرګغونډله کې لومړی ساده غونډله خپلواکه يا عمده غونډله ده يوه مبتدا او يو خبر لري ، په دوهمه ساده غونډله کې (خپل ورور ) مبتدا او ( وويني ) خبر دی .
او (چې) اړيکوييکې دي .

ټوله غونډله مرکبه او دوه مبتداوې او هم دوه خبره لري . غونډله کړواله ده او په ځان ې ډول لومړې ساده غونډله خپلواکه ، بياني او دوهمه ی‌ې د مقصد ساده غونډله ده چې د (چې) تابع اړيکوييکي په واسطه دوهمه ، ساده غونډله د لومړی ساده غونډلې تابع شوې ده .

**مرکبه يا غبرګه غونډله بې له عطف وربط څخه**

ځينې غبر ې غونډلې شته چې يوستوې يا ساده جملې ی‌ې بې له کوم عطف وربط څخه سره تړل کیږي او غبرګه غونډله جوړوي .لکه دالاندې غبرګغونډله :
اوړه يو موې نه لري تنور ی‌ې په بام جوړ کړي دي
٧ـ اغونده له له پوره څخه ځغله
اغونده:فعل ــ حال جاري ــ امر دی ــ يو ی ــ ساده خبر
له: ينه نوم ــ ټول نوم ــ يو ی ــ ساده مبتدا
له: عطف وربط
پوره: نوم ــ ټول نوم ــ نارينه ــ ساده مبتدا
څخه: عطف وربط
ځغله:فعل ــ امردی ــــ جاری حال ــــ ساده خبر

په پورتنۍ غبرګغونډله کې ګورو چې دوه ساده جملې بې له اړيکوييکي څخه يو ځای شوي اودواړه د امر ساده جملې دې اوهره ساده امري جمله مبتدا او خبر لري .
يادونه:ـ ځينې ګرامر پوهان وايې چې ددې ساده جملوترمينځ بايد(،) کامه راوړل شي .

**تابع غونډله بې له اړيکوييکی څخه**

په پښتو ژبه کې ځينې داسې تابع غبرګغونډلې شته چې له دوو سادوو يا يوستوو غونډلو څخه جوړې شوي دي خو ددواړو يوستوو غونډلو ترمنځ ی‌ې اړيکوييکي نشته او په اسانۍ سره ی‌ې خپلواکه يا عمده غونډله او تابع غونډله سره جلا او پيژندل کيدای نه شي .
مګر د ګرامر ځينو پوهانو ددې غونډلو د پيژندلو لپاره دوه لارې ټاکلي دي يابه ی‌ې دمعنوي ارتباط له مخې بيلوې او يا به يې د پوښتنې او ځواب په بڼه اړوې او له هغې وروسته به ی‌ې خپلواکه او عمده برخه د بيواکې يا تابع برخې څخه جلا کوئ .
لکه دالاندې غونډلې:
۱ـ درې ور ي دمخه ی‌ې ليدلای ؤ له پلاره سره ی‌ې سپين سترګي کوله.
۲ـ ډاکټران دنده لري د زړه له کومې د رنځورانو خدمت وکړي .

| | |
|---|---|
| ـ درې ور ي دمخه ی‌ې ليدلی ؤ | څه شي ؟ |
| ـ ډاکټران دنده لري . | څه ډول ؟ |

[دا عمده يا خپلواکې غونډلې دي .]
ـ له پلارسره ی‌ې سپين سترګي کوله
ـ دزړه له کومې د رنځورانو خدمت وکړي
[دا تابع غونډلې دي ]
چې په همدې ترتيب ی‌ې نورې بيل ي او نومونې هم ترڅيړنې لاندې نيولی شو .

Download From: AghaLibrary.com

او س که غواړو دا ډول تابع غبرګ‌غونډلې چې اړيکوييکي نه لري تجزيه کړو نو به په لاندې ډول دهغې د تجزې امکانات برابر شي .
۸ـ درې ور ې دمخه ی‌ې ليدلی ؤ دپلار سره ی‌ې سپين سترګي کوله .
درې: آرشمير نوم ـــ ډير ی لپاره
ور ې: نوم ـ ټول نوم ـ ډير ی لپاره
دمخه: قيد ـ زماني
ی‌ې: نوم‌ځری ـ يو ی ـ نا خپلواک
ليدلی: فعل ـ يو ی ـ خبر
ؤ: يو ی ـ ليرې تيره زمانه
له: عطف وربط
پلار: يو ی ـ ټول نوم ـ بشپړوونکی
سره: عطف وربط.
ی‌ې: نوم‌ځری ـ يو ی ناخپلواک
سپين سترګی ـ ستاينوم + نوم = مرکب نوم ـ فاعلي حالت
کوله: فعل ـ متعدي ـ جاري
په پورته غبرګه تابع غونډله کې دوه يوستوې غونډلې شته چې لومړې ساده غونډله خپلواکه يا عمده او دوهمه ی‌ې تابع يا نا خپلواکه ده .
په لومړۍ غونډله کې
درې ور ې = ترکيبي مبتدا
ليدلی ؤ ترکيبي خبر
دمخه ی‌ې = پيرو برخه
په دوهمه ساده غونډله کې
له پلارسره = مبتدا ترکيبي
سپين ستر ې کوله = ترکيبي خبر

Download From: AghaLibrary.com

## اخځليکونه

١ـ زيار،مجاور احمد،پوهاند دوکتور ، پښتو پښويه ، د ژبو او ادبياتو پوهنځی ،کابل ١٣٦٢ل ل کال
٢ـ هلالي عبدالحکيم ، سر څېړونکی ، د پښتو ژبې فونولوژي ، د افغانستان د علومو اکادمي ، د پښتو ژبې او ادبياتو انستيتوت ، کابل ١٣٧٠ ل ل کال
٣ـ خانلري پرويز ناتل . د ستور زبان فارسي ، زبان وادبيات فارسي ، انتشارات بنياد فرهنګ ايران ١٣٥٢.
٤ـ خټک راج ولي شاه ، د پښتو نوې املا ، پښتو اکادمي پښور يونيورسټي ، ١٩٩١ ز کال
٥ـ حميدی عبدالحبيب، دستور زبان دري، د پوهنې وزارت، کابل سال ١٣۴٧ ل ل .
٦ـ بخاري سيد خيال، د پښتو صرف ونحو، يونيورسټي يک اجنسي پېښور ١٩٨٣ ز کال .
٧ـ ربښتين زيور زرغونه، پوهندوی ډاکټر، پښتو نحوه،کابل پوهنتون، ادبياتوپوهنځی ،١٣٦٦ ل ل کال
٨ـ ايازی محمد اعظم ، د پښتو نحوه ، د پوهنې وزارت ، د کابل عمومي مطبعه ،١٣٢٧ ل ل کال.
٩ـ هاشمي سيد محی الدين ، څېړونکی ، د پښتو ژبې لنډ ګرامر (صرف و نحو) ، الازهر خپرونديه موسيسه ، پېښور ، ١٣٨٣ ل ل کال
١٠ـ غزنوي سنا محمد اکبر، دستور زبان دري ،کابل ، ١٣٨١ ل ل کال.
١١ـ ربښتين پوهاند صديق الله، ژبښودنه ، پښتو ټولنه کابل ،١٣۴١ ل ل کال
١٢ـ لطف محمدالله ، دستور زبان دري

Download From: AghaLibrary.com

۱۳ـ یمین محمد حسین پوهاند دکتور ، دستور معاصر زبان فارسي دري ، پوهنځی زبان وادبیات ، پوهنتون کابل ۱۳۸۲ ل ل کال
۱۴ـ شیرزاد محمد اقا، دنومځرو نحوي حالتونه، دماستری تیزس، ۱۳۶۶ ل ل کال .

**www.AghaLibrary.com**